LIBRARY OF CONGRESS
0 013 225 984 7

FT MEADE
AMED

د پښتو د ژبې ګرامر

2
- OCT 15
Copy

مؤلف: محمد گل مومند

بلخ: ۱۳۱۷

دپښتو د ژبے لیاره

لیا

پښتو صرف آو نحو

مؤلّف: محمد گل مومند

بلخ: ۱۳۱۷

نورے ژبے زده کول که ده ی کمال

خپله ژبه هېر ول بے کمالی ده

د (صافی) عبد العظیم په اهتمام آولیکلو سره پلاهور کښے چاپ شو

علیاجی عمتبیگم
لائبریری
مدرسہ آغا صاحب
سنہ ۱۹۶۱ء

Momand, Muhammad Gul
Da Pushto da zhabe --

دپښتو د ژبے لیاره

یا

پښتو صرف آونحو

بلخ : ۱۳۱۷

مؤلف : محمد گل مومند.

نورے ژبے زده کول که ده ی کمال * خپله ژبه هیرول بے کمالی ده

د (صافی) عبد العظیم په اهتمام آولیکلو سره، د بلخ د شرکت رښتیالہ خواپه لاهور کښے
طبع آوله بلخه شائع شو

[19 38]

MLCSN 94/1749

93-984273

بسم الله الرحمن الرحیم

مدخل

(ننه توځه ی)

جوته خبره ده چه ملتونه یو دبل څخه په ژبے سره بیلیږی یعنے لرینه ی آو دیر مهم امتیاز د هر یوه ملت همدغه ژبه ده نور خصوصات آو خصوصیات آو پاتے امتیازات آو ممیزات ټول ددغه نه وروسته دی، آو درست ملی ژبے تر اثر آو سیوری لاندے پاتے کیدای شی. نو دیوه ملت ژبه هر څومره چه خلل مینده کی هماغومره ملی خصائص آو خصائل آو نور ممیزه آو صاف ئے خلل مینده کوی.

دیوه ملت په ژبے کښے هر څومره چه دبل ملت ژبه نفوذ مینده کی هماغومره سیاست، اقتصاد، اجتماعیات، ملی اخلاق، ملی اداب، ملی عادات، ملی رسومات آو عنعنات، ټول ملی خصائل آو خصائص، حتے چه ذهنیت، افکار، حسیات آو مدنیت ئے نفوذ مینده

کوی آو ہماغو مره دهغے ژبے دخاوندانو نامرئی بره ی آو غلبه ددغے بلے ژبے پر خاوندانو تأمینوی . آو که دیوه ملت ژبه دبل ملت ژبے ته مغلوبه شوه گنره هغه ملت په دغو پاسنو ټولو خصوصاتو کښے ورته پرشو . علی الخصوص که اقلیتونه هم دهغے ژبے دخاوندانو په دغه ملت کښے وی نو سیاست ، معارف ، مهمے آو گټورے اقتصادی چارے ، لو یه برخه دملی پانګے ، ټوله دهماغه اقلیتونو په لاس لویږی نو په دغه حال کښے تمام هوساتوب آو راحت ، ځواک ، عزت آو مرتبت دهماغو لږ دوی آو درست مشاق آو مزاحم ، ټوله ناهوسایی دهمدغه خوار اکرب بے وزلے ملت وی .

د پرلوی ملت دهماغه لږ و دګنے دپاره به استعمالیږی . دوی به تل سوکرک خوری ، پیټی به وری ، آو هغه نور به خوږ وبی آو ټیکلګی نغری . دوی به بربند ګرځی آو هغوی به وریښمین کالی آغوندی . د دوی به کودی نه وی ، دهغوی به بنګلے ولارے وی . دوی به کله ی نه لری ، دهغوی به بنارونه نه بسیږی . دوی به پلی ګرځی ، هغوی به ګرندی ګادی ځغلوی . هغوی به پرنجلی نالیو ، پرلیندیزو ناستر و ساوو پڅیر ناست آو دوی به مرئی په شان ورته ولار وی آو پروچه ځمکه پر توره خاوره به هم کیناستله ی نه شی .

مرینے تہ بہ ددوی ورمخ وی ، وینے بہ ددوی رژیږی ، ہدوکی بہ ددوی دښکولو
ځلمو خاورے کیږی ، چرچے بہ ہغوی کوی ، گنے ، عزت بہ دہغوی وی لکہ چہ متل دہ ی
(تورہ بہ لالا وھی ، نمری بہ عبداللہ وھی) . پہ عین واکداری کښے بہ بے
واکہ ، پہ عین وطن داری کښے بہ بے وطنہ وی . پہ خپل وطن کښے بہ غریب آو پردیس
وی . شنہ بنرونہ ، شنہ دندونہ بہ دنورو آو تورو غرونہ آو شگلن رغونہ ، وچے میرے
آو سپیرہ داگونہ بہ ددوی وی . پہ خپل وطن کښے بہ محکوم آو ہر گورہ بہ مظلوم وی .
خپل بہ ورتہ پردہ ی شی ځکہ چہ پہ نامہ کہ څہ ہم خپل وی خو افکار ، احساسات ، اقوال ،
اعمال آو افعال ئے ، آغوستہ خوارہ ئے ، ځواک آو ژوندن ئے بشپړ لیا نیمگړہ ی
دپردی آو دبل وی . پہ خبرو بہ سرہ نہ پوہیږی ، کہ وپوہیږی سرہ بہ نہ جوړیږی ،
خوږ بہ ئے نہ دواکیږی نارو غتیا بہ ئے نہ رغیږی . پہ زگیرو وباندے بہ کوتکو نہ
خوری . پہ خپل وطن کښے بہ خوار آو دخپل آو دپردی پہ ستر گو کښے بہ بے مقدار وی .
څہ بہ نشی گڼلای کہ ئے وگڼی نہ بہ ئے شی نغرلای آو څڼلای . زیار بہ ددوی وی ځواک
بہ دنورو . علم آو مدنیت ، ثروت آو عزت بہ دنورو وی آو اصلی وارثان دہغے

خاورے، چه ځمکه ئے ددوی په هډوکو اپه گزونو جگه شوے وی، دځناورو په شان
به گرځی. دځناورو پخپر نه حتے چه دځناورو نه به هم په بد دول سره دنورو دگڼو دپاره
استعمالیږی. دځینو ځناورو به قدر وی خو ددوی به نه وی. دخپل آو دپردی زړه
به پرے سوزی. خلک به ورته دستر گونه ومینے تویه وی. تېښته دے وی خدای ته،
وئے نه گورے آو ورمشے دوغه سے ځای ته.

دغه سے ملت به ورځ په ورځ چوکیږی ترڅو چه محوشی. سره ی چه مری، مرکیدل
آو ساه سپارل چه ئے هم آسانه شی لایوڅه ده ی، خدای دے دهغے مرینے نه
سره ی وساتی چه لاس آو پښے غورځوی آو په آسانه سره ئے ساه نه خیجی.

هرڅه چه وی دملت سعادت، سلامت، عافیت، راحت، عزت، ملی شته
واله ی، هر دول لوړ واله ی، دملی شئونات پاینه. دوطن ساتنه، په عزت آو
هوسا مینے سره ژوندون، په عزت سره مرینه آو دنړی څخه په ښه نامه سره تگ آو نور،
ټول ملی یو والی پورے، ملیته پورے آو هغه هم ملی ژبے پورے ئے اړه لری،
لکه چه پاس ووېل شو که ژبے خلل مینده کړ دغه ټول خلل مینده کوی آو که محوه شوه ټول

محو کیږی آو دهغه ملت نوم آو نښه دنړی دمخ څخه ورکیږی .

ژبه هر څومره چه بشپړه وی دغه خصوصات هم هماغومره بشپړ آو ترامنیت لاندے وی لنده ئے دغه ده ی چه ژبه دملی موجودیت ، هوساتوب آو سعادت ، دلوړ والی آو جګ والی سنه ده .

نو ژبه باید وساتله شی ، وپالله شی ، وروزله شی ، هارته کړله شی ، علمی شی ، ادبی شی ، په هر حیث سره دملت درستوارینو آو احتیا جاتو ته کافی شی .

هوس راشو چه ژبه څنګه ساتله کیږی ؟ ژبه دغه سے ساتله کیږی چه نول لغات آو اصطلاحات ئے قید آو صرفیه آو نحویه قواعد ئے ضبط شی . ادیبان ، عالمان ، پیاوړی آو پوهان نول ئے ساتنے ته ځان اړ وبولی آو متخصصین آو اهل خلک ئے په هارت والی باندے دارینے (احتیاج) آو دزمان داقتضا په موجب کوشش وکړی ، زیار وکاږی آو پرے بږدی چه دخپل دود آو قواعدو په هیندے سره وه وهیله شی آو څوک بے ځایه آو بے اوصوله تصریفات آو تصرفات په کښے وکی . دغه لوی ننګ آو غیرت ده ی .

ننگیالہ ی سرہ ی خپل عزت آو مرتبت، خپل امتیاز آو مزیت پیژنی پہ گنّنے آو
ساتنے باندے ئے پام کوی آو زیارکاږ ی دپردی عزت آو مرتبت، دپردی امتیاز
آو مزیت، پردہ ی آو دبل دہ ی، ہغہ دچا نہ خپلیږی، خپل امتیاز نہ پیژاندل، دبل امتیاز آو
ممیزات خپل گنړل، سرلوی والہ ی پرے کول، پہ ہغہ باندے ځان ښاغلہ ی آو ممتاز
بولل، پہ ساتنے یے ځان سترہ ی کول، بلکہ مال آو سرجارول آو خاورے کول.... دہ ی.
پوہ سرہ ی خپل آو دبل مال پیژنی. دخپل مال گرانښت آو ساتنہ آو پالنہ دپوہے آو
غیرت څخہ وہ ی. دبے غیرت سری مال تہ کہ څوک څہ نقص ورسوی لیائے ښکارہ لیا
پہ غلایوسی آو بوزی لہ بے ہمتی آو بے غیرتی ځینے پسے نہ گرځی، کہ څوک څہ ورتہ
ووائی چہ پسے لارشہ، خپل مال لیائے تاوان واخلہ متجاوز سرہ جگرہ وکہ، ورتہ جزا ورکہ.
(یے بابا) وائی آو یو څو گیلے کوی، نہایت وائی څنگہ ئے کم، آخرہ زمانہ دہ خلق سپین
سترگی شوی حلال آو حرام نہ پیژنی، بے موجبہ پرخلکو باندے تعدا آو ناروا کوی، پردہ ی
مال پہ ناروا سرہ خوری، کہ څہ ووائے بیا خپرے ہم لگوی، پہ جنگ نہ چہ دچا پہ وژلو ہم
ار آو ایسار نہ دی، بلا ورپسے ځمارزاق خدایؐ دہ ی ہغہ بہ پہ آخرت کښے خپلہ جزا وویني.

کہ څوک کوئے تتنے لاندے کی ہم څہ نہ وائی بلکہ خپلہ پلو ورخوشے کی آو دہغہ سړی
پہ کوم چل لیا دړ کے سرہ ورو ورو کوئے آو پہ وروستہ کښے کورخوشے کی آو دبل
گاوندی شی لیا کو دی ووہی . دوغہ سے سړی درست مال خلک خوری ، دپلار آو
نیکہ نہ ورپاتے دولت ، خانی ، عزت ټول تتنے ځی آو دپولی ټک آو دخواست کوندی تہ
کینی ، بیا بہ دپردو وروتہ مندے وہی .

غیرت ، لوړ ہمت ، روغہ پوہہ (عقل سلیم) دغہ نہ منی آو نہ پرېږدی چہ څوک
خپل مال خوشے کی چہ وروست شی ، ورتہ نقصان ورسی آو خلک نے ښکارہ لیا پہ غلایوسی
آو کورتتنے لاندے کی . آو دہ ی دپردو دودی پخوی لیا دپردو ترکنوے لاندے اور
بلوی آو بیا دہغوی سوی آو پاتے شونکی تہ ناست وی آو . . . . پہ شان کوندی څپی .
غیرتمن سرہ ی خپلہ وُچہ دپردی پرلند و ښہ بولی خپل زور دبل ترنوی ښہ گنړی . کہ بل څوک
لندہ لیا نوہ ی ورتہ راوړی نہ ئے منی بلکہ سپکہ ئے بولی . کوشش کوی چہ خپلہ وُچہ
آو خپل زور پہ خپل زیار سرہ لندہ آو نوہ ی آو خپلہ زرہ کو دی کوئی مانړی بنگلہ کی .
دسوی آو پاتے شونکی پہ خورلو آو دبل دکوندی پہ څنلو پہ مجلس کښے دخپل مرښت

د اظهار د پاره بیا آر بزی ویستل آو ښغونه وهل آو د پردی په کالو سرلوی واله ی کول ناپوهی بے همتی، ذلت آو خواری ده.

دغه عمومی ملاحظات دهٔ دژبے په خصوص کښے، خو خبره او بزده شوه په دغه کښے لږ څه د اصل موضوع نه لرے ولو یدم، هوس د خبرے واگه ی بیرته خپلے موضوع خواته گرځوم چه هغه د پښتو ژبے موضوع ده.

ښکاره ده چه د پښتو په باره کښے تر دغه مخکے خورا د یره ناپامی آو بے غوری حتی چه د یر ظلمونه شوی. اما دغه چاکری آو څنگه شوی هغه بیله او بزده خبره ده د غلته ځما مقصد دغه ده ی چه د پښتو ژبه ساتلے شوے نه ده. د پخوانه لږ آثار پاتے دی، کیدای شی چه د یر به وه خو د دننیو آو د باندینیو جگړو په اثر سره به ورک شوی وی دغه آثار چه پاتے دی تقریباً ټول د دغه بزدے زمانے آو دیو څو معدودو نظم آو نثر آثارو څخه عبارت دی چه دغه هم نگه پښتو نه دی بلکه په د یرو کښے ئے بے له معدودو الفاظو آو څو ضمائرو آو ځینو اداتو آو تورو د پښتو نوره څه مهمه برخه نشته. علمی آثار لږ پاتے دی آو هغه هم لکه چه ذکر شو د بزدے آو لندے زمانے دی. لغتونه ئے قید آو صرفیه آو نحویه قواعد ئے

ضبط شوی نه دی .

ماته تر هوسه پورے ددغه سے کوم صرف آو نحوے کتاب پته معلومه نه ده چه پښتانه سړی دے خپل د ډېرو لټلو آو پلټو په اثر لیکله ی وی . د ځینو پردو له خوا که ځینے لیکل شوی دی جو ته ده چه هغه هم سم آو بشپړ نه دی .

د پېښور په دده آو دا باسیند په غاړه کښے د پردو په غوښتنے لیا امر که څه لیکل شوی وی هغه بر سېرن (سطحی) لیکل شوی ځکه چه د زړه له مینے آو د ملیت له اړ مینے څخه د ډېرو لټلو آو پلټلو آو ځان ستره ی کولو په اثر آو نتیجے لیکل شوی نه دی نو نه دغه چه بشپړ بلکه سم آو صحیح هم نه دی . مایو اځے یو د صرف آو نحوے کتاب په اردو ژبے لیدله ی چه هغه هم د پردی په غوښتنے آو د غیر اهل ژبے له خوا لیکل شوه ی آو د څه اهمیت حائز آو د کوم قدر آو قیمت لائق نه ده ی ، په هر حال سره څه د خپلو آو خپلوانو آو د کام آو عزیزانو په منځ کښے یعنے د بوبو پښتنو په چاپېر (محیط) کښے لوی شوه ی نه یم ، نو ځکه ځما معلومات په پښتو کښے له سره بشپړ نه دی . په ور کینے کښے مے پارسو د ېره آو پښتو لږ ه وېلے که وو ایم چه پر ما دغه سے وختو نه راغلی چه په میاشتو څه . چه په کلونو کښے هم ، د پښتو خبرے نه دی

کړی، مبالغه به نه وی؛ د خپلو آو خپلوانو نه لرے د کابل په ښار کښے لوی شوه ی یم.
عزیزانو سره که څه هم نه وه شلیدلے خو د یره ښیگه هم نه وه. هو کښے پښتو مے زده وه
خو لږه، ویلیه ی مے شوه خو د لږو ویلو له لامله کړ کیچو وه، اما وروسته په لوی والی کښے
چه پرے پوه شوم د پښتنو آو خپلو عزیزانو سره مے لاره مینده کړه، پښتو ته مے مخه وکړه
آو خپل معلومات مے څه په کښے د یر کړل خصوصاً د گرانو عزیزانو غښتلو شینوارو پیغور څه
ویښ کړم. که څه هم هوس مے تر یوے درجے پورے اختصاص په کښے میندله ی
آو د یری عزیزان ما متخصص بولی خو ښه پرے پوهیږم چه ځما معلومات په پښتو کښے هغه سے
چه لازم ده ی لا بشپړ نه ده ی. صرف د غو مره ده ی چه ځما کار نیمگړه ی پرے چلیږی.
ځما علمی استعداد هم کافی نه ده ی ځکه تحصیل مے منظم آو مکمل نه وه په هر حال سره پسیره
د همدغه نیمگړتیا آو عجز، خپل همت مے ټیټ کړه ی نه ده ی په جرئت سره د چارے
د اگی (میدان) ته وتله ی غواړم چه علمی آو ادبی خدمت خپلو پښتنو ورونړو ته وکم؛
ځکه چه پښتانه عالمان آو ادیبان د چارے په د اگی آو د گر کښے لږ و نیم. نن ورځ دغه
نیمگړی چو پر ته د یر ضرورت ده ی. نن ورځ د فداکاری ورځ ده ښائی چه ښه لیانا بوده

نامه ته ونه کتل شی آو دلیونی په څېر د ملت چوپړ په ښه نیت آو سم نصب العین و وهل شی
نو دغه ده ی چه پرلوی څښتن مے توکل کړه ی (د سیند) د تألیف نه وروسته
مے د پښتو د صرف آو نحوے په تألیف پېښه وکړه آو خاوند تعالےٰ په خپل لطف آو
کرم سره توفیق راکړ.

دغه کتاب هم په ښه وخت کښے د پښتنو عزیزانو آو د پښتو د شائقینو د استفادے
د پاره تیار شو آو د اګی آو د ګرته وُ ووت. د دغه وخت ښه واله ی دغه ده ی چه د پښتو
نهضت آو خوځېدل په وطن کښے قوت میندله ی آو دغه نظریه چه (ملی امتیاز، ملی شته
واله ی، ملی یو واله ی، ملی لوړ واله ی، د پښتو آو پښتنو الی پالنه آو پاینه، د پښتنو روزنه،
ملی عزت، د پښتانه هوساتوب، د پښتانه سعادت ..... الخ پښتو پورے اړه لری)
مینده شوے، آو دیوے د لے په ککړی کښے ئے ځای نیوله ی آو ورځ په ورځ خپرېږی
آو عمومی کېږی. مخصوصاً د ځلمی اعلیٰحضرت پاملرنه آو پالنه د یره آو د یرا همیت وړده.
نو لوله څرګنده ده چه د شاهانه فرمان په اثر پښتو په درستو مکاتبو کښے جاری شوه آو
غوښتل کېږی چه د معارف درست کتابونه په پښتو واړول شی آو له دغه وروسته

دغه حکم نه کوم چه دغه کتاب سره غلطی آو سهوه نه لری . هر دول چه وی څه چه د پښتو آو پښتنو یو پخوانه ی مین آو خادم یم خان مسعود بولم چه په دغه سے وخت کښے څښتن تعالے جل وعلی ماته د دغه کتاب د تألیف توفیق راکړ هیله کوم چه دغه کتاب د استفادے موجب وګرځی آو د پښتنو آو د پښتو د شائقینو د خوایو کوچنه ی چوپړ وګنړل شی که خدای کول .

دغه هم وایم چه د دغه کتاب په تألیف کښے ځما روکی (محمد قاسمخان "ابراهیم خیل") د یره مرسته راسره کړے آو څه د یر تنے خوښ یم د ده خدمت په دغه کتاب کښے د قدر ور ده ی .

همدغه سے (ملا عبید الله خان صافی) هم په خپل نوبت سره مرسته کړے آو ځینے نور کسان هم چه پښ شوی څه معاونت ئے چه دلاسه کېده کړه ی .

دغه کتاب فضیلت مآب مولوی سید محمو خان د سرشائی د ننګرهار آو فضیلت مآب مولوی محمد وزیر خان پیاروخیل د میدان آو ځینے نور و پښتنو علما صاحبانو هم لیدله ی آو تصدیق ئے کړه ی .

لمرې برخه

صرف

هو الله تعالے

لمری برخه

پښتو صرف

پښتو صرف ـ دغه سے علم دہ ی چه د پښتو د سم وېیلو آو سم لیکلو د پاره اصل کلمات آو د اشتقاق د ول (۱) ئے ښئی .

تور کہ ی (۲) ہغه غگ ته وېیل کېږی چه یو ځل له خولے وه ووځی آو یوه لیا څو تورو آو یوه خوه ځندی (۳) ځینے عبارت وی .

مثلاً : (څه ، آس ، بلخ) یو یو تور کہ ی لری آو (ہالک ، کابل) دوه دوه تور کی لری آو (ننگرہار ، پېښور ، کندہار) درے درے تور کی لری .

---

(۱) دیوے کلمے څخه بله کلمه ویستل په دغه شرط چه لفظاً آو معناً یو د بله سره ورتیا ولری .

(۲) ہجا ، (۳) حرکه .

توره ی (۱)

توره ی : یو څنګاله ی (۲) ده ی چه غګ ته پښیږی د بل غګ څخه چه په پوستوالی لیا کلکوالی دهغه په څېر وی د هماغه څنګالی په واسطه سره بیلیږی .

پښتو توری — د پښتو توری د هری خوئے هماغه توری دی چه په پارسو لیا عربی کښے استعمالیږی خو هغه توری چه د عربی د ژبے مخصوص دی لکه : (ث ، ح ، ذ ، ص ، ض ، ط ، ظ ، ع ، ف ، ق) په پښتو کښے نه استعمالیږی ، نو که چیرے د عربی کومه کلمه په پښتو کښے استعمال شی چه پاسنی توری په کښے وی نو پښتانه د دغه له لامله چه د دوی خپلے مورنی ژبے کښے دغه توری نشته آو وییلای ئے نه شی : ث په س ، ح په الف لیا په ه لیا په خ ، ذ په ز ، ص په س ، ض په د لیا په ز ، ط په ت ،

---

(۱) حرف ، (۲) کیفیت .

ظ په ز ، ع په الف . ف په پ . ق په ک ، ونجوی .

هره کلمه چه د پاسنو لسو تورو څخه (چه عربي ژبے لره مخصوص دی) په کښے دی هغه کلمه به پښتو نه وی ، عربي به وی .

د پښتو په ژبے کښے د ېرش توری چه اشکال ئے په لاندینی د ول سره دی استعمالیږی .

ا ب پ ت ټ ج چ څ ځ خ د د ر ر ز ژ ږ س ش ښ غ ک گ ل م ن ن ر و ه ی .

دغو ته پټۍ لیاد (تورکی توری) وېیل کیږی .

په پښتو کښے د (واو) توره ی د تلفظ په اعتبار دوه رازه ده ی :

مجهول واو ، معروف واو .

۱ــ مجهول واو هغه ده ی چه پوست تلفظ کړشی آو د توری غگ (ږغ) د ېر کلک آو ثقیل څرگند نشی لکه د : مور ، کور ، اوره په کلماتو کښے .

۲ــ معروف واو هغه ده ی چه د توری غگ (ږغ) کلک آو ثقیل

څرگندشي لکه د : لوگه ی ، څومره ، شونده په کلماتو کښې .

په لیکلو کښې که څه هم تر هوسه د دغه تورو بېلتون چا نه ده ی کړه ی مگر ځما په چرت بېلول ئے ورنه بلکه ضروری ښکاری څه پخپل خیال سره دغه سے ورآو مناسب گڼرم چه مجهول واو دپاره دے بر سېره یو لکه ی آو معروف واو دپاره دے بر سېره یو هنمره ولیکله شي .

تنبیه - په پښتو کښې څلور دوله یے گانے دی .

۱ - مطلقه یے ده لکه د : یو ، سره ی ، ځوی ، په کلماتو کښې .

۲ - معروفه یے ده لکه د : چینه ، خنکی ، په کلماتو کښې .

۳ - مجهوله یے ده لکه د : مینه ، ځېږنده (۱) میلمه ، چېرے ، په کلماتو کښې .

۴ - تأنیثی یے ده لکه د : دودی ، نمری ، په کلماتو کښې .

په پښتو کښې توری ډنگالی په اعتبار سره پر دوو برخو بېلېږی : مذکر توری ، مؤنث توری .

---

(۱) منبع ، اولاده .

۱- مذکر توری :

ا، ج، د، د، س، ش، غ، ک، گ، ل، م، ن، نړ، و، ذ، ض، ض، ع، ق .

۲- مؤنث توری :

ب، پ، ت، ټ، چ، څ، ځ، خ، ر، ړ، ز، ژ، ږ، ښ، ه، ی، ث، ح، ط، ظ، ف .

توری په لیکلو کښې پر دوو برخو بېلېږی : یوے ته ئے (ننښلی توری) آو بلے ته نے (نښلی توری) وېل کېږی .

ننښلی توری - هغه توری دی چه په لیکلو کښې د وروستنو توروسره نښلی چه هغه هم (لس) آو دغه دی (ا د ړ س ز ژ ږ و ذ) .

نښلی توری - هغه توری دی چه په لیکلو کښې د وروستنو توروسره نښلی آو هغه د ننښلو توروڅخه پرته

پاتے نور توری دی

دتورو دولونه

توری بے له مذکورو برخو په لاندینو دولونو آوازونو بیلیږی :

سره نږدے توری ، سره لرے توری ، دشوندو توری ، گرندی توری ، دستونی توری ، سره ورته توری .

سره نږدے توری — هغه توری دی چه و توځی (۱) ئے سره نږدے وی لکه : (خ ، ځ) (د ، ډ) (ض ، ظ) .

سره لرے توری — هغه توری دی چه و توځی ئے سره لرے وی لکه: (ب ، خ) (ک م) (س ، و) .

دشوندو توری — هغه توری دی چه په شوندو وهیل کیږی لکه : (ب ، پ ، ف ، م ، و) .

گرندی توری — هغه توری دی چه په وهیلو کښے ئے شوندے آوژ به گرندی شی لکه : (ب ، ر ، ف ، ل ، م ، ن) .

---

(۱) مخرجونه .

دستونی توری ـ هغه توری دی چه په ستونی سره تلفظ کیږی لکه : (ح، خ، ع، غ، هـ، ه) .

سره ورته توری ـ هغه توری دی چه غکونه ئے یو له بله سره د پرورته وی آو هغه هم دغه دی :

ا ء ع هـ

ت ث ط

ث خ س ص

ح خ

ر ړ ل

ژ ږ

د ض

ځ ذ ز ض ظ

ن ښ

چه اته ویشت توری آو په املا کښې د ډېرو گرانیو سبب گرځی چه موږ د
هغه د هیسته کولو د پاره تر یوه ځایه پورے چه کېدای شی په لاندے نیو
لیکو کښې ئے تفصیلات لیکو:

الف — په عربی کښې هغه الف ته چه خوه ځنده ی ولری (همزه) آو هغه
الف ته چه خوه ځنده ی و نه لری الف وائی اما په پښتو کښې د ډېری وخت
د همزه نه مد عادغه شکل (۶) وی آو کله کله د الف پر ځای هم استعمالیږی.
الف دوه د وله ده ی یو لند[1] الف بل و وږد[2] الف.

لند الف هغه ده ی چه سر کښې راځی آو لوړ که ی (۳) والا لیا کوز که ی[4]
والا لیا کږ که ی (۵) والا وی لکه د: (انگر، اوبه، ایندار ه) په کلماتو کښې
اوږد الف هغه ده ی چه اوږد تلفظ کېږی آو د مد نښه پرے (ـ)
لیکله کېږی لکه د: (آبلو څ، آستازه ی، آرتول) په کلماتو کښې.

---

(۱) مقصوره، (۲) ممدوده (۳) فتحه (۴) کسره (۵) ضمه.

هغه لنډ الف که د کلمے په وروسته کښے وی او بز د گنرل کیږی
لکن مدنه پرے لیکل کیږی : رنړا ، ژړا .

که د الف توره ی د کلمے په سر کښے راشی آو ورپسے د (ی) توره ی وی
کله کله ئے د همزه په دول لیکل جائز بلکه مرجح ده ی لکه د (ئیره) په
کلمے کښے آو که منځ کښے راشی نو قاعده ده آو ضرور ده ی لکه د گئیز په کلیمے
کښے . په دغه سے ځایو کښے الف په (ی) هم ونجیده ی شی .

ع — دغه توره ی عربانو لره مخصوص ده ی په پښتو کښے نشته لکه چه مخکښے
ذکر شو په هره کلمه کښے چه دغه توره ی وی هغه کلمه به عربی وی هغه کلمات
چه د عربی نه آخیست شوی وی آو دغه توره ی ولری که په پښتو کښے د دغه
توری پر ځای الف ولیکل شی عیب نه لری آو جائز ده ی .

ه — د یری وخت ځینے خلک دو توځی د بز دے والی په سبب د استعمال
د کثرت آو د تلفظ د سهولت په اثر سره دغه توره ی په الف ونجوی د دغه د بیلولو
د پاره باید د لغت کتاب ته دے مراجعت وشی .

ت ، ٹ — د دغو تورو و توځی سره بږ دے دی هر کله چه پوست تلفظ شی لمړه ی لیکل کیږی : تانده ، تخرگ ، توتکی . آو هر کله چه غوټ تلفظ شی دوه یم لیکل کیږی : ټانټه ، ټغر ، ټوټه ی .

ط — دغه توره ی هم عربانو لره مخصوص ده ی . د پښتو په هغه کلماتو کښے چه د عربی څخه آخیست شوی دی آو دغه توری ولری که د دغه پرځای (ت) لیا (ٹ) ولیکل شی عیب نه لری آو جائز ده ی .

ث ، څ ، س ، ص — لمړه ی آو څلورم عربانو لره مخصوص دی په پښتو کښے نشته په هغه عربی کلماتو کښے چه په پښتو کښے استعمالیږی که د دغو تورو پرځای (س) ولیکل شی عیب نه لری آو جائز ده ی اما د (څ) توره ی د هغه قائمقام نشی کیدلای . دوه یم آو درے یم دواړه پښتو توری دی اما د دغه د پاره چه و پیژاندل شی چه په کوم ځای کښے (س) آو په کوم ځای کښے (څ) استعمالیږی د لغت کتاب باید وکتل شی .

ح ، خ — عربانو لره مخصوص ده ی په پښتو کښے نشته په هغه عربی

کلماتو کښې چه په پښتو کښې داخل شوی آو استعمالیږی لیا استعمال شی که
ددغه توری پرځای (خ) لیا هغه نور ولیکل شی عیب نه لری وژبې دشیوې
سره سم ده ی.

ر، ر، ل — هر چیرته چه غوټ تلفظ کړ شی باید لمړه ی توره ی ولیکل شی ددغو
دتفریق دپاره دې هم دلغت کتاب وکتل شی.

ژ، ږ — دوه یم توره ی چه دغوټې (ژ) غګ لری دپښتنو په دیری
قبائلو کښې نشته یو اځې دکندهار په دده آو دوزیرستان په لته کښې
تلفظ کیږی نور کوم ځای کښې که وی هم لږ ده ی نو ددغو دتفریق دپاره دې هم
دلغت کتاب وکتل شی.

په عمومی دول سره پښتانه ددغه توری پرځای د(ک) توره ی استعمالوی
دهغو کسانو دلوست آو تلفظ دآسانتیا دپاره چه دغوټې (ژ) په دول ئې
تلفظ کوی دلیک دول ئې دغه سې منل شوه ی: مږ، ځمږ، بږلی.

د، د، ض — هر چیرته چه پوست تلفظ شی لمړه ی آو هر چیرته چه غوټ تلفظ

شی دوه یم لیکل کیږی .

درے یم توره ی عربا نو لره مخصوص دوی په پښتو کښے ښه عربی کلمات چه دغه توره ی په کښے وی کله د (د) په ځول آو کله د (ز) په ځول تلفظ کیږی .

په پښتو کښے دوغه پرځای د (د) لیاد (ز) لیکل جائزه ی مگر دغومره پاملرنه غواړی چه هر چیرته چه دلمړی په ځول تلفظ کیږی باید دلمړه ی آوکه دوروستی په ځول تلفظ کیږی باید وروسته ی ولیکل شی .

هغه چه په ځول د (ز) تلفظ کیږی تقریباً لاندینی الفاظ دی :

حضرت ، تضمین ، مضمون ، ضمیر ، قضا ، ضم ، فضا ، مضارع ، مضبط ، مضراب ، ماضی ، مضمضه ، غضب ، بیاض ، موضوع ، بغض ، مرتضیٰ ، قضیه ، ضرابخانه ، رضا ، بیضا ، مریض ، بیضه ، مرض ، امراض ، بعض ، ضیافت ، اضافت ، ضیاء ، روضه ، محضر ، حاضر ، احضار ، فیض ، عارض ، عرض ، غرض ، قبض ، قبضه ، نقض ، تناقض ، ضائع ، ضیاع ، تضرع ، وضع ، فضله ، اضطراب ، حامض ، اضمحلال ،

ضامن، ضمن، ضد، ضرر، ضرب، فضل، افضل، قرض، فرض، وضو، فضیلت.

ځ ذ ز ض، ظ — په پښتو کښې دوه یم آو وروستی دوه توری نشته په عوض د دغو درو تورو د (ز) لیا (ځ) لیکل جائز ده ی. دلمړی آو درے یم توری د بېلو لو د پاره دے د لغت کتاب وکتل شی.

ن، نر — وتوځی ئے سره نږدے دی هر کله چه پوست تلفظ شی باید لمړه ی آو هر کله چه غوټ تلفظ شی باید دوه یم ولیکل شی.

خوه ځندی

توری له خولے ووځی.

د دغه د پاره چه سم ولوستل شی خوه ځندی ورته لازم دی.

د خوه ځند و د تعین آو سم لوستلو د پاره ځینے اشارتونه مقرر شوی چه هغو له خوه ځندی وېیل کېږی چه په عربی (حرکات) ورته وائی.

حرکات په عربی آو پارسو کښے درے آو په پښتو کښے څلور دی. درے

هماغه حرکات دی چه په پاسنیو دواړو ژبو کښې استعمالیږی آو عوام (زور، زیر، پیش) ورته وائی چه له (زبر، زیر، پیش) څخه مأخوذ دی آو مږ (لوړکه ی، کوزکه ی، کږکه ی) ورته وایو. څلورمه حرکه پښتو ژبې لره مخصوصه ده چه مږ (خوځکه ی) ورته وایو. لکه د (گر، پر) په کلما تو کښې (گ، پ) د (ستن، خوه ځند، گربند) په کلما تو کښې (ت، ځ، ب) هر یو خوه ځکه ی لږی.

هر هغه توره ی چه حرکه و نه لری هغه ته ساکن لیا وچ وهیل کیږی.

په عربی آو پارسو کښې پیښه په وچ (ابتداء په ساکن) نشته یعنی لمره ی توره ی هیڅ کله په هیڅ کلیمې کښې ساکن نه وی اما پر خلاف د دغه په پښتو کښې ابتدا په ساکن شته لکه د (ستن، دروند، زړه) په کلمو کښې لمرنی توری ساکن دی په پښتو کښې اجتماع د ساکنینو هم شته لکه د (بلندره) په کلمه کښې چه په معنی د دعوت آو میلمستیا ده نون آو دال دواړه وچ دی بلکه درے ساکنه هم په پښتو کښې یو ځای کیدای شی لکه د (دیرش، څلویښت) په کلمو کښې وروستی درے توری ساکن دی.

حرکات دوه رازه دی : رسمیه حرکات ، حرفیه حرکات .

رسمیه حرکه ـ درسمیو حرکاتو نښے چه له عربی نه آخیستی شوی دی درے دی چه نښے لے ہم دغه سے دی (اَ ، اِ ، اُ) چه لمړه ی آو درے یم اشارتونه پر توری باندے آو دوه یم تر توری لاندے ایښودل کېږی . خو په پښتو کښے په عمومی صورت سره حرکات پر تورونه ایښودل کېږی آو توری لکه چه د حرکے نښه ولری لوستل کېږی . څلورمے حرکے د پاره چه (خو ځکه ی ده ی) تر هوسه پورے کومه نښه نه ده مقرره شوے . خو که دغه سے (ـ) ولیکله شی ښه به وی .

ضوابط

په عربی کښے د کلماتو د لیکلو د پاره بے له حرکو آو سکو نو څه ضوابط آو علامے نورے هم شته چه د (شده ، مده ، وصل ، قطع ، آو حرفیه حرکه) ځینے عبارت دی ځینے د دغو په پښتو کښے هم شته نو ځکه په دغه خصوص کښے په لاندینیو لیکو کښے بیان کېږی :

شدّه — هغے نښے له وایه شی چه د توری د دوه وارے لوستلو د پاره پر تورو باندے ایښودله کېږی دغه هم د عربی څخه آخیسته شوے نښه آو علامه ئے دغه سے ده (ّ) چه پر تورو د پاسه ایښودله کېږی خو په پښتو کښے پر تورو تل نه ایښودله کېږی .

مد — الف توری لره مخصوص ده ی آو دغه سے (ـ) نښه پرے ایښودله کېږی .

وصل
قطع } په پښتو کښے علامے نه لری .

حرفیه حرکه — په پښتو کښے کله کله د لوست د آسانتیا د پاره یا بے له هغه د حرکے پرځای توره ی استعمالیږی چه دغه توری هم (ا ، و ، ه ، ی) دی لمره ی آو درے یم د لوړ کی پرځای استعمالیږی لکه په (راغلای) کښے الف و لام آو په (نسوای کولای) کښے الف د واو آو د لام حرکه جوته وی په (سره ی) آو (منه ی) آو (خوږ) کښے د (ه) توره ی د (ر ، ن ، و)

دتورولورکی جوته وی. په پښتو کښې یو دول کلمات دی چه په وروسته کښې
ئې د (ی) توره ی وی تر دغه پخوا به ئې ددغه سے کلما تو مفرد آو جمع
دواره یو شان لیکل آو تفریق به ئې په حرکا تو سره کاوه لکه: (سری، تللی)
چه په پخوانی رسم الخط سره د مفرد آو جمع د لیکلو دول ئې یو راز وه ی تفریق ئې
دوروستی نه مخکې توری په حرکے باندے کوی یعنے که ئې څوک دوروستی نه
مخکې توره ی په لورکی سره ولولی مراد تنے مفرد آو که ئې په کوزکی باندے ولولی
مدعا تنے جمع وی څو چه ددغه لیک لیدونکه ی آو ددغے کلمے لوستونکه ی
په اصل موضوع پوه نه وی لیا جمله ئوله و نه لولی تفریق ئې ښه نشی کولای. نو که
ددغه سے کلما تو وروستی نه مخکې توری ته په مفرد کښې دلورکی پرځای حرفیه
حرکه یعنے (ه) ورکو تفریق به ئې آسانه شی لکه: (سره ی، تلله ی) جمع به ئې
البته په هماغه پخوانی دول سره لیکل کیږی: (سری، تللی).
د پر همدغه دوه توری د حرکے پرځای استعمالیږی پاتے دوه نور استعمالیږی.
و — د کږکی پرځای استعمالیږی لکه چه د (چوغکه) په کلمے کښې (و) د

(چ) کږ کہ ی جوتہ وی .

ی ـ دکوزکی پرځای استعمالیږی لکہ د (ٹیکیالہ ی ، ایندارہ) پہ کلمے کښے (ی) د (ٹ ، ا) کوز کہ ی جوتہ وی .

دغو څلو رو تورو تہ د (املا توری) ہم وییل کیدہ ی شی .

دحرفیے حرکے استعمال پہ دیری ځایو نو کښے دسم لوستلو دپارہ دیرہ آسانتیا پیښوی مثلاً د (دغسے) پہ کلمے کښے کہ چیرے حرفیہ حرکہ استعمال نشی احتمال لری آو کیدہ ی شی چہ غلط ولوستلہ شی مثلا د (غ) تورہ ی وچ ولوست شی لکہ (دغ سے) اما کہ (دغہ سے) ولیکل شی بل دول نہ لوستل کیږی نو ښائی چہ پہ لیکلو کښے پہ دیری ځایو نو کښے حرفیہ حرکہ (چہ دلوست دپارہ دیر خدمت کوی) ہیرہ نہ کو آو پہ دغہ چہ مخکے لیکلے شوے نہ دہ تعصب ونہ ښیو .

خج

پہ دیری کلماتو کښے دلوستلو آو وییلو پہ وخت کښے دیوہ توری حرکہ دنورو بہ نسبت شدیدہ وی چہ مږ ورتہ (خج) وایو .

دژبے اہل چہ ہغہ لغت استعمالوی ورتہ معلوم وی آو دلوستلو آو وېیلو پہ وخت کے ئے سم لولی آو سم ئے وائی .

څوک چہ دژبے اہل نہ وی لیا دژبے اہل وی خو پہ خپل محیط کښے ئے ہغہ لغت نہ وی آو رېدلہ ی آو لیک ئے ولولی ددغہ لہ لاملہ چہ خج ورتہ څرگند نہ وی ، کېدای شی چہ دخج ځای و ونجوی آو تلفظ ئے دژبے دشیوے سرہ ہېندہ شی .

نو کہ یو پښتون دغہ سے کوم لغت چہ ددہ دژوندانہ پہ محیط کښے مستعمل نہ وی آو پہ بل کام آو کلی کښے مستعمل وی زدہ کوی باید خج باندے ئے پام وکړی آو کہ ئے لیکہ دخج ځای دے پہ نښہ کی چہ بیا وروستہ تېرنہ ووځی آو دخج ځای و نہ ونجوی آو وروستہ ئے غلط و نہ لولی .

ہمدغہ سے کہ څوک پښتون نہ وی آو پښتو زدہ کوی ورتہ ضرورہ دہ چہ پہ دغہ ټکی باندے پام وکړی آو معلمانو لہ ہم ښائی چہ دتعلیم پہ وخت پہ دغہ خصوص کښے پام ولری آو دمتعلم پام ورتہ متوجہ کی .

مږ د (خج) دپارہ دضرب نښہ (×) ټاکو .

علی الخصوص دلغت په کتابونو کښے د (خج) لیکل د ېر ضرور ده ی کنه لغتونه غالباً غلط ولوستل شی.

مثلاً د (پښتنواله) په کلمے کښے خج پر څلورو تورو راتله ی شی، (پرلمړی توری، پر درے یم توری، پر پنځم توری، پر اوم توری) مگر سم آو صحیح دغه ده ی چه (خج) پر (پنځم) توری راشی کنه تلفظ غلطېږی آو دژبے دلهجے سره هېنده واقع کېږی د (خج) په لیکلو کښے باید دغه سے ولیکل شی (پښتنواله) همدغه سے د (اته) په تلفظ کښے که خج پر (لمړی) توری وی دطول دهغه معین مقیاس په معنی ده چه دلاس دنوک نه تر څنګلے پورے وی آو که پر دوه یم توری وی دمعین عدد (ثمان، هشت) په معنی ده.

نو دغلته دمقصد دتعین په نسبت خج لازمېږی.

دتورو وتوځی

دهغو تورو وتوځی چه دپښتو آو نوروژبو په منځ کښے مشترک دی هماغه سے دی لکه چه په پارسو آو نوروژبو کښے دی دهغو دتفصیلاتو څخه په دغه ځای کښے تېرېږ وخوهغه

توری چه پښتولره مخصوص دی دبغوی و توځی په لاندینی د ول سره دی :

د (ٹ) و توځه ی ـ دژبے دڅوکے لاندینۍ برخه دغابنو د ووریو ترشا نښلوله کیږی آو دغګ (بزغ) دویستلو په وخت بېرته کیږی آو د (ت) غګ ویستل کیږی .

د (څ) و توځه ی ـ ژبه د (ت) په و توځی ایښو دله کیږی خو دغګ دویستلو په وخت د (س) غګ ویستل کیږی .

د (ځ) و توځه ی ـ ژبه د (دال) د و توځی پر ځای ایښو دله کیږی خو دغګ دویستلو په وخت د (ز) غګ ویستل کیږی .

د (د) و توځه ی ـ که د (ٹ) د و توځی څخه هغه سے چه هماغه توری کښے بیان شو د دال غګ و ویستل شی دغه توره ی اداکیږی .

د (ر) و توځه ی ـ ژبه مخ بېرته کت کیږی آو په تالو نه نښلوله کیږی بلکه بېله آو بېرته وی خو دغګ ویستلو په وخت دژبے دڅوکے لاندینۍ برخه په ګرندی والی سره د (د) په و توځی لګوله کیږی آو ژر بېرته کیږی آو د

(ر) غگ ویستل کیږی .

د (ږ) وتوځه ی ـ دژبے څوکه دپاسنی وورویو د وروستی برخے ته دیره نږدے شی دواره خواځندے ئے ووریو پورے ونښلی خو دژبے څوکه ننښلی دهمدغے هوا ترے نه ووځی . مگر دغه دکندهار خلکو لره مخصوص ده ی نور وپښتنو کښے دغه توره ی نشته آو په هغوی کښے دغه توره ی دگاپ په څیر تلفظ کیږی .

د (ښ) وتوځه ی ـ د (ښ) وتوځه ی دتالو مخکینی برخه ده د ادا په وخت کښے ئے ژبه پورته کیږی آو دغه سے وضعیت نسی چه هوا دستونی نه ووځی دتالو مخکینی برخه کلکه ونښلی بیا وه ووځی . که دکندهار یا نو دلهجے په دول دغه توره ی اداشی نو دپښتو (ژ) یعنے (ږ) دمخرج نه دشین غگ ویستل کیږی گنره دغه توره ی دخپل استعمال دمحیط په نسبت دوه دوله وتوځی لری آو غگ ئے هم دوه دوله ده ی .

د (ښ) وتوځه ی ددغه توری آو د (س) دتوری وتوره ی یو ده ی په هماغه

دول سره چه د (ر) غګ ویستل کېږی دهمدغه وتوزی څخه که د (نون) غګ وویستل شی دغه توره ی اداکېږی .

دپښتو دلیک دول

پښتو په هغو تورو چه په عربی آو په پارسو کښې استعمالېږی لیکل کېږی آو دپښتو مخصوص اته توری تر دغه پخوا په لاندینی شکل سره لیکل کېدل (ټ ، څ ، ځ ، ډ ، ړ ، ږ ، ښ ، ن .)

دغه څلور رازه یې ګانې (مطلقه یې ، مجهوله یې ، معروفه یې ، تأنیثی یې) تر دغه پخوا په لیکلو کښې چا نه سره بېلولې . که څه هم یو سره ی په دغه دول لیک کښې چه دنوْلو پښتنو دخوا منل شوه ی آونن ورځ هم مستعمل آو مروج ده ی حق نه لری چه ګوتې وه وهی اما که چېرې دغه سې یو اصلاحات چه دلیک د دول اساس ته ضرر و نه رسوی آو دلیک آولوست دپاره آسانیتا راولی آو پښتانه ئې ومنی نابوده به هم نه وی . مثلاً: (ٹ)

تہ چہ لاندے غږونده ی آو پاس دوه لکۍ ورکو ویو خودا ده چه دیوه توری
دپاره دوے نښے بږ دو چه دغه زائده ده آو کله کله لاندینه ی غږونده ی
ئے دځینو اشتباها تو موجب هم گرځی مثلا که چېرے د (ٹ) توره ی
د کلمے په منځ کښے راشی کله کله غږونده ی ئے میم په څېر شی آو د اشتباه
موجب وگرځی که دغه غږونده ی د دوو لکو پرځای ولیکو هم به د دُو لکو د لیکلو
د زیاره څخه خلاص شو آو هم به مو اشتباه له موقع ورکړے نه وی .

د (ځ) توری ته ځینے دوه لکۍ ورکوی یو دخے په څېر پاس پر سر آو بل د جیم
پڅېر په منځ کښے آو ځینے (ح) باندے همزه بږ دی دغه سے (ځ) نو که
چېرے وروسته ی شکل په عمومی د ول سره ومنل شی آو دهغه نه لاس واخیستل
شی د پر به ښه وی .

پښتو لره مخصوص دغوټ دال شکل پخوا تر دغه دغه سے وه چه پوست
دال نه لاندے یو غږونده ی ورکول کېده که دغه سے شی چه عربی رسم الخط
کښے کوږ لکۍ دال غوټ دال لره ، آو سم لکۍ دال پوست دال لره مخصوص

شی نو دغروندی تکلیف به هم لرے شی آو اشتباه به هم چه (د یری وخت دغروندی له لامله پښیږی) له منځه وه ووځی.

پښتو لره مخصوص دغوئے (ر) شکل پخوا تر دغه دغه سے وه چه پستے (ر) لاندے یو غروندہ ی ورکول کیده که دغه سے شی چه عربی رسم الخط کښے مستعمله کوږ لکی (ر) پښتو غوئے (ر) آو سم لکی (ر) دغه بلے لره مخصوصه شی نو دغروندی تکلیف به هم لرے شی آو اشتباه به هم (چه د یری وخت دغروندی له لامله پښیږی) له منځه وه ووځی.

پخوا تر دغه د پښتو دلیک په دول کښے دگاپ تورہ ی به لکه دعربی کاپ لیکل کیده اما دکاپ ترمد لاندے یو غروندہ ی ورکول کیده دغه سے (گ) حال دغه دہ ی چه په پښتو کښے مستعمل گاپ دپارسو دگاپه څخه په تلفظ کښے هیڅ فرق نه لری نو دغه ده چه گاپ لکه نوروژ بوغوندے په دوه مده ولیکل شی لکه د توری تر عنوان لاندے وه وییل شول چه په پښتو کښے یے گانے څلور دی همدغه سے اشکال ئے هم باید بیل شی ترڅو چه لوست آسانه شی نو ددغه

مقصد دپاره مقرر شوه ی چه مطلقه آو معروفه یے که چېرے په وروسته کښے لیایو اځے راشی گردی (یے) ولیکل شی یعنے له ښی خوادے په لیکلو پېښه وشی آو پر کینږه خوادے ختم کړه شی دغه سے (ی) .

مجهوله یے که چېرے دکلمے په وروسته کښے لیایو اځے راشی سمه ولیکله شی یعنے له کینږے خوادے په لیکلو پېښه وشی آو پر ښی خوادے ختم کړه شی دغه سے (ے) .

که چېرے معروفه یے دکلمے په منځ کښے راشی ټکی دے څنگ په څنگ ولیکل شی دغه سے (ـ) لکه د (مینه) په کلمے کښے چه دمحبت په معنی ده .

دمجهولے یے ټکی چه دکلمے په منځ کښے راشی باید لاندے باندے ولیکل شی دغه سے (ـ) لکه د (ېنه) په کلمے کښے چه دکور په معنی ده .

تأنیثی یے لره چه دکلمو په وروسته کښے راځی آو په مخصوص د ول سره تلفظ کېږی (چه تقریباً مشدده وی آو تلفظ ئے په تعلیم اړه لری) باید لکی ورکړه شی دد غه دپاره چه ښو پېژاندل شی آو نورو یے گانو پخېرو نه لوستله شی

دغه سے (ی).

په پښتو کښے ځینے کلمے دی چه په ځینو ځایو کښے دوروستی توری وچ واله ی (سکون) ئے په خوځکی باندے ونجیږی مثلاً په دغه جملے کښے چه (داور څخه ځان ساته) د (اور) دکلمے وروسته ی توره ی چه وچ ده ی په دغه ځای کښے په خوځکی سره لوستل کیږی نو که په دغه ځای کښے دلوست داسانتیا آو دخوځکی داظهار دپاره د (ه) توره ی چه دحرفیو حرکو ځینے ده ی استعمال شی ښه به وی آو سم به ولوست شی: داوره څخه ځان ساته.

که څه هم ترنن ورځے پورے په عمومی دول سره پښتو په عربی رسم الخط لیکلے شوے آو البته عربی رسم الخط ښه آو ښکوله ی ده ی امالږ څه په هغه دول سره ښه لیکل گران دی آو هم د پروخت غواړی آو عربی لیکونکی هم په وطن کښے لږ دی نو ځکه پښتو دلاس په لیکلو سره څه عمومیت نه ده ی میندله ی نو که چیرے پښتو دلاس په لیکلو کښے په نستعلیقی لیک ولیکله شی لیک به ئے آسانه شی.

د پښتو د رسم الخط په خصوص کښې همدغه خپل ملاحظات مې څو کاله مخکې د ېرو پښتنو د رونړو ته اظهار کړی آو لکه کندهار یا نو ورونړو د ېرو هم تر یوې درجې منلی خو بیا هم وړ ده ی چه درست پښتانه په کښې غور آو یوه پرېکړه وکی .

گره (۱)

هر هغه لفظ چه معنی ولری هغه ته (کلمه) وېیل کېږی :

لفظ هغه شی له وېیل کېږی چه د سړی له خولې څخه د وینا (نطق) په دول وه ووځی .

په معنی د الفاظو دلالت په دوه دوله سره دی :

۱ـ وضعی . لکه : ځمکه ، آسمان ، تیږه ، سره ی ، آس ، اوبه ، بوټه ی آو نور .

۲ـ طبیعی . لکه : ټوخه ی ، اټسکه ی ، آو نور غګونه چه پر طبیعی حالا تو دلالت کوی .

کلمه په درې دوله سره ده : نوم (۲) ، کړه (۳) ، توره ی (۴)

---

(۱) کلمه . (۲) اسم . (۳) فعل . (۴) حرف .

اسم — هغه ده ی چه په زمانے پورے اړه ونه لری آو بے له دغه چه څه ورسره مل آو ملګره ی شی خپله معنی وبښی : آهګ ، احمد ، کتاب ، هغه ، خپله ، توره ، سپین ، ځمکه ، آو نور .

فعل — هغه ده ی چه معنی ئے په زمانو اړه ولری : وه واهه ، وهی ، وهئے وهی . آو نور .

اداة — هغه کلمه ده چه په خپله کومه معنی ونه لری آو د اسم یا فعل په مرسته معنی ورکی : په ، کے ، چه خپله معنا وے نه لری مثلاً که (کور) سره راشی معنی لری : په کور ، کور کښے ، آو نور .

لمړی څانګه

اسم

اسم پرڅلورو برخو بیلیږی: (مطلق اسم، صفت، کنایات، مصدر)

لمړه ی څپرکه ی

مطلق اسم

مطلق اسم هغه کلمولره وایه شی چه په زمانے څه اړه ونه لری آو هغه شیان چه په عقل آو خیال آو حس سره پیژاندل کیږی که د باندے موجود وی لیانه وی سری له وښئ آو سره ی پرے پوه کی لکه (انسان، آس، جنت، ملک، عنقا، تریخ، پوست) چه د دغو نه (انسان، آس) د دغه له لامله چه د باندے موجود دی په حس آو عقل پیژاندل کیږی آو (جنت، ملک) یو اځے په عقل آو (عنقا) په خیال آو (تریخ، پوست) په حس سره پیژاندل

کېږی . که د مطلق اسم مدلول د باندے موجود وی یعنے قابل دلمس آ و رویت وی ہغه له (د عین اسم لیا د ذات اسم) وېیل کېږی . لکه : (خاوره ، ځمکه ، تیږه ، ونه) آو که ورچېنرے موجود نه وی ہغه له (د معنی اسم) وېیل کېږی . لکه : (خوږ ، پوهه) .

د جنس اسم — د علم اسم :

مطلق اسم په دوه د وله ده ی . یوه ته ئے (د جنس اسم لیا عام اسم) بل ته ئے (د علم اسم لیا خاص اسم) وېیل کېږی .

د جنس اسم — ہغه ده ی چه اطلاق ئے په ہر یوه د جنس کېدای شی لکه : (سره ی ، ونه ، آو نور) . چه ہر سری له بېلا بېل سره ی آو ہرے ونے له بېلا بېل ونه وېیل کېدای شی .

په بلے عبارے سره ہر ہغه اسم چه گنړه (عدد) منی ہغه د جنس اسم لیا خود عام اسم ده ی لکه پنځه سری ، څلور آسان ، لس خښکی .

علم اسم — ہغه ده ی چه اطلاق ئے خاص پر یوه شی وشی لکه : (بلخ ، ہلمند)

چه هریوه ښارله بلخ آو هریوه نهرله هلمند نه وییل کیږی .

خاص اسم گنړه (عدد) نه منی مثلا پنځه احمد ، آولس کابل نه وییل کیږی

جغرافی اسمالکه (وقطعو ، مملکتو ، ښارونو ، کلو ، والو ، نهرونو ، دندونو ،

غرونو ، ټاپوگانو ، نومونه آو نور) آو دانسانانو نومونه ، دستورو نومونه

لکه : عطارد ، زهره ، آو نور درست دعلم اسمونه دی . که چیرے وجنس اسم

په سر کښے (دغه ، هاغه ، هغه ، هوغه) راوړل شی هغه هم لکه خاص اسم پر معین

فرد دلالت کوی لکه : هغه سړی وه وییل ، دغه آس مخکے شو . یعنے هغه

معلوم سړی وه وییل آو دغه معلوم آس مخکے شو .

داسمائو خاصیت

په اسمائو کښے دوه خاصیتونه دی چه یوه ته ئے (څنگاله[1]ی) آو بل ته ئے (څوواله[2]ی)

وییل کیږی .

---

(۱) کیفیت ، (۲) کمیت .

څنګالدی — په پښتو کښے د نارینه د پاره بیل آو د ښځے د پاره بیل نومونه استعمالیږی. هغه نامه ته چه د نارینه د پاره استعمالیږی (مذکر اسم) آو هغه ته چه د ښځے د پاره استعمالیږی (مؤنث اسم) و ییل کیږی. د مؤنث اسم نښے په پښتو کښے څلور دی:

۱— د (ه) توره ی ده ی چه د اسم په وروسته کښے راځی لکه: ځمکه، ونه، واوره.

تنبیه — ځینے اسمونه شته چه وروسته ی توره ی ئے (ه) وی آو وروستی نه مخکے توره ی ئے خو ځکه ی ولری خو مؤنث نه وی لکه: تره، زړه، لیوه، اوړه، ویښته، میړه آو نور.

پر ته له دغه ځینے نور مذکر اسمونه هم شته چه وروسته ی توره ی ئے (ه) وی آو د وروستی نه مخکے توره ی ئے خو ځکه ی هم نه لری لکه: میلمه، کوربه، خسبه، غوبه، آو نور، مګر دغه سے اسمونه د پر لږ دی.

۲— مجهوله (یے) ده چه د کلما تو په وروسته کښے راځی لکه: تلونکے، شړلے نوے آو نور.

۳ـ تأنیثی یے دہ چہ پښتو ژبے لرہ مخصوصہ دہ آو پہ مخصوص دول آو لہجے سرہ تلفظ کیږی لکہ : دودی ، اوبری ، سپوږمۍ ، نړۍ ، کوڼۍ .

۴ ـ (الف) دہ ی چہ دنومونو پہ وروستہ کښے وی لکہ : ژړا ، خندا ، ملا ، شا ، تا .

القاب لکہ : کاکا ، دادا ، ماما ، لالا ، آو نور مستثنا دی .

تنبیہ ـ دځینو اسمائو پہ وروستہ کښے ځینے نور توری لکہ : و ، ځ ، ن ، ی آو نور لکہ (پیشو ، ورځ ، برستن ، خپلوی) ہم دی چہ ہغہ اسماء دہماغو تورو پہ اعتبار مؤنث گنرل کیږی . مگر حکمونہ ئے پہ دیرو اسمائو شامل نہ وی ددغہ لہ لاملہ تقریباً دسماعی حکم لری نو ځکہ دغلتہ ذکر نشول .

مؤنث دوہ رازہ دی یو (حقیقی) آو بل (غیر حقیقی) .

حقیقی مؤنث ـ ہغہ دہ ی چہ لہ خپلہ جنسہ ځینے مذکرولری لکہ : ښځہ ، اوښہ ، فاطمہ ، مریمہ ، درخو .

غیر حقیقی مؤنث — هغه مؤنث ده ی چه له خپله جنسه ځینے مذکر و نه لری لکه :

ورځ ، وریځ ، ژړا ، ملا .

غیر حقیقی مؤنث — هم دوه رازه ده ی : یو لفظی مؤنث ، بل معنوی مؤنث .

لفظی مؤنث — هغه ده ی چه په وروسته کښے د تأنیث نښه ولری لکه :

دودۍ ، گړۍ ، واوره ، ژړا .

معنوی مؤنث — هغه ده ی چه د تأنیث نښه و نه لری آو مؤنث وگڼل شی لکه : ورځ ، وریځ ، ستن ، زانگو ، پښتو ، بزمنځ ، میچن .

که چیرے دغه دوه توری (ا ، ه) د کلمے په وروسته کښے وی د دغه د پاره چه و پیژاندل شی چه د تأنیث نښے دی که نه ، باید جمع ته ئے وکتل شی که جمع ئے په واو آو مجهولے یے لیا خو دیو اځے په مجهولے یے کېدله د (تأنیث نښے دی) که دغه سے نه کېدله نه دی .

د مؤنث د ساز ولو دود :

په پښتو کښے یو مذکر اسم په لاندینو د ولو نو سره مؤنث کېږی :

۱ــ هرهغه مذکر ساهوا سم چه وروسته ی توره ی (ه) وی آو وروستی نه مخکے توره ی ئے لوړ که ی ولری تأنیث ئے په (ن، ه) سره کېږی:

مذکر	مؤنث
میلمه	میلمنه
کوربه	کوربنه
غوبه	غوبنه
خربه	خربنه
اوښبه	اوښبنه
آسبه	آسبنه

تنبیه ــ دمذکر اسم وروسته ی توره ی چه (ه) ده دو پیلو آو لیکلو د آسانتیا دپاره لرے شوے .

۲ــ هرهغه مذکر اسم چه په وروسته کښے ئے (ی) وی آو د وروستی نه مخکے توره ی ئے لوړ که ی لیا د لوړ کی پرځای (ه، لیا الف) ولری آو نخ

ہم پر ہمدغہ وروستی نہ مخکے توری باندے وی ، وروستہ ی تورہ ی
ئے پہ تأنیثی یے ونجیږی آو دوروستی نہ مخکے توری لوړکہ ی پہ خوځکی
باندے ونجیږی آو کہ د (ھ) لیا (الف) تورہ ی وی لرے کیږی :

مذکر	مؤنث
کمکہ ی	کمکۍ
لیونہ ی	لیونۍ
لالہ ی	لالۍ
وړکہ ی	وړکۍ

۳ — کہ چیرے دیوہ اسم وروستہ ی تورہ ی (ی) آو دہغہ نہ مخکے تورہ ی
لوړکہ ی لیا د لوړکی پرځای (ھ لیا الف) ولری مگر خج پر ہمدغہ وروستی نہ
مخکے توری باندے نہ وی آو ہمدغہ سے کہ فاعل لیا مفعول دیوہ اسم مذکر
وی آو وغوښت شی چہ مؤنث شی نو تأنیث ئے پہ مجہولے ئے سرہ
کیږی :

مذکر	مؤنث
نوه ی	نوے
ملگره ی	ملگرے
تلونکه ی	تلونکے
پاڅهد ونکه ی	پاڅهد ونکے
شر ونکه ی	شر ونکے
شر له ی	شر لے
وهله ی	وهلے

۴ - هر هغه مذکر سا هوا سم چه په وروسته کښے ئے نسبی یے یا نسبی واو وی تانیث ئے په تانیثی یے سره کېږی :

مذکر	مؤنث
شرابی	شرابی
دولی	دولی

خېښو	خېښې
دارو	دارې

مګر د ېرې وخت ځینې پښتانه تأنیث د ېغه اسمائو چه په وروسته کښې نې نسبي واو وي په دغه شان نه کوي بلکه په تأنیث کښې ئې د (ور) والا منسوب اسم مؤنث استعمالوي : مثلاً: د ګېدو مؤنث ته (ګېدوره) آو د خېښو مؤنث ته (خېښوره) وائي.

۵ — هر هغه اسم چه تأنیث ئې په پاسینو څلورو قاعدو سره ممکن نشي په وروسته کښې ئې د (ه) توره ی زیاتېږي آو که د اسم د وروستي نه مخکې توره ی (و) وي حذفېږي.

مذکر	مؤنث
کودګر	کودګره
مل	مله
اوښ	اوښه

پښتون	پښتنه
سپور	سپره
سور	سره

تنبیه — دخوږ، تود، زرعون، په اسمائو کښے د پاسنی اصول په هېندے سره دواو توره ی نه حذفیږی. آو همدغه سے په ځینو اسمائو کښے که د اسم دوروستی نه مخکے توره ی (ی) وی کله کله حذفیږی لکه: شین چه (شنه) آو (تریو) چه (تروه) کیږی.

تنبیه — هغه مذکر اسمونه چه په وروسته کښے ئے الف وی نه مؤنث کیږی بلکه په مذکر آو مؤنث دواړو کښے یو شان استعمالیږی لکه: چاړا سره ی، چاړا ښځه.

څو والدی — د اسم مفرد آو جمع له وییل کیږی.

که یو جنس اسم دیوه شی بیان وکی هغه ته (مفرد) آو که د دیرو شیانو بیان وکی هغه ته (جمع) وییل کیږی.

مفرد اسم په مختلفو اصولو سره جمع کیږی :

الف - د مذکر جمع :

د پښتو د نارینه د جمعے قواعد ځینے یو اځے ساهو آو ځینے یو اځے بے ساه آو ځینے د واړو پورے اړه لری .

هغه قواعد چه ساهو اسمائو پورے اړه لری دغه دی :

۱/۱ - که چیرے وروسته ی توره ی دیوه مذکر اسم (الف) وی په (ی، ا، ن) سره جمع کیږی :

مفرد	جمع
چارا	چارایان
بیرا	بیرایان
میرزا	میرزایان
مولا	مولایان

۲/۲ - هر هغه مذکر ساهو اسمونه چه وروسته ی توره ی ئے (ه) وی آو

دوروستی نه مخکے توره ی ئے لوړکه ی ولری دجمع په وخت کښے ئے وروسته ی توره ی په (الف) ونجیږی آو (ن ، ه) پرے زیاتیږی:

مفرد	جمع
میلمه	میلمانه
کوربه	کوربانه
غوبه	غوبانه
اوښبه	اوښبانه

۳/۳ — هرهغه مذکر ساهو اسمونه چه وروستی توری ئے (و ن) وی لیا د فاعل اسم مخفف دجمع په وخت کښے ئے (واو) په (الف) ونجیږی آو د (ه) توره ی پرے زیاتیږی:

مفرد	جمع
پښتون	پښتانه
شپون	شپانه

اوښبون	اوښبانه
خربون	خربانه

۴/۴ — هغه مذکر ساهو اسمونه چه وروسته ی توره ی ئے (ی) وی آو د هغه نه مخکے توره ی ئے کوزکه ی ولری لیا خود په بل عبارت سره هره هغه کلمه چه په وروسته کښے ئے نسبی (ی) وی په (ا ن) سره جمع کیږی:

مفرد	جمع
نیشئی	نیشیان
چرسی	چرسیان
شرابی	شرابیان
دولی	دولیان

۵/۵ — هغه مذکر القاب چه د مذکر اسم قائمقام وی آو وروسته ی توره ی ئے (الف) وی لیا هغه مذکر القاب آو ځینے صفات چه وروسته ی

تورہ ی ئے (ھ) وی پہ گان سرہ جمع کیږی :

مفرد	جمع
کاکا	کاکاگان
ماما	ماماگان
دادا	داداگان
صاحبزادہ	صاحبزادہ گان
سادہ	سادہ گان

۶/۶ ـ ہغہ منسوب ساہو مذکر اسمونَ چہ وروستہ ی توری ئے (واو) وی پہ (وان) سرہ جمع کیږی :

مفرد	جمع
گیدو	گیدووان
خیٚنو	خیٚنووان

۷/۷ ـ ہغہ ساہو مذکر اسمونہ چہ پہ پاسینو شپږو اصولو سرۂ ئے جمع ممکنہ

نشی یعنے ہغہ نښے چہ پہ پاسینو قواعدو کښے ذکر شوے پہ کښے نہ وی

پہ (ان) سرہ جمع کیږی :

مفرد	جمع
خان	خانان
چرگ	چرگان
لرم	لرمان
منگور	منگوران
اوښ	اوښان
آس	آسان

تنبیہ — د آس جمع چہ ځینے ئے د (آسونہ) پہ دول کوی د قاعدے سرہ ہیندہ دہ.

تنبیہ — د (پسہ، ورارہ، ترہ، نیکہ، ورور، پلار، میرہ، توربور) اسمونہ کہ څہ ہم اسمونہ دی مگر د دغے قاعدے نہ وتلی دی.

۸/۸ - په پښتو کښې حیٔنے مذکر اسمونه شته چه د جمع په وخت کښې ئے دوروستی نه مخکے توری لوړ که ی په خوځکی باندے ونجیږی چه دغه هم په آورېدو پورے اړه لری آو که ښه غور وشی کېدای شی چه کومه قاعده هم ورته مینده شی :

مفرد	جمع
ملخ	ملخ
نارینه	نارینه
کودگر	کودگر

هغه قاعدے چه په ساهو آو بے ساهو اسمونو دواړو پورے اړه لری :

۱/۹ - که چېرے د مذکر اسم او روسته ی توره ی (ی) وی آو د هغه نه مخکے توره ی لوړ که ی ولری لیاد (ه) لیاد (الف) توره ی وی چه هغه هم د لوړ کی اظهار خدمت کوی دغه سے اسمونه په معروفے یے سره جمع کېږی آو د مخکینی توری لوړ که ی په کوزکی باندے ونجیږی ، که دوروستی نه مخکے توره ی

(الف) لیا (ھ) وی لرے کیبزی :

مفرد	جمع
سرہ ی	سری
کرہ ی	گری
کنْورہ ی	کنْوری
غویہ ی	غویی
پیاورہ ی	پیاوری

۲/۱۰ — ہغہ مذکر صفت اسمونہ چہ وروستی نہ مخکے تورہ ی ئے (واو) وی پہ جمع کے ئے (واو) پہ (الف) ونجیبزی آو د اسم پہ وروستہ کے د (ھ) تورہ ی را ورل کیبزی :

مفرد	جمع
سپور	سپارہ
زور	زارہ

کوږ	کاږه
دوس	واسه

تنبیه — ځینے لونیه صفات چه جمع ولری د دغے قاعدے نه وتلی دی آو په لاندینی د ول سره جمع کیږی لکه : سور ، زرغون .

تنبیه — دخوږ آو تود په جمع کښے د تلفظ د سهولت د پاره د پاسنی اصول په هیندے سره د (واو) توره ی په (الف) نه ونجیږی بلکه واو په خپل ځای وی آو الف د واو د توری نه مخکے لیا وروسته راوړل کیږی لکه : خواږه ، تاوده .

۳/۱۱ — په پښتو کښے ځینے مذکر اسمونه شته چه د جمع په وخت کښے ئے دوروستی توری وچ واله ی په خوځکی باندے ونجیږی آو د اسم په وروسته کښے د (ه) توره ی راوړل کیږی چه دغه په آوریدو پورے اړه لری آو که وروسته ښه غور وشی کیداشی چه کومه قاعده هم ورته مینده شی .

مفرد	جمع
زرغون	زرغونه

سور	سر
شین (۱)	شنه
خر	خره
عل	غله
مل	مله

۴/۱۲ — هر کله چه دیوه مذکر اسم په وروسته کښې د (واو) توره ی وی د اسم په وروسته کښې (گان) راوړل کېږی :

مفرد	جمع
ناپو	ناپوگان
بارخو	بارخوگان
مانړو	مانړوگان

هغه قاعده چه یواځې بے ساهو اسمونو پورے اړه لری دغه ده :

(۱) دلته د (ی) توره ی هیسته کېږی .

$\frac{1}{13}$ — کہ د مذکر بے ساہ اسمونو د جمع پہ پاسنیو قاعدو سرہ ممکنہ نشی یعنے ہغہ بیان شوی نسبے پہ کښے نہ وی آو د وروستی نہ مخکے تورہ ی ئے خوځہ کہ ی ولری لیا (الف) لیا (ی) لیا (واو) وی (۱) لیا لورکہ ی ولری (۲) لیا وچ وی نو د دغہ سے اسمونو جمع پہ (ون ہ) سرہ کیږی:

مفرد	جمع
زرہ	زرونہ
ورسک	ورسکونہ
مٹ	مٹونہ
مخ	مخونہ

وہغو اسمونو مثال چہ د وروستی نہ مخکے تورہ ی ئے خوځکہ ی ولری

---

(۱) ہغہ صفتونہ چہ وروستی نہ مخکے تورہ ی ئے (واو) وی د دغے قاعدے نہ وتلی دی لکہ: زرغون، سور آو نور.

(۲) ہغہ اسمونہ چہ وروستی نہ مخکے تورہ ی ئے لورکہ ی ولری د بے ساہ آو ساہو پہ منځ کښے مشترک وی چہ بیلول ئے پہ آوریدو پورے ارہ لری لکہ: سرہ ی، کٹورہ ی. ہمدغہ سے دځینو نباتاتو نومونو لکہ: (توت، ښوون، اغز، آو نور) کہ څہ ہم بے ساہ نومونہ دی مگر د دغے قاعدے پہ موجب نہ جمع کیږی بلکہ ہغہ پہ $\frac{2}{2}$ قاعدے سرہ جمع کیږی لکہ: توتان، اغزان، ښوونان.

مفرد	جمع
گام	گامونه
لاس	لاسونه
ښار	ښارونه
دیوال	دیوالونه
ټیک	ټیکونه
لیچ	لیچونه
ورمیږ	ورمیږونه
خیر	خیرونه
کور	کورونه
ور	ورونه
غوږ	غوږونه
نوم	نومونه

وېغواسمونو مثال چه وروستی نه مخکې توره ی ئے
الف ده ی

وېغواسمونو مثال چه وروستی نه مخکې توره ی ئے
(ی) ده

وېغواسمونو مثال چه وروستی نه مخکې توره ی ئے
(و) ده ی

دهغو اسمونو مثال چه وروستی نه مخکے توره ی ئے

(لورکه ی) ولری

مفرد	جمع
نوْپک	نوْپکونه
کوتک	کوتکونه
تلتک	تلتکونه

دهغو اسمونو مثال چه وروستی نه مخکے توره ی ئے

(وچ) وی

غر	غرونه
پند	پندونه
دند	دندونه
چرت	چرتونه
مروند	مروندونه

ب ـــ دمؤنث جمع :

دمؤنث دجمع قاعدے هم لکه دمذکر ځینے یو اځے ساهو آو ځینے یو اځے بے ساه آو ځینے دوار وپورے اره لری .

دمؤنث ہغہ قاعدہ چہ یو اځے ساہوانو پورے اړہ لری :

$\frac{۱}{۱۴}$ ـ ہغہ مؤنث ساہو اسم چہ وروستی توری ئے (ور) وی دوروستی دوو تورو تر حذف وروستہ (یندے) پرے زیاتیږی.

مفرد	جمع
مور	میندے
ندور	ندریندے
ترور	تریندے
نږور	نږیندے

تنبیہ ـ دخور پہ جمع کښے کہ څہ ہم باید د (و) تورہ ی لرے شی اماد تلفظ دسہولت دپارہ ئے نہ لرے کوی .

تنبیہ ـ د (لور، یور) اسمونہ دپاسنی اصول پہ ہیندے سرہ د (ر) ترلرے کولو وروستہ پښتو نون (نړ) آو مجہولے یے جمع کیږی لکہ :

(لونړے، یونړے) .

د مؤنث د جمع ہغہ قاعدے چہ یو اځے بے ساہو پورے ارہ لری :

$\frac{۱}{۱۵}$ — کہ یو اسم معنوی مؤنث وی یعنے د تأنیث علامہ آو نښہ و نہ لری آو مؤنث وگنرل شی ہغہ اسم پہ مجہولے یے سرہ جمع کیږی :

مفرد	جمع
ورځ	ورځے
وریځ	وریځے
برستن	برستنے

$\frac{۲}{۱۶}$ — ہر ہغہ غیر حقیقی مؤنث اسم چہ وروستہ ی تورہ ی ئے معروفہ یے وی آو مؤنث وگنرل شی لیا نسبی یے وی لیا د نسبت دغہ سے ادات وی چہ وروستہ ی تورہ ی ئے معروفہ یے وی د جمع پہ وخت کښے ئے وروستہ ی تورہ ی پہ تأنیثی یے ونجیږی :

مفرد	جمع
بیاتی	بیاتی

مفرد	جمع
خپلوی	خپلوی
درورګلوی	درورګلوی
غلیمی	غلیمی

دمؤنث دجمع هغه قاعدے چه ساهو آوبے ساه دواړو پورے اړه لری:

$\frac{1}{17}$ - هرهغه مؤنث اسم چه په دروسته کښے ئے د (ه) توره ی چه د تأنیث نښه ده وی آو مؤنث اعتبارشی هغه اسم په مجهولے یے سره جمع کیږی:

مفرد	جمع
ښځه	ښځے
سترګه	سترګے
ونه	ونے
شګه	شګے

تنبیه - چښے اسمونه شته چه دروسته ی توره ی ئے (ه) وی اما

مؤنث نه گنرل کیږی لکه : (تره، زړه، لیوه، اوږه، ویښته، میړه، آونور) هغه په دغه د ول نه جمع کیږی .

۲/۱۸ — هر هغه مؤنث اسم چه وروسته ی توره ی ئے الف آو مؤنث وی هغه دواو آو مجهولے یے (وے) په تورو جمع کیږی :

مفرد	جمع
دوا	دواوے
ژړا	ژړاوے
غوا	غواوے
بلا	بلاوے

۳/۱۹ — هر هغه مؤنث اسم چه وروسته ی توره ی ئے (و) وی په (گانے) سره جمع کیږی :

مفرد	جمع
پیشو	پیشو گانے

بیزو	بیزوگانے
شارو	شاروگانے
ځانگو	ځانگوگانے

تنبیه ـ د (اوے) اسم که څه هم په وروسته کښے دواو توره ی نه لری مگر په (گانے) سره جمع کیږی .

۴/۲۰ ـ هر هغه مفرد مؤنث اسم چه وروسته ی توره ی ئے مجهوله یے وی د جمع په وخت کښے ئے وروسته ی توره ی په مجهولے یے (ی) ونجیږی:[1]

مفرد	جمع
نوے	نوے
تلونکے	تلونکے
شرلے	شرلے
وهلے	وهلے

تنبیه ـ هر هغه اسم چه وروسته ی توره ی ئے (تأنیثی) یے وی هغه

(۱) ځینے په معروفے (یے) ونجوی .

نه جمع کېږی لکه : د ودی ، گړی ، کوچنی ، مرغی ، کوکی د دغه سے اسمونو په وروسته کښے د جمع د پاره د (گانے) د کلمے راوړل غلط ده ی باید تنے د ده وشی .

ځینے اسمونه خلاف د قیاس جمع کېږی خو دغه سے اسمونه د پرنه دی چه د هغوی د پاره د قاعدے بیان وشی لکه د (ځوی ، سکور ، ورور) جمع چه (ځامن ، سکاره ، ورونړه) کېږی .

تنبیه — د اجنبی اسمونو جمع (چه په پښتو کښے نو تلی دی) د پښتو په دود کېږی لکه : پروگرامونه ، ماشینونه .

د جمع اسماء — په پښتو کښے ځینے اسمونه دی چه د جمع علامه آونښه نه لری ، اما جمع گنړل کېږی لکه : اوبه ، اوره ، غنم ، بزدن ، آونور .

د نومونو آووښته :

د پښتو ځینے اسمونه په ځینو ځایو کښے په وېیلو کښے آوړی :

۱ — هغه مفرد اسمونه چه د جمع په (۲ ، ۳ ، ۸ ، ۹ ، ۱۰ ، ۱۱ ، ۱۵ ، ۱۶ ، ۱۷) قاعدو

کښے ذکر شوی د جمع په دول استعمالیږی خو مراد تنے مفرد وی .

۲ـ د جمع اسم په وروسته کښے د (و) توره ی راوړل کیږی ، که د اسم وروسته ی توره ی (ه) لیا (ی) وی (پرته د تأنیثی یے) د (و) توره ی د اسم د دغه وروستی توری پر ځای راځی آو که نه د (و) توره ی د اسم په وروسته کښے زیاتیږی آو د هغه جمع اسمونو څخه چه د جمع په (۲ ، ۳ ، ۱۰) قاعدے کښے بیان شوی الف لرے کیږی .

تبصره ـ کله کله که د جمع اسم په وروسته کښے معروفه (ی) وی هم د ځینو له خوانه حذفیږی بلکه هغه معروفه (ی) د تأنیثی (ی) په دول تلفظ کوی آو په وروسته کښے ئے (و) زیاتوی لکه : په گریو کښے او به نشته . نظر دغے قاعدے ته باید وه وهیل شی چه په گرو کښے او به نشته اما ځینے خلک ئے هغه هم وائی .

تنبیه ـ کله کله د هغه دول اسمونو څخه چه په (و نه) سره جمع کیږی وروستی دوه توری (نه) حذفیږی آو پاتے ئے په همدغه موقع کښے په همدغه معنی سره

استعمالیږی لکه : (کورونه) نظر دغه قاعدے ته باید وه وهیل شی چه (په کورونو کښے دی) مگر ځینے خلک دغه سے هم وائی چه (په کورو کښے دی).

د آو وښتو ځایونه :

الف — هر کله چه یو اسم مضاف الیه واقع شی :

	دلمړی دول یعنے د مفرد جنس اسم مثال	د دوه یم دول یعنے د جمع جنس اسم مثال
۱ :	.	د میرزا یانو
۲ :	د مېلمانه	د مېلمنو
۳ :	د پښتانه	د پښتنو
۴ :	.	د ښځیانو
۵ :	.	د کاکاګانو
۶ :	.	د ګېدووانو
۷ :	.	د اوښانو

٨ :	دلخ	دلخو
٩ :	دسری	دسرو
١٠ :	دسپاره	دسپرو
١١ :	دزرغونه	دزرغونو
١٢ :	.	دپاپوگانو
١٣ :	.	دزسونو
١٤ :	.	دیندو
١٥ :	دبرستنے	دبرستنو
١٦ :	دچلوی	دچلویو
١٧ :	دبنځے	دبنځو
١٨ :	.	ددواوو
١٩ :	.	دپښوگانو
٢٠ :	.	دنوو

ب ـ که دیوه جنس اسم سره د مفعول ادات (د مفعول به نه پرته چه په پښتو کښې معین ادات نه لری او تعریف نے د اسمائو په احوال کښې ذکر شوه ی) راشی :

	د مفرد جنس اسم مثال	د جمع جنس اسم مثال
	دلری دول یعنے	د دوه یم دول یعنے
١ :		میرزایانو ته
٢ :	مسلمانه ته	مسلمنو ته
٣ :	پښتانه ته	پښتنو ته
٤ :	.	ښځیانو ته
٥ :	.	کاکاګانو ته
٦ :	.	ګیدړوانو لره
٧ :	.	خانانو لره
٨ :	ملخ لره	ملخو لره
٩ :	سړی لره	سړو لره

١٠ :	سپاره ځینے	سپرو ځینے
١١ :	زرغونه سره	زرغونو سره
١٢ :	.	ټاپوگانو ځینے
١٣ :	.	زرونو ځینے
١٤ :	.	میندولره
١٥ :	برستنے کښے	برستنو کښے
١٦ :	خپلوی کښے	خپلویو کښے
١٧ :	ښځے کښے	ښځو کښے
١٨ :	.	دواوو کښے
١٩ :	.	پېشوگانو ته
٢٠	.	نووته

ج — که دیوه جنس اسم سره آروونکی توری آو کلمات (څخه، ځینے، لاندے، باندے، پر، پورے، سره، غوندے، پڅېر، په شان، شانته، په راز،

په دول، په دود، تر) راشي:

	دلمړی دول یعنے	دوه یم دول یعنے
	ومفرد جنس اسم مثال	وجمع جنس اسم مثال
١ :	.	میرزایانو څخه
٢ :	میلمانه څخه	میلمنو څخه
٣ :	پښتانه څخه	پښتنو څخه
۴ :	.	نیشیانو لاندے
۵ :	.	کاکاگانو باندے
٦ :	.	پرگیدووانو
٧ :	.	پراوښانو
٨ :	ملخ سره	ملخو سره
٩ :	سړی پورے	سړو پورے
١٠ :	سپاره غوندے	سپرو غوندے

١١ :	زرغونه کښے	زرغونو کښے
١٢ :	.	ٹاپوگانو کښے
١٣ :	.	زرونو کښے
١٤ :	.	میندوسره
١٥ :	ورځے پڅېر	ورځو پڅېر
١٦ :	خپلوی نه	خپلویو نه
١٧ :	سترگے پورے	سترگو پورے
١٨ :	.	دواوسره
١٩ :	.	پېشوگانو غوندے
٢٠ :	.	نووغوندے

د ـــ هر کله چه یو جنس اسم د ماضی صیغے د متعدی فعل فاعل واقع شی :

	دلری دول یعنے ومفرد جنس اسم مثال	دووه یم دول یعنے وجمع جنس اسم مثال
١ :	.	میرزایانو و وهلم
٢ :	میلمانه وربر ولم	میلمنو وربر ولم
٣ :	پښتانه وربر ولم	پښتنو وربر ولم
٤ :	.	نیشیانو و وهلم
٥ :	.	کاکاگانو و وهلم
٦ :	.	گیدو وانو و وهلم
٧ :	.	اوښانو و وهلم
٨ :	ملخ و چیچلم	ملخو و چیچلم
٩ :	سری و وهلم	سرو و وهلم
١٠ :	سپاره و وهلم	سپرو و وهلم
١١ :	غلو و شکولم	علو و شکولم

١٢ :	.	مانړ و گانو پورے ویستم
١٣ :	.	زړ ونو وغوښتل
١٤ :	.	میندو وژړل
١٥ :	ستنے سوره ی کړ	ستنو سوره ی کړ
١٦ :	تربگینۍ ستره ی کړ	تربگینو ستره ی کړ
١٧ :	ښځے وسکونده	ښځو وسکونده
١٨ :	.	بلاوو وهٔ ویړاوه
١٩ :	.	پیشو گانو وشکاوه
٢٠ :	.	تلونکو و وهلم

ه — هر کله چه یو جنس اسم د ماضی صیغے د مخصوص لازمی (ل) والا مصادرو فاعل واقع شی :

	دلمری دول یعنے دمفرد جنس اسم مثال	دووه یم دول یعنے دجمع جنس اسم مثال
١ :	.	ملایانو وژرل
٢ :	میلمانه وخندل	میلمنو وخندل
٣ :	پښتانه وخندل	پښتنو وخندل
۴ :	.	نیشیانو ودانګل
۵ :	.	کاکاګانو وژرل
٦ :	.	ګیدو وانو ودانګل
٧ :	.	اوښانو ودانګل
٨ :	ملخ ودانګل	ملخو ودانګل
٩ :	سړی وخندل	سړو وخندل
١٠ :	سپاره ودانګل	سپرو ودانګل
١١ :	غله ودانګل	غلو ودانګل

۱۲ :	.	مانړو گانو وژړل
۱۳ :	.	.
۱۴ :	.	میندو وژړل
۱۵ :	.	.
۱۶ :	.	.
۱۷ :	ښځے وخندل	ښځو وخندل
۱۸ :	.	غواوو ودانګل
۱۹ :	.	پېشو گانو پخ وهل
۲۰ :	.	تلونکو ونوخل

تنبیه — وجمع د (۱۳، آو ۱۵، آو ۱۶) قاعدے مثالونه ودغه له لا مله چه دغه دول اسماء دخپل بے ساه والی په نسبت د لازمی فعل فاعل واقع کېدای آو په دغه موقع کښے استعمالېدای نه شی نه دی لیکل شوی .

و — هر کله چه یو جنس اسم مستثنا واقع شی :

	دلمری دول یعنے د مفرد جنس اسم مثال	دووه یم دول یعنے د جمع اسم مثال
۱ :	.	بے میرزایانو
۲ :	بے میلمانه	بے میلمنو
۳ :	بے پښتانه	بے پښتنو
۴ :		بے ښیشیانو
۵ :	.	بے کاکاگانو
۶ :	.	بے گیدووانو
۷ :	.	بے اوښانو
۸ :	بے ملخ	بے ملخو
۹ :	بے سری	بے سرو
۱۰ :	بے سپاره	بے سپرو
۱۱ :	بے زرغونه	بے زرغونو

۱۲ :	.	بے ناپوگانو
۱۳ :	.	بے زرونو
۱۴ :	.	بے میندو
۱۵ :	پرته له برستنے	پرته له برستنو
۱۶ :	پرته له خپلوی	پرته له خپلویو
۱۷ :	پرته له ښځے	پرته له ښځو
۱۸ :	.	پرته له دواوو
۱۹ :	.	پرته له پیشوگانو
۲۰ :	.	پرته له وهونکو

تنبیه — د (بے) دنفی ادات هم ده ی نو هر کله چه د نفی په مقصد دغه توره ی دیوه مفرد لیا جمع اسم سره راشی هغلته هم هغه اسم، سم له پاسنی اوصول سره تغیر مینده کوی .

ز — هر کله چه یو جنس اسم منادا واقع شی په دوه یم دول سره آوری .

۱ : یے میرزا یانو

۲ : یے ہیلمنو

۳ : یے پشتنو

۴ : یے نشیانو

۵ : یے کاکاگانو

۶ : یے گیدووانو

۷ : یے خانانو

۸ : یے کودگرو

۹ : یے سرو

۱۰ : یے سپرو

۱۱ : یے غلو

۱۲ : یے مانزوگانو

۱۳ : یے زروتو

۱۴ : یے میندو

۱۵ : . . .

۱۶ : . . .

۱۷ : یے ښځو

۱۸ : یے بلاوو

۱۹ : یے شاروگانو

۲۰ : یے شرلو

تنبیه — جمع د (۱۵، آو ۱۶) قاعدے مثالونه دد غه له لامله نه دی لیکل شوی چه دغه دول اسماء بے ساه دی منادا نه شی واقع کیدای.

تنبیه — ښځه، پښتنه، آو نور که میندہ شی دغه سے اسمونه دنداپه وخت کښے نه آوری بلکه دندا ادات چه مجهوله یے ده په وروسته کښے ئے راځی آو د تلفظ دسهولت دپاره داسم وروسته ی توره ی چه (ه) ده غورځول کیږی مثلاً وییل کیږی چه (یے ښځے، یے پښتنے) دلته دغه گومان چه د آو ښتو قانون

په موجب به دغه سے شوه ی وی سم نه ده ی .

تنبیه ـ ځینے اسمونه چه ذات پورے اړه ولری یعنے صفت نه وی آو وروستی نه مخکے توره ی ئے (واو) وی هر کله چه مضاف الیه لیا مفعول (پرته د مفعول به) واقع شی لیا آړ وونکو تورو آو کلما تو سره راشی روستی نه مخکے توره ی ئے په الف ونجیږی آو په وروسته کښے ئے د (ه) توره ی زیاتیږی لکه : (زنگون) چه (زنگانه) آو (لړمون) چه (لړمانه) آو (ور) چه (وره) آو (لیور) چه (لیوره) کیږی آو نور .

تنبیه ـ هغه دول جمع اسمونه چه مفرد و نه لری آو دا دا تو په زیاتو لو سره جمع شوی نه وی مگر جمع گنړل کیږی (لکه : او به ، غنم ، بږدن ، آو نور) هغه هم په پاسنو حالاتو کښے په پاسنی اصول سره تغیر مینده کوی .

د اسمائو احوال

د اسمائو اته حاله وی :

۱- مجرد، ۲ - مفعول به، ۳ - مفعول الیه، ۴ - مفعول فیه، ۵ - مفعول منه، ۶ - مفعول له، ۷ - مفعول معه، ۸ - مضاف الیه .

۱- مجرد : هغه اسم ده ی چه څه پرے زیات شوی نه وی لکه : کور، کونډ، انګر، ټوپک .

۲- مفعول به : مفعول به په پښتو کښے ادات نه لری .

۳- مفعول الیه : هغه اسم ده ی چه د اسم په وروسته کښے د (ته) ادات زیات شوه ی وی لکه : چاته، ماته، آس ته، کور ته، کونډے ته .

۴- مفعول فیه : هغه ده ی چه د اسم په سر کښے د (په) لیاے په وروسته کښے (کښے) لیا د واړه چه (په) ئے په سر آو (کښے) ئے په وروسته کښے راځی لکه : په کور، کور کښے، په کور کښے، تفصیلات دے په نحو کښے وکتل شی .

۵- مفعول منه - هغه ده ی چه د اسم په سر کښے د (د) لیا (له) آو په وروسته کښے ئے (نه) لیا (ځینے) لیا په سر کښے دلمړی دوه نه یو آو په وروسته کښے دوړستی دوه دوه نه یو راځی لکه : دکوره، له کوره، کور نه، کور ځینے، دکور نه، دکور ځینے،

له کورنه ، له کورځینے .

٦ـ مفعول له : هغه ده ی چه د اسم په وروسته کښے د (د پاره) لیا (لره) ادات زیات شوه ی وی لکه : ستا د پاره ، کاله د پاره ، څکلو د پاره ، مالره ، آسانو لره .

٧ـ مفعول معه : هغه ده ی چه د اسم په وروسته کښے (سره) لیا (باندے) ادات زیات شوه ی وی لکه : ماسره ، کالو سره ، آسانو سره ، تفصیلات دے په نحوے کښے وکتل شی .

٨ـ مضاف الیه : هغه اسم ده ی چه په سر کے ئے د (د) توره ی زیات شوه ی وی لکه : د کوئے ، د کلی .

د زمان اسم

د زمانے آو وخت نومونو ته د زمان اسم وېیل کېږی ، په پښتو کښے د زمان اسم کومه معینه قاعده نه لری بلکه سماعی دی لکه : پېړی کال ، سبز کال ، پرهوس کال (پرهوسبز کال) ، ورم کال ، لاورم کال ، پسرله ی ، اوره ی (دوبه ی) ، منه ی ،

ژمه ی ، میاشت ، تل ، کله ، کله کله ، کله نه کله ، هوس ، پخوا ، بیا ، وروسته ، پسته ، دوخته ، ناوخته ، نن ، پرون ، ورمه ورځ ، لاورمه ورځ ، گیٔز ، بل گیٔز ، خرگیٔز ، رونرگیٔز ، لمرڅریک ، تنکه ی بریزر ، بریزر ، تنکی غرمه ، لوره غرمه ، نیمه غرمه ، لویه غرمه ، غرمه ، ټکنده غرمه ، او وښتے غرمه ، ماپښین ، ماز دیگر ، شپه ، نن شپه ، برائی ، (پرون شپه ، تیره شپه) ، ماښام ، ماس ختن ، لمری شومه ، دوه یمه شومه ، درے یمه شومه ، نیمه شپه ، لمره ی چرگ غگ ، دوه یم چرگ غگ ، درے یم چرگ غگ آو نور .

دمکان اسم

دځای نومونو ته دمکان اسم وییل کیږی :

په پښتو کښے دمکان اسم دیرنشته هغه چه شته دوه رازه دی یو قیاسی بل سماعی ؛ قیاسی دمکان اسم — هغه ده ی چه دځینو اسمائو په وروسته کښے ځینے ادات زیاتیږی هغه هم درے قاعدے لری :

۱— په وروسته کښے دځینو جنس اسمونو په وروسته کښے د (نړه ی) ادات

راورل کیږی لکه : او به نړه ی ، پوکنړه ی ، ئیره نړه ی ، اوره نړه ی ، تو کنړه ی .

۲ ـ د ځینو جنس اسمونو په وروسته کښې (یا نړه) راورل کیږی لکه : وښیا نړه ، آغزیا نړه ، زوزیا نړه ، کوکیا نړه .

۳ ـ د ځینو اسمونو په وروسته کښې (ځ ی) راورل کیږی لکه : ښځه ی ، سمائی د مکان اسم ـ هغه ده ی چه آورېدو پورے اړه لری آو ځانته کومه قاعده نه لری هغه هم دغه دی : پورته ، ښکته ، (کښته) مخکے ، وروسته ، خوا ، ښی خوا ، کینړه خوا ، لور ، پلو ، لمرخاته ، لمرپرېوته ، (لمرلوېده) مروخوا ، (شمال) پښوخوا ، (جنوب) دننه ، دباندے ، شاوخوا ، لرے ، نږدے ، آونور .

د تصغیر اسم

تصغیر ورکونه ی کولو ته وائی :

که چیرے یوه اسم سره دغه سے ادات زیات شو چه دهغه ادات په واسطه سره ورکونکی توب دهغه اسم څرګندېده نو هغه ته د تصغیر اسم وېل کیږی

په پښتو کښې تصغیر کله د ښېنې او احترام او کله د تحقیر او توبیخ او تشویق د پاره استعمالېږي.

په پښتو کښې هر اسم نه تصغیر ېږي. د تصغیر اسمونه دوه رازه دي یو د مذکر اسم او بل د مؤنث اسم.

د مذکر اسم تصغیر دغه سې کېږي:

۱- د خاص اسم یا القابو په وروسته کښې یو کاپ زیاتېږي لکه: تورک، نورک، لالک، ددک، مامک، بابک.

۲- د صفت اسمونو په وروسته کښې (ه کې) راوړل کېږي لکه: ووړه کې، غټه کې، ښېنه کې، توره کې، سپینه کې (۱) ښکاره کې.

۳- ونې: منګونې، ورکونې (۲) کوچنونې.

۴- ونکې: منګونکې، ورکونکې، کوچنونکې.

۵- ګې: خټ ګې، پټنوس ګې.

---

(۱) ځینې خلک په محاورې کښې (سپینکه کې) وائي. (۲) په اصل کښې (ووړکونې) وه.

۶ــ کاکو ، جانو .

دمؤنث اسم تصغیر دغه سے کیږی :

۱ــ کی : خورکی ، مورکی ، اوښکی .

۲ــ که : خورکه ، مورکه .

۳ــ ه کی : دصفت اسمونو په وروسته کښے : غټه کی ، ښیه کی .

۴ــ ونے : ورکونے ، کوچنونے .

۵ــ گی : بستره گی ، کوټه گی ، ایندارگی .

تنبیه ــ دځینو اسمانو په وروسته کښے ځینے نور ادوات (ره ی ، ره ی ، آونور لکه : چرگوره ی ، گدوره ی ، آونور) هم راځی چه هغه اسمونه تصغیروی خو حکمونه ئے په دپرو اسمانو شامل نه دی دد غه له لامله تقریباً دسماعی حکم لری نو حکه دغلته ذکر نشول .

دآلے اسم

دآلے اسم هغه شے دے چه دفعل دصدور واسطه وی .

په پښتو کښې د آلے اسمونه دوه رازه دي يو سماعي بل قياسي :

قياسي د آلے اسم — هغه اسمونه دي چه په وروسته کښې ئے (ه ي) راځي آو کله کله د تلفظ د سهولت د پاره ځينے توري د دغه دوو تورونه مخکے زيا تېږي لکه :

اورلرونه ي — هغه لرګه ي ليا لښته چه اور پرے لرل کېږي .

نوسه ي — هغه شه ي ده ي چه يو شه ي ور باندے ينول کېږي لکه : وېښته ، ليا نور .

اوبه ورکه ي — هغه ټوکه ي ده ي چه پو ونده يعنے کوچيان د اوبو ژه ي په کښې تري آو ديوه ځاي نه ئے بل ځاي ته وري آو په ځينو ځايو کښې د استعمال د کثرت له لامله په غلط د ول سره (اوبه ورکه ي) شوه ي .

تودنه ي — هغه آله ده چه کوڼه پرے توده وي آو په پارسو (بخاري) ورته وائي .

تپنده ي — د بنائي د آلاتو د جملے ځينے يوه آله ده آو په پارسو (دستپناه)

ورته وائی .

خټ موښه ی — دخټو دموښلو آله ده چه په پارسو (گل ماله) ورته وائی

غوڅنده ی — دغوڅولو آله ده چه د ترکانړی آلاتو دجملے څخه ده آو په پارسو (اره) ورته وائی .

پزوونه ی — د پزولو آله ده چه د جراحی آلاتو دجملے څخه ده آو په پارسو (نشتر ورته وائی .

رنړوونه ی — د رنړولو آله ده چه معدنی شه ی لکه : وسپنه یا د زروشه ی پرے رنړوی آو په پارسو (اسباب صیقل) ورته وائی چه د عربی ځینے آخیستل شوه ی .

شیندوبه ی — داوبو دشیندلو آله ده چه په پارسو (آبپاش) ورته وائی

مچواژه ی — دمچانو دوژلو آله ده .

سماعی دآلے اسم — په پښتو کښے ځینے دآلے اسمونه سماعی هم دی لکه : مچشر (دمچ دشرلو آله) ، لور ، تخز .

منسوب اسم

منسوب اسم هغه ده ی چه بل اسم ته ئے نسبت وشی .

د منسوب اسم د جوړولو د ول په قیاسیه صفاتو کښے تر دغه عنوان لاندے (قیاسیه صفات چه د اسم نه جوړ ېږی) بېل لیکل شوه ی .

د صوت اسم

د صوت اسم هغه اسم ده ی چه د نګ تقلید آو تصویر کوی . د غه سے اسمونه په پښتو کښے د ېر دی : شرپ ، کرنګ ، خرپ ، نس ، د نګ آو نور .

دوهیم څپرکی

صفت

هغے کلمے ته چه دیوه اسم حال آوشان بیانوی (صفت) آوهغه اسم له چه حال آوشان ئے بیانیږی (موصوف) وبیل کیږی.

لکه د (لوی غر، سپینه کوټه) په کلمو کښے چه لوی آوسپین صفت، غر آو کوټه موصوف دی.

صفت دوه رازه ده ی: یو (سماعی) بل (قیاسی).

سماعی صفت ـ هغه صفتونه دی چه په آورېدو سره څرګندیږی آو په کومے قاعدے سره نه کیږی یعنے مستقله قاعده نه لری. دغه هم په دوه ډوله سره دی: ۱ (وصفیه الفاظ) بل (داعدادو اسمونه دی).

وصفیه الفاظ: هغه لفظونه دی چه چه پله وصفی معنی ولری دغه سے الفاظونه (اصلی صفت) هم وبیل کیږی. لکه: سپین، توره، لوی، کوچنی، ښه،

بد ، ښکوله ی (ښائسته) چښل ، اوږد ، لند ، هارت ، تنگ ، آونور ،
په پښتو کښے صفت مخکے آو موصوف وروسته راځی ، که موصوف مذکر وی
صفت و مذکر په دول ذکر کیږی لکه : پوه سړه ی ، لوی آس ، جگ غر ، خوږ
خنګه ی .

که موصوف مؤنث وی صفت و مونث په دول ذکر کیږی لکه : پوهه ښځه ،
لویه آسپه ، جگه ونه ، خوږه هندوانړه .

که موصوف مذکر وی آو صفت جمع و نه لری (۱) په مفرد آو جمع کښے صفت یوشان
وی لکه :

مفرد	جمع
ښه سړه ی	ښه سړی
لوی سړه ی	لوی سړی
ټیټ سړه ی	ټیټ سړی
سپین آس	سپین آسان

(۱) ځینے صفتونه جمع نه لری آو جمع کول لے د پښتو د ژبے د قاعدو سره هنده وی هغو لره اعتبار نشته لکه چه جگ د (جگان) آو لوی د (لویان) په دول جمع کوی . د دغو صفاتو جمع غلط ده باید تنے څنگ آو اجتناب وشی .

که موصوف د یروی آو صفت جمع ولری صفت هم د جمع په د ول استعمالیږی:

مفرد	جمع
وړوکه ی هالک	وړوکی هالکان
وورچرګ	واره چرګان
خوږ خنګه ی	خوازه خنګی
شین ښر	شنه ښرونه

که موصوف مؤنث آو د یروی صفت تل د جمع په د ول استعمالیږی:

مفرد	جمع
ښه ښځه	ښے ښځے
وره آسپه	وړے آسپے
سپینه کونه	سپینے کونے
جکه ونه	جګے ونے

که موصوف د یرآو صفت د موصوف پر د یروا فراد و شامل وی آو استثناء

داعتبار په نظر و نه نیول شي صفت هماغه سے چه پاس بیان شو ذکر کیږي اما

که صفت د موصوف پر هر فرد شامل وي یعنے د موصوف افراد هر یو د هماغه

صفت خاوند وي آو مستثنا و نه لري هالته صفت تکرار ذکر کیږي :

ښه ښه سړي ، وارہ وارہ هالکان ، جګے جګے ونے .

د اعداد و اسمونه — هغه اسمونه دي چه عدد ښئي . لکه چه صفت دیوه اسم

حال آو شان ښئي همدغه سے عدد د اسم کمیت یعنے ګنړه څرګند وي چه

دغه هم د صفت د دوله څخه ده ي .

د اعداد و اسمونه پنځه رازه دي : (اصلیه ، کسریه ، رتبیه ، توزیعیه ، متقابله)

بے له اصلیه آو کسریه اعداد و نور قیاسي دي چه د هغو بیان به د (وصفیه اعداد) په

نامه د قیاسیه صفاتو په بحث کښے وشي .

اصلیه اعداد — دغه هم دوے برخے دي :

یوے ته بسیط و ییل کیږي چه دیوه نه ترنهو پورے دي :

یو ، دوه ، درے ، څلور ، پنځه ، شپږ ، اوه ، اته ، نه ، بلے ته مرکب وائي

چه نهو نه پورته نور درست اعداد دی :

لس ، یوولس ، دوولس ، دیارلس ، څوارلس ، پنځه لس ، شپارس ، اوه لس ،
اته لس ، نولس ، شل ، یو ویشت ، دوه ویشت ، درویشت ، څلیرویشت ... الخ .
دیرش ، یو دیرش ، دو دیرش ، دری دیرش ، څلور دیرش . . . . څلویښت ،
یو څلویښت ، دو څلویښت ، دری څلویښت . . . . پنځوس ، یو پنځوس ، دو پنځوس ،
دری پنځوس ، څلور پنځوس . . . . . شپیته ، یو شپیته ، دو شپیته ، دری
شپیته ، څلور شپیته . . . . . اویا ، یو اویا ، دو اویا ، دری اویا ، څلور اویا .
. . . . اتیا ، یو اتیا ، دو اتیا ، دری اتیا ، څلور اتیا . . . . . نوی ، یو نوی ، دو نوی ،
دری نوی ، څلور نوی . . . . . سل ، دوه سوه . . . . . زر ، دوه
زره . . . . . کنیر یا زره (۱) دوه کنیر یا زره . . . . . الخ .
دغو ته عدد آو هغه شی ته چه گنړلے کیږی معدود وائی مثلاً : پنځه منړے ، نه خنګی ،
دغلته پنځه ته آو نه عدد ، منړے آو خنګی معدود دی .

بسیط اعداد په لاندینو ځایو کښے تغیر مینده کوی :

(۱) ملیون ، (لس لکه) .

یو - چه دلس سره راشی په وروسته کښے ئے یو واو زیات شی : یو ولس .

دوه - چه دلس ، دیرش ، څلویښت ، پنځوس ، شپیته ، اویا ، اتیا ، نوی ، سره راشی وروسته ی توره ی ئے لرے کیږی : دولس ، دودیرش ، دوڅلویښت ، دوپنځوس ، دوشپیته ، دواویا ، دواتیا ، دونوی .

درے - چه د (لس) سره راشی وروستی دوه توری ئے سره ونجیږی آو دوار و په منځ کښے یو الف زیاتیږی : دیارلس ، چه دشل سره راشی وروسته ی توره ی ئے لرے کیږی : درویشت ، چه د دیرش ، څلویښت ، پنځوس ، شپیته ، اویا ، اتیا ، نوی سره راشی وروسته ی توره ی ئے چه مجهوله یے ده په معروفے یے ونجیږی : دری دیرش ، دری څلویښت ، دری پنځوس ، دری شپیته ، دری اویا ، دری اتیا ، دری نوی .

څلور - چه د (لس) سره راشی د (ل) توره ی تنے لرے کیږی آو د (و) د توری نه وروسته یو (الف) راوړل کیږی : څوارلس ، آو که د (شل) سره راشی د واو توره ی ئے په (ی) ونجیږی : څلیریشت .

شپږ — چه دلس سره راشی د (ږ) توره ی په الف ونجیږی مگر په دغه ځای کښے د (لس) لام هم په (ر) ونجیږی : شپارس .

نه — چه د (لس) سره راشی وروسته ی توره ی ئے په واو ونجیږی : نولس .

شل — هر کله چه بسیط اعداد پرے زیات شی دویشت په د ول تلفظ کیږی : یو ویشت ، دوه ویشت ، درویشت . . . . . الخ . هر کله چه شلو نه مراد وی د (شل) په وروسته کښے مجهوله یے زیاتیږی : دوه شلے روپۍ ، درے شلے ټوپک . . . . . الخ .

سل — هر کله چه سلو نه مراد وی د (سوه) په د ول تلفظ کیږی : دوه سوه ، درے سوه . . . . . الخ .

په پښتو کښے دوو ده ی چه عدد مخکے آو معدود وروسته وییل کیږی لکه : یو سره ی ، یو آس ، یو خښکه ی ، یو کټ .

بے له (یو) نور عدد و نه هر کله چه د معدود ه سره راشی معدود باید د جمع په د و ل

ذکرشی لکه : درے سړی، پنځه اسان، لس خښکی، دوه کټونه .

که عدد (یو) آو معدود مذکروی نو عدد چه (یو) ده ی د مذکر په دول ذکر کیږی لکه چه مثال ئے پاس تیرشو .

که عدد (یو) یا (دوه) آو معدود مؤنث وی نو عدد د مؤنث په دول ذکر کیږی لکه: یوه ښځه، یوه آسپه، دوے هندوانړے، دوے تیږے.

عدد چه د هر وی په مذکر آو مؤنث کښے د مذکر په دول ذکر کیږی (اما عدد چه د هر وی معدود د جمع په دول ذکر کیږی لکه چه پاس دوهیل شو) : دوه سړی. درے ښځے، څلور آسان، پنځه آسپے .

که عدد یو آو معدود د (کس) یا د (تن) لفظ وی عدد د مذکر په دول ذکر کیږی لکه : یوکس، یوتن .

که عدد د هر آو معدود د (کس) یا د (تن) لفظ وی نو په دغه حال کښے د مذکور والفاظو په وروسته کښے د (ه) توره ی راوړل کیږی لکه : دوه کسه، درے تنه .

کسریہ اعداد ـ ہغہ اسمونہ دی چہ د اصلیہ اعدادو جزو آو ٹوٹے ښئی:
نیمائی ، درے یمہ ، څلورمہ ، پنځمہ . . . . . الخ .

قیاسی صفت ـ ہغہ صفتونہ دی چہ پہ قاعدے سرہ کیږی ہغہ ہم د صیغو څخہ عبارت دہ ی (فاعل اسم ، مفعول اسم ، مشبہ صفت ، د مبالغے صفت) .
د دغہ لہ لاملہ چہ د فعل څخہ اشتقاقیږی (د فعل فرع) ہم ورتہ ویل کیږی آو د افعالو پہ بحث کښے بہ ئے بیان راشی .

بل ہغہ د ول صفتونہ دی چہ د اسم لیاسماعی صفاتو سرہ ځینے ادات بالخاصہ (وصفیہ الفاظ) زیات شوی وی .

قیاسی صفات[1] چہ د اسم نہ جوړیږی

قیاسی صفات د خپل منسوب پہ اعتبار پہ دوہ رازہ دی ، یو مذکر بل مونث .
کہ دیوہ اسم منسوب مذکر وی قیاسیہ صفات ئے پہ لاندینی د ول سرہ جوړیږی:

---

(۱) دغہ قیاسی صفات منسوب اسم گنرل کیږی .

۱- دیوه اسم په وروسته کښې (ه ی) راوړل کېږی لکه: پرونه ی، کابله ی.

۲- دیوه اسم په وروسته کښې (نه ی) راوړل کېږی: کلنه ی، ننګنه ی.

۳- دیوه اسم په وروسته کښې (ینه ی) راوړل کېږی: میاشتینه ی، ورځینه ی.

۴- دیوه اسم په وروسته کښې (ن) راوړل کېږی: خیرن، اوبن (چه وروسته اوبرن شوه ی) ژاولن.

۵- دیوه اسم په وروسته کښې (ین) راوړل کېږی: ورېښمین، دبرین.

۶- دیوه اسم په وروسته کښې (من) راوړل کېږی: خوږمن، غیرتمن.

۷- دیوه اسم په وروسته کښې (جن) راوړل کېږی: ماښاجن غمجن.

۸ — دیوه اسم په وروسته کښې (ور) راورل کېږي : زرور، ژبه ور .

۹ — دیوه اسم په وروسته کښې (وال) راورل کېږي : جو په وال، بنګریوال .

۱۰ — دیوه اسم په وروسته کښې (یاله ی) راورل کېږي : توریاله ی . ننګیاله ی .

۱۱ — دیوه اسم په وروسته کښې (و) راورل کېږي : دارو، خېٛو، ګېدو .

۱۲ — دیوه اسم په وروسته کښې (والا) راورل کېږي : آس والا، څنړے والا .

په ځینو ځایو کښې چه د اسم سره والا یو ځای شی معنی د نښتے په یوے چارے پورے بښی لکه : سابه والا (یعنے هغه سره ی چه سابه پلوری) کنړه ی والا (یعنے هغه سره ی چه کنړه ی جاره وی آو وو بدل کوی) .

که دیوه اسم منسوب مؤنث وی قیاسی صفات ئے په لاندینی دول سره جوړېږی .

۱ — دیوه اسم په وروسته کښې تانیثي (ۍ) راوړل کېږي: کابلۍ، کنداری.

۲ — دیوه اسم په وروسته کښې (نۍ) راوړل کېږي: کلنۍ، ننني.

۳ — دیوه اسم په وروسته کښې (ینۍ) راوړل کېږي: میاشتینۍ، ورځینۍ.

۴ — دیوه اسم په وروسته کښې (یالۍ) راوړل کېږي: توریالۍ، ننګیالۍ.

۵ — دیوه اسم په وروسته کښې (ګنۍ) راوړل کېږي: پلارګنۍ، خسرګنۍ.

۶ — دیوه اسم په وروسته کښې (نه) راوړل کېږي: خیرنه، اوبنه، ژاولنه.

۷ — دیوه اسم په وروسته کښې (ینه) راوړل کېږي: د برینه، ورېښمینه.

۸ — دیوه اسم په وروسته کښې (منه) راوړل کېږي: خوږمنه، غیرتمنه.

۹ — دیوه اسم په وروسته کښې (جنه) راوړل کېږي: مانړېجنه، غمجنه.

۱۰ — دیوه اسم په وروسته کښې (وره) راوړل کېږي: ځېوره، ژبه وره.
ګېدوره.

۱۱ — دیوه اسم په وروسته کښې (واله) راوړل کېږي: بنګریواله،
جوپه واله.

قیاسی صفات چه د اصلی صفاتو څخه جوړیږی

د اصلیه صفاتو څخه قیاساً جوړ شوی صفتونه هغه دی چه د وصفی معنی (تصغیر، تأکید، تفریط و ښئ.

د صفت تصغیر:

د وصفی معنی د تقلیل د لونیه صفاتو نه وروسته (چک لیا وبره) راوړل کیږی لکه: سپین چک، تور چک، زیړ چک، زرغون چک، شین وبره آو نور. یعنے لږ سپین، لږ تور، لږ زیړ، لږ زرغون، لږ شین.

کله د هغه صفت نه وروسته چه څکے پورے اړه لری (به خوند) راوړل کیږی لکه: خوږ به خوند، تریخ به خوند آو نور.

د وروستی استعمال په لړی معنی سره غلط ده ی.

د صفت تاکید:

د صفت د افادے د بشپړ والی د پاره د لونیه صفتونه مخکے (تک) راوړل

کیږی چه دغه سے صفا تو ته (مؤکده صفات) ویل کیږی لکه : تک تور، تک شین، تک زیړ، تک سور .

په پښتو کښے دغه سے تاکیدات د یړ دی لکه : جګ جوړ، رک روغ، روغ رمه ی، د د بد . . . . الخ . چه آور ید و پورے اړه لری .

وصفت مبالغه :

که چیرے وصفت د معنا مبالغه لازمه شی وصفت په سر کښے د (د یړ) کلمه راوړل کیږی : د یړ ښه ، د یړ سپین ، د یړ خوږ .

که وغوښت شی چه مبالغه لازیاته شی د (ځښت[1]، خورا، هرګوره) کلمے استعمالیږی : ځښت سپین، ځښت خوږ، ځښت تریخ، خورا ښه، هرکوره خیرن .

که وغوښت شی چه مبالغه د دغه نه هم پسے د یړه شی نو د (ځښت، خورا، هرګوره) سره د (د یړ) کلمه یوځای استعمالیږی : ځښت د یړ سړی، خورا د یړ غنم .

---

(۱) په مؤنث کښے (ځښته) استعمالیږی

خوراد پرناولای، برگوره د پرښکوله ی .

وصفیه اعداد — د (توزیعیه اعداد) آو (رتبیه اعداد) آو (متقابله اعداد) څخه عبارت ده ی .

توزیعیه اعداد — هغه گڼرے دی چه دیوشی مساوی ټوټے ښئی .

په پښتو کښے توزیعیه اعداد په لاندینی دول سره کیږی :

۱— د ټوټو عدد تکرار وییل کیږی لکه : یو یو ، دوه ، دوه ، لس لس ، سل سل ، زر ، زر .

۲— کله د دغه د پاره چه د توزیعی عدد مساوات ښئی د گڼرے نه وروسته (یز) راوړل کیږی لکه : پنځه لسیز روپۍ ئے ورکړے ، اته ویشتیز باندے ئے خرڅے کړے .

کله کله (یز) خاص نسبت بیانوی لکه : یو ولس ټکیز ټوپک ، پنځه ټکیزه تو مانچه ، شوند کیز چرگ .

۳— کله د توزیعی عدد د مساوات د ښودلو د پاره د عدد په وروسته کښے (گونے) راوړل کیږی : په پنځه لس گونے ئے واخیستے ، په شلگونے ئے

خرڅے کړے .

کله کله (گونے) نسبت بیانوی لکه : شل گونے ، پنځه گونے (۱)

رتبیه اعداد : هغه گڼړے دی چه دیوه شی درجه آ و مرتبه ښئی . د دغه دپاره

د اصلیه اعدادو نه وروسته (م) راوړل کیږی : څلورم ، پنځم (چه د استعمال

د کثرت آو د تلفظ د سهولت له لامله د (ه) توره ی حذف شوه ی) شپږم ، لسم ،

سلم ، زرم .

که چیرے د اصلی عدد وروسته ی توره ی د (الف) لیا (ه) لیا (ی) وی

(یم) راوړل کیږی لکه : دوه یم ، درے یم ، او یا یم .

متقابله اعداد : هغه گڼړے دی چه سره مخی (متقابله) وی په پښتو کښے د دغه

دپاره د دوار و متقابلو اعدادو په منځ کښے (په) راوړل کیږی . مثلاً : دوه په دوه ،

پنځه په پنځه ، لس په لس ، سل په سل ، زر په زر ، یو په درے ، څلور په نه ، اته په شپیته ،

---

(۱) - پخوا د افغانستان په مسکوکاتو کښے یو مسکوک دو چه په پنځه روپی به چلیده آو هغه ته به پښتنو (پنځه گونے) ویلیه هوس هم دغه مسکوک کاغذونو ته جاری دی ، پنځه گونه ی ، شل گونه ی آو نور ویل کیږی .

څلویښت په اوه سوه ..... الخ.

فائده — دوغه دپاره چه وپیژاندل شي چه یوه کلمه صفت ده ی، که نه، نو دهغے کلمے په وروسته کښے دے (شه ی) راوړل شي که معنی سمه وخته خو صفت ده ی آو سمه و نه خته صفت نه ده ی. مثلاً (ښه، نابود، سپین، خوږ) صفت دی ولے چه که ښه شه ی، نابود شه ی، سپین شه ی، خوږ شه ی و وېیل شي سمه ده خو د (آس، خت) کلمے صفت نه دی ځکه چه، آس شه ی، خت شه ی نه وېیل کیږی آو که و وېیل شي معنی تنے نه حاصلیږی.

دصفاتو دتلفظ آووښته

په پښتو کښے صفات هم دا سمائو په څېر په دوه د وله سره په لاندینو ځایو کښے آوړی:

تنبید — که صفت آو موصوف دواړه په یوے جملے کښے ذکر شي صفت تل په دغه لاندینو ځایو کښے آوړی مګر موصوف که دهغه دول اسمائو څخه ده چه دنومونو دآووښتو دقاعدے په موجب سره آووښته دقواعدو په موجب دغلته هم آوړی که دهاغه دول اسمائو څخه نه وه نه آوړی.

گنړه صفت د آو وښتو په وخت کښې د موصوف تابع نه ده ی .

۱ — که صفات جمع ولری آو د جمع د (۲ ، ۳ ، ۸ ، ۱۰ ، ۱۱ ، ۱۲ ، ۱۴ ، ۱۵ ، ۱۶) قاعدے په موجب سره جمع شی د دغه د ول صفاتو مفرد د جمع په د ول ذکر کیږی آو جمع ئے په وروسته کښې (و) مینده کوی : د کوچنی کتاب خاوند ، دواړه هلک معلم ، د زرغونے ونے پانړے ، د غلیمی خبرے ، د کوچنو کتابو خاوند ، دوړو هالکانو معلم ، د زرغونو ونو پانړے ، د غلیمیو خبرے .

۲ — هغه صفت اسمونه چه جمع و نه لری آو یا ئے ولری مگر د جمع د پاسینو قواعدو په موجب سره ئے جمع ممکنه نشی د دغه د ول صفاتو مفرد پرخپل حال پاتے کیږی آو جمع ئے په وروسته کښې (و) مینده کوی : ښه سړی ته ، ښو سړو ته ، لوی غره ته ، لویو غرو ته .

هغه ځایونه چه صفات په کے آوری دغه دی :

الف — هر کله چه موصوف د صفت مضاف الیه واقع شی :

دلمری د ول مثال یعنے ہغہ چہ مفرد ئے د جمع پہ د ول استعمالیږی آو جمع ئے پہ وروستہ کښے (و) میندہ کوی :

مفرد	جمع
دزاره سری	دزرو سرو
دشنه داگ	دشنو داگو

د دوه یم د ول مثال یعنے ہغہ چہ مفرد ئے نہ آوری آو جمع ئے پہ وروستہ کښے (و) میندہ کوی :

مفرد	جمع
دښه سری	دښو سرو
دکرغیرن سری	دکرغیرنو سرو

ب ـ کہ د دغہ سے صفاتو د موصوف سره د مفعول (پرته د مفعول به) ادات راشی :

دلمری دول مثال :

مفرد	جمع
راندہ سری تہ	راندو سرو تہ
زرغونہ کالی تہ	زرغونو کالو تہ

ددوہ یم دول مثال :

مفرد	جمع
تور سری تہ	تورو سرو تہ
خیرن لوښی تہ	خیر نو لوښو تہ

ج — کہ ددغہ سے دول صفتونو د موصوف سرہ آرووںکی توری آو کلمات راشی :

دلمری دول مثال

مفرد	جمع
کابزہ لرگی باندے	کبزو لرگو باندے
سرہ کور باندے	سرو کورو باندے

دووه یم دول مثال :

مفرد	جمع
پرسپین مخ	پرسپینو مخونو
پرخیرن مخ	پرخیرنو مخونو

د - که دوغه دول صفتونو موصوف ومتعدی فعل وماضی صیغے فاعل واقع شی :

دلمری دول مثال :

مفرد	جمع
زیبزه سری وواهه	زیبزو سرو وواهه
ورکی لرم وچیچه	ورکولرمانو وچیچه

دووه یم دول مثال :

مفرد	جمع
سپین منگور وچیچه	سپینو منگورانو وچیچه

تورغوندل وچیچه　　تورو غوندلانو وچیچه

ه — که دوغه دول صفتونو موصوف دمخصوص لازمی (ل) والا مصادرو دماضی صیغے فاعل واقع شی.

دلمری دول مثال :

مفرد	جمع
سپین بزیری سری وژرل	سپین بزیرو سرو وژرل
کوچنی هلک وخندل	کوچنو هلکانو وخندل

دوه یم دول مثال :

مفرد	جمع
لوی سپی وهنگول	لویو سپو وهنگول
تورخره ودانگل	تورو خرو ودانگل

و — هرکله چه دوغه دول صفتونو موصوف مستثناء واقع شی :

دلمری دول مثال :

مفرد	جمع
بے سپینے روپی	بے سپینو روپیو
پرتہ لہ سپینے روپی	پرتہ لہ سپینو روپیو

دوہ یم دول مثال :

مفرد	جمع
بے لوی سری	بے لویو سریو
پرتہ لہ لوی سری	پرتہ لہ لویو سریو

تبصرہ — د (بے) ادات د نفی ادات هم ده ی نو هر کله چه دغه توره ی د نفی د پاره دیوه صفت سره راشی هغلته هم هغه صفت سم له پاسنی اصول سره تغیر میندہ کوی.

ز — هر کله چه د دغه دول صفاتو موصوف منادا واقع شی :

دلمری دول مثال :

مفرد	جمع
	بے سرو پیرنگو

دووه یم دول مثال :

مفرد	جمع
	یے سپینو پښتنو

تبصره — مفرد صفت که منادا واقع شی نه آوری نو حکه د غلته د مفرد په ځای کښے څه لیکل شوی نه دی .

داعداد و اسمونه هم په همدغه پاسنی حالا تو کښے هر کله چه معدودیے آو وښته ی وی آوری یعنے داعداد و داسمونو په وروسته کښے هم (و) زیاتیږی لکه : دووسرو ووهلم، څلوروسرو ته مے وویل

درے یم څپرکه ی

کنایات

کنایے درے دی : ضمیر ، د اشارے اسم ، مبهمات .

ضمیر

ضمیر هغه کلمه ده چه د اسم ځای نیسی یعنے د اسم قائمقام دی چه هماغه اسم ته ضمیرئے پر ځای راځی (مرجع) وییل کیږی . مثلاً د دغے پښتنے پځواب چه (آڅک کله کابل ته ځی؟) که ووییل شی چه (هغه اختره پورے دایل شو) دلته (هغه) چه د آڅک د نامه پر ځای راغله ی ضمیر آو (آڅک) ئے مرجع ده ی .

ضمائر درے رازه دی :

۱ـ شخصی ضمیرونه

شخصی ضمیرونه هغه ضمیرونه دی چه معین شخص ښئی ، هغه هم درے دی :

متکلم (۱) مخاطب ، غائب :

	مفرد	جمع
متکلم :	حُه (ما)	مږ .
مخاطب :	ته (تا)	تاسے (تاسو)
غائب :	هغه .	هغوی .

هر کله چه مفرد متکلم آو مفرد مخاطب د شخصیه ضمیرونو د ماضی د متعدی فعل فاعل لیا مفعول (۲) (پرته د مفعول به) لیا مستثناء لیا مضاف الیه واقع شی لیا د آرو ونکو تورو آو کلماتو سره (څخه ، ځینے ، لاندے ، باندے ، پر ، پورے ، سره ، غوندے ، په شان ، شانته ، په راز ، په دول ، په دود ، تر ، په څېر) راشی د (حُه) پرځای (ما) آو د (ته) پرځای (تا) استعمالیږی .

---

(۱) متکلم : دخبرے ویونکه ی ، مخاطب : دخبرے آورېدونکه ی ، غائب : هغه ده ی چه حاضر نه وی آو څېر نه ئے کېږی . (۲) ۱ـ مفعول الیه چه ادات ئے (ته) ده ی ، ۲ـ مفعول فیه چه ادات ئے (په) ده ی ، ۳ـ مفعول منه چه ادات ئے (له) ده ی ، ۴ـ مفعول له چه ادات ئے (د پاره) ده ی . ۵ـ مفعول معه چه ادات ئے (سره) ده ی چه د اسمانو په احوال آو نحو کښے ئے تفصیلات راغلی .

د مخاطب د جمع ضمیرونه که څه هم دوه دی خو د استعمال په موقع کښې فرق نه لری یعنې د دواړو د استعمال په هره موقع کښې جائز وه ی . آو د متکلم په ذوق پورې اړه لری .

د شخصی ضمیرونو د مفعول کېدلو دول

شخصی ضمیرونو سره که د مفعول ادات راشی مفعول کېږی :

شخصی ضمیرونه	مفعول به	مفعول الیه	مفعول فیه	مفعول منه	مفعول له	مفعول معه
څه (ما)	څه ئے	ماته	په ما	له ما	ما د پاره	ما سره
ته (تا)	ته ئے	تاته	په تا	له تا	تا د پاره	تا سره
هغه (ه)	هغه ئے	هغه ته	په هغه	له هغه	هغه د پاره	هغه سره
هغه (ه)	هغه ئے	هغه ته	په هغه	له هغه	هغه د پاره	هغه سره
تاسے (تاسو)	تاسے ئے	تاسے ته	په تاسے	له تاسے	تاسے د پاره	تاسے سره
هغوی	هغوی ئے	هغوی ته	په هغوی	له هغوی	هغوی د پاره	هغوی سره

د شخصی ضمیرونو اضافی حالت

شخصی ضمیرونه کله کله چه د ځینو اسمونو آو فعلونو سره یو ځای شی مضاف الیه شی په دغه سے حال کښے د ضمیر نه مخکے د (د) توره ی چه د اضافت ادات ده ی راځی لکه:

دما آس	دما چاره
دتا آس	دتا چاره
دهغه آس	دهغه چاره
دمږ آس	دمږ چاره
دتاسو آس	دتاسو چاره
دهغوی آس	دهغوی چاره

تنبیه — که څه هم اصلی قاعدے د اضافی حالت د شخصی ضمیرونو پاسنه ی اصول ده ی آو ځینے پښتانه ئے هم په همدغه دول سره ئے وائی مگر هوس علی العموم د (دما) پر ځای (ځما) آو د (دتا) پر ځای (ستا) آو د (مږ) پر ځای (ځمږ) آو د (تاسو) پر ځای (ستاسو) استعمالوی.

۲- نسبی ضمیرونه

نسبی ضمیرونه هغه ضمیرونه دی چه نسبت بیانه وی هغه هم دوه رازه دی. یو د ماضی دپاره، بل د حال او استقبال دپاره:

	هغه نسبی ضمیرونه چه د ماضی دپاره استعمالیږی	هغه نسبی ضمیرونه چه د حال دپاره استعمالیږی
مفرد متکلم:	دم	یم
مفرد مخاطب:	وے	یے
مفرد غائب:	وُه (د نذکر دپاره) وَه (د مؤنث دپاره)	وه ی (د نذکر دپاره) وه (د مؤنث دپاره)
جمع متکلم:	وو	یو
جمع مخاطب:	وی	یی (یاست)
جمع غائب:	وه (د نذکر دپاره) وے (د مؤنث دپاره)	وی

دغه ضمیرونه دمنسوب الیه نه وروسته راځی :

دلمړی دول مثال	ددوه یم دول مثال
عالم وم	پوه یم
عالم وے	پوه یے
عالم وُه عالمه وه	پوه ده ی پوهه ده
عالمان وو	پوه یو
عالمان وی	پوه یی
عالمان وو عالمانے وے	پوه دی پوهے دی

دغه ضمیرونه په افعالو کښے په بعیدے ماضی، احتمالی ماضی، آونقلی ماضی کښے آو دتنبیه په اشارو کښے هم استعمالیږی په عین حال کښے دربط ادات هم دی

تبصره — دغه ضمیرونه کله دفعل پرځای هم استعمالیږی لکه په دغو جملو کښے چه (ترڅو ده ی راته ځه هغلته وم، ترڅو ځه راځم ته به همدغلته یے) فعلونه دی.

په دغه ځای کښے باید د (ول) آو د (یل) څخه چه غیر مستعمل مصدرونه دی

اشتقاق شوی دی چه د اشتقاق په قواعد د واقفت لری، اما دومره خبره ده چه غیر مستعمل مصدر ناقص وی آو هر غیر مستعمل مصدر له مستعمل مصدر په کار ده ی دغلته کېدای شی چه وه وایو چه دغه دوه د (هوسېدل) مستعمل مصدر؛ غیر مستعمل مصدر و نه دی. لکن د دغه له لامله چه د (هوسېدل) مصدر تام ده ی هغه له غیر مستعمل مصدر په کار نه ده ی حکه چه غیر مستعمل مصدر د ناقص مستعمل مصدر متمم دی آو دغه د هغے کلمے سره هېنده ده اما کېدای شی چه مستثنائے وګنړو.

هر د ول چه وی مقصد دغه ده ی چه دغه ضمیرو نه په ځینو ځایو کښے فعل هم وی.

که څوک وه وائی چه یو شه ی هم ضمیر آو هم فعل څنګه کېدای شی؟

دغه به د پښتو خصوصیت وی. تقریباً په عربی کښے ئے هم نظیر شته مثلاً په عربی کښے د (علی، عدا، حاشا) توری په عین حال کښے افعال هم دی همدغه سے اسماء افعال لکه (آ، حی، آمین) چه لمره ی د (ئیت یعنے راشه په معنی آو دوه یم و (اجب دعائی یعنے دعامے قبوله که) په معنی ده ی؛ اسمونه دی اما د فعل معنی ورکوی چه هالته توری آو اسمونه فعل کېدای شی نو په پښتو کښے هم چه ضمیر فعل شی

څه عیب لری؟ دغه به د ژبے خصوصیت وی .

۳ـ فعلی ضمیرونه

فعلی ضمیرونه هغه ضمیرونه دی چه په افعالو آو صیغو کښے استعمالیږی هغه هم دوه رازه دی: یو (بسیط فعلی ضمیرونه) بل (مرکب فعلی ضمیرونه).

الف ـ بسیط فعلی ضمیرونه هغه دی چه اضافی حالت نه لری آو یوازے په افعالو کښے استعمالیږی هغه هم دغه دی:

	مفرد	جمع
متکلم:	م	و
مخاطب:	ے	ی
غائب:	ه (د مذکر د پاره)	ل (د مذکر د پاره)
	له (د مؤنث د پاره)	لے (د مؤنث د پاره)
	ی (مشترک)	ی (مشترک)

پاسنی دوه د غائب مفرد آو جمع ضمیرونه یوازے په ماضی صیغو کښے استعمالیږی (پرته د احتمالی ماضی) آو درے یم ضمیر په احتمالی ماضی، حال، استقبال، التزامی،

اجباری، اقتداری، امر، نہی ٹولو کښے استعمالیږی. د غائب مفرد ضمیر چه د مذکر د پاره

ده ی په لاندینو مصادرو کښے استعمالیږی.

۱- په ځینو متعدی (ل) والا مصادرو کښے چه د استعمال موقع ئے په آوریدو پورے اړه لری.

۲- په درست (ب) د ول (ول) والا مصادرو کښے یعنے په ښو مصادرو کښے چه د فعل ماده ئے

صفت، لیا د مفعول اسم مخفف، لیا منسوب اسم نه وی.

۳- په درست (ب) د ول (ېدل) والا مصادرو کښے یعنے ښه چه د فعل ماده ئے صفت لیا د مفعول

اسم مخفف، لیا منسوب اسم نه وی. په نورو درستو صیغو کښے لرے کیږی.

د مؤنث مفرد غائب ضمیر هم په ټولو مصادرو کښے استعمالیږی خو کله کله په ښو مصادرو کښے

چه د غائب مفرد مذکر ضمیر لرے کیږی د مؤنث د ضمیر نه یو اځے د (ل) توره ی لرے کیږی.

په عمومی د ول سره د غه ضمیرونه (بسیط فعلی ضمیرونه) په لاندینو صیغو

کښے استعمالیږی:

۱- د ماضی په درستو صیغو کښے (د تمنائی ماضی) نه پرته د متعدی فعل په مفعولی حالت کښے

(هر کله چه ضمیر مفعول واقع شی) مثالونه دے په افعالو کښے وکتل شی.

۲ — د ټولو لازمی آو متعدی فعل د حال، التزامی، اقتداری، اجباری، استقبال، امر، نهی په صیغو کښے هر کله چه ضمیر فاعل لیا نائب د فاعل واقع شی.

۳ — د غیر مخصوص لازمی (ل) والا مصادرو د ماضی په ټولو صیغو کښے د (تمنائی ماضی) نه پرته.

ب — مرکب فعلی (۱) ضمیرونه هغه دی چه فعلی آو اضافی حالت دواړه ولری آو هغه هم دغه دی:

	مفرد	جمع
متکلم :	مے	مو
مخاطب :	دے	مو
غائب :	ئے	ئے

د فعلی ضمیرونو فعلی حالت:

---

(۱) مرکب حکه وېیل شوی چه دوغه ضمیرونو توری دیوه نه دېر دی.

دفعلی ضمیرونو فعلی حالت هغه حالت ده ی چه ضمیر دفعله سره راشی ؛ دغه ضمیرونه
په فعلی حالت کښے په لاندینو صیغو کښے په لاندینی دول سره استعمالیږی :

۱ — دماضی په درستو صیغو دمتعدی فعل په فاعلی حالت کښے (هرکله چه ضمیر فاعل
واقع شی) مثالونه دے په افعالو کښے وکتل شی .

۲ — دحال ، التزامی ، اجباری . اقتداری ، امر ، نهی . استقبال ، دصیغو په
مفعولی حالت کښے (هرکله چه ضمیر مفعول واقع شی) مثالونه دے په افعالو کښے
وکتل شی .

۳ — دمخصوص لازمی (ل) والا مصادرو دماضی په ټولو صیغو کښے مثالونه دے
په افعالو کښے وکتل شی .

دفعلی ضمیرونو اضافی حالت هغه حالت ده ی چه ضمیر داسم سره راشی .
هرکله چه دیوے خصوصی (۱) معنی دافادے دپاره دوه اسم یوځای شی هغه ته اضافت
وایی کیږی چه دهغو نه یو مضاف بل مضاف الیه دی .

---

(۱) دخصوصی معنی نه تملک . اختصاص . نوعیت . اصلیت . تشبیه . مراد ده ی .

په پښتو کښې مضاف الیه مخکې آو مضاف وروسته راځي په پښتو کښې ئې نښه (د) ده ی چه مضاف الیه نه مخکې راځي لکه : د پښتو ژبه ، د کاله کالی .

که مضاف الیه شخص وی نو د مضاف نه وروسته د مضاف الیه پر ځای د مرکب فعلی ضمیرونو نه یو راورل کیږی :

لمړه ی مثال	دوه یم مثال
کتاب مے	وظیفه مے
کتاب دے	وظیفه دے
کتاب ئے	وظیفه ئے
کتاب مو	وظیفه مو
کتاب مو	وظیفه مو
کتاب ئے	وظیفه ئے

د اشارے اسم

د اشارے اسمونه هغه لفظونه دی چه په هغه سره معین سړی لیاشی له اشاره کیږی . هغه سړی لیاشی ته چه هغه له اشاره کیږی مشار الیه ویل کیږی مثلاً : په (دغه کور ، هغه سړی) کښے (دغه ، هغه) اشارت آو (کور ، سړی) مشار الیه دی .

د اشارے اسمونه د مشار الیه په نسبت پنځه رازه دی :

د ذات ، د تمثیل ، د مکان ، د تنبیه ، د مقدار اشاره .

د ذات اشاره :

الف — ده : لمړه ی توره ی خو ځکه ی لری د مذکر ذوی العقولو اشارے د پاره ده ی چه نږدے وی ، په لاندینو ځایونو کښے استعمالیږی :

۱ — هر کله چه مشار الیه فاعل د هغه ماضی فعل چه د مخصوص لازمی لام والا مصادرو څخه اشتقاق شوه ی وی . ده وژړل . ده وخندل ، ده ودانګل .

۲ — د ماضی په هغه متعدی افعالو کښے استعمالیږی چه مشارالیه فاعل واقع شی : ده وواهه ، ده پرے کړ ، ده ورېږاوه .

۳ — هر کله چه مشارالیه مفعول (پرته د مفعول به) واقع شی : ده ته ، په ده ، له ده ، ده دپاره ، ده سره .

۴ — هر کله چه آرونکو تورو آو کلماتو سره راشی : ده څخه ، ده ځینے ، ده لاندے ، ده باندے ، پرده ، ده پورے ، ده غوندے ، ده په څېر ، ده په شان ، ده شانته ، ده په راز ، ده په دول ، ده په دود ، تر ده .

۵ — هر کله چه مشارالیه مضاف الیه واقع شی : ده ده کتاب ، ده ده کور ، په بل عبارت سره هالے استعمالیږی چه د (چا) د پښتنے په ځواب واقع شی .

۶ — هر کله چه مشارالیه مستثنا ، واقع شی : بے ده ، پرته له ده .

ب — ده ی : پاسنی په څېر د مذکر ذوی العقولو اشارے دپاره ده ی چه بږدے وی آو په لاندینو ځایو کښے استعمالیږی :

۱ — هر کله چه مشارالیه د غیر مخصوص لازمی لام والا مصادرو د ماضی صیغے فاعل واقع

شوه ی وی : ده ی کیناست ، ده ی څملاست .

۲ــ په حال ، استقبال ، اقتداری ، التزامی ، اجباری ، امر ، نهی ، (که مشارالیه فاعل لیا مفعول ، آ و فعل لازم لیا متعدی وی ،) نو لو کښے استعمالیږی لکه : ده ی ژاړی ، ده ی به وخاندی ، ده ی پرے کوی ، ده ی به وه وهی .

۳ــ د متعدی افعالو په ماضی صیغو کښے چه مشارالیه مفعول واقع شی استعمالیږی : ده ی ئے وه واهه .

په بلے عبارے سره هالے استعمالیږی چه په هغه ځای کښے (ده) استعمال نشی لیاد (څوک) د پښتنے په ځواب واقع شی .

ج ــ دے د (ده) مقابل آو د مؤنث ذوی العقولو اشارے د پاره ده ی چه نږ دے وی په هغو ځایو کښے استعمالیږی چه هغه استعمالیده .

د ــ دا : د ده ی مقابل آو د مؤنث ذوی العقولو اشارے د پاره ده ی چه نږ دے وی په هغو ځایو کښے استعمالیږی چه هغه استعمالیده .

ه ــ دوی : بے له کوم قید آو شرطه د دیرو ذوی العقولو اشارے د پاره چه

نږدے وی (مذکر آو مؤنث دواړو دپاره) استعمالیږی لکه : دوی وژړل، دوی پرے وتل ، دوی پرے کړ ، دوی ژړاړی ، دوی پاڅیږی ، دوی وهی ، دوی وبل کیږی ، دوی به وخاندی ، دوی به څملی ، دوی به مات کی ، دوی به وربېرېږی .

تنبیه - دغیرذوی العقولو اشارے اسمونه جمع نه لری .

و- دغه : دمذکر دغیرذوی العقولو دپاره چه نږدے وی هرکله استعمالیږی . دمؤنث غیرذوی العقولو دپاره په لاندینو ځایو کښے استعمالیږی .

۱ - دماضی صیغو په هغه لازمی افعالو کښے استعمالیږی چه مشارالیه دهغه فعل فاعل وی چه دغیرمخصوص لازمی لام والامصادرو څخه اشتقاق شوه وی : دغه پرېوته ، دغه څملاسته .

۲ - په حال ، استقبال ، اقتداری ، التزامی ، اجباری ، (که مشارالیه فاعل یا مفعول آو فعل لازمی یا متعدی وی) ټولو کښے استعمالیږی : دغه وانګی ، دغه څملی ، دغه وهی ، دغه ئے وهی ، دغه به ئے وه وهی .

۳ - دماضی په هغه متعدی افعالو کښے استعمالیږی چه مشارالیه مفعول واقع شی :

دغه ئے وه وهله، دغه ئے وشرله، دغه ئے ماته کړه، دغه ئے پرے کړه.

د ذوی العقولو د پاره هالے استعمالیږی چه عام لیا خاص اسم ورسره ذکرشی:

دغه سړی وژړل، دغه سړی وه واهه، دغه آڅک وخندل، دغه وتک وربړاوه.

بے له ذکر د عام آو خاص اسم څخه د ذوی العقولو د پاره هالے استعمالیږی چه تحقیر

آو استخفاف مراد وی.

تنبیه — د دغے اشارے مخففه کول د (دا) په د ول دژبے د آساس آو

دو دسره هیڅ ده ده.

ز — دغے: د مؤنث غیر ذوی العقولو د پاره چه نږدے وی په لاندینو ځایو

کښے استعمالیږی.

۱ — هر کله چه مشار الیه د هغه لازمی فعل د ماضی صیغے فاعل واقع شی چه د لازمی لام

والا مصادر و څخه اشتقاق شوه ی وی: دغے اسپے و نوځل، دغے اسپے

و دانګل.

۲ — د ماضی په هغه متعدی افعالو کښے استعمالیږی چه مشار الیه فاعل واقع

شی : دغے کچرے وه واهه ، دغے میږے پښو لاندے کړ .

۳ — هر کله چه مشار الیه مفعول (پرته د مفعول به) واقع شی : دغے ته ، په دغے ، له دغے ، دغے د پاره ، دغے سره .

۴ — هر کله چه د آړ وونکو تو رو آو کلما تو سره راشی : دغے څخه ، دغے ځینے ، دغے لاندے ، دغے باندے ، پر دغے ، دغے پورے ، دغے غوندے ، دغے په څېر ، دغے په شان ، دغے شانته دغے په راز ، دغے په دول ، دغے په دود ، تر دغے .

۵ — هر کله چه مشار الیه مضاف الیه واقع شی : د دغے لاس ، د دغے کوڼے ور .

۶ — هر کله چه مشار الیه مستثنا ، واقع شی : بے دغے ، پرته له دغے .

تنبیه — د دغے اشارے مخففه کول د (دے) په دول دژبے د اساس آو دو د سره ښیده ده .

ح — هغه : د ذوی العقولو آو غیر ذوی العقولو اشارے د پاره چه لږ لرے وی په هغو ځایو کښے چه (دغه) استعمالیده استعمالیږی آو درست احکام آو

شرایط چه مذکورے اشارے باندے جاری آو په هغے کښے ملحوظ ده پر دغے باندے هم جاری آو ملحوظ دی .

ط ـ هغے : د مؤنث ذوی العقولو آو غیر ذوی العقولو اشارے د پاره چه لرے وی په هغو ځایو کښے چه (دے) استعمالیده استعمالیږی ، آو درست احکام آو شرایط چه مذکورے اشارے باندے جاری آو په هغے کښے ملحوظ وه پر دغے باندے هم جاری آو ملحوظ دی .

ی ـ هاغه : د ذوی العقولو آو غیر ذوی العقولو اشارے د پاره چه لرے وی په هغو ځایو کښے چه (دغه) استعمالیده استعمالیږی آو درست احکام آو شرایط چه مذکورے اشارے باندے جاری آو ملحوظ وه پر دغے هم جاری آو ملحوظ دی .

ك ـ هاغے : د مؤنث ذوی العقولو آو غیر ذوی العقولو اشارے د پاره چه لرے وی په هغو ځایو کښے چه (دغے) استعمالیده ، استعمالیږی ، آو درست احکام آو شرایط چه مذکورے اشارے باندے جاری آو په هغے کښے ملحوظ وه پر دغے باندے هم جاری آو ملحوظ دی .

ل ـ ہوغه : دذوی العقولو آو غیر ذوی العقولو اشارے دپاره چه دیرلرے وی په ہغو ځایو کښے چه (دغه) استعمالیده استعمالیږی آو درست احکام آو شرایط چه مذکورے اشارے باندے جاری آو په ہغے کښے ملحوظ وه پر دغے باندے ہم جاری آو ملحوظ دی .

م ـ ہوغے : دمؤنث ذوی العقولو آو غیر ذوی العقولو اشارے دپاره چه دیرلرے وی په ہغو ځایو کښے چه (دغے) استعمالیده استعمالیږی آو درست احکام آو شرایط چه مذکورے اشارے باندے جاری آو په ہغے کښے ملحوظ وه پر دغے باندے ہم جاری آو ملحوظ دی .

دذات داشارے دتلفظ آو وښته

که مشارالیه دذات داشارے دیوه نه دیر وی په لاندینو ځایو کښے داشارے دوروستی توری پر ځای د (واو) توره ی راورل کیږی :

۱ ـ ہرکله چه مشارالیه مفعول (پرته دمفعول به) واقع شی : دغوته ، ہغوته ، ہاغوته ، ہوغوته .

۲ — هر کله چه مشار الیه مضاف الیه واقع شي: د دغو ، د هغو ، د هاغو ، د هوغو .

۳ — هر کله چه آر و ونکو تو رو آو کلماتو سره راشي: دغو څخه ، دغو ځینے ، دغو لاندے ، دغو باندے ، دغو پورے ، پر دغو ، دغو غوندے ، دغو پڅیر ، دغو په شان ، دغو شانته ، دغو په راز ، دغو په د ول ، دغو په دود ، تر دغو .

۴ — هر کله چه د مخصوص لازمي لام والا مصادرو د ماضي صیغے فاعل واقع شي: دغو وژرل ، هغو وژرل ، هاغو وژرل ، هوغو وژرل .

۵ — هر کله چه د متعدي افعالو د ماضي صیغے فاعل واقع شي: دغو وه و هلم ، هغو وه و هلم ، هاغو وه و هلم ، هوغو وه و هلم .

۶ — هر کله چه مشار الیه مستثناء واقع شي: بے دغو ، بے هغو ، پرته له هاغو ، پرته له هوغو .

د تمثیل اشاره :

الف — دغه سے : د بڼ دے اشارے د پاره استعمالیږي: دغه سے هالک ، دغه سے پلن غوږه ي ، دغه سے بڼ .

دغه اشاره د استعمال د کثرت آو د تلفظ د سهولت له لامله په ځینو ځایو کښې

(داسے) شوے مثلاً وائی: داسے ہالک، داسے پلن غوږه ی، داسے ښز.

ب - ہغه سے: دلږ لرے اشارے د پاره استعمالیږی: ہغه سے ہالک،

ہغه سے پلن غوږه ی، ہغه سے ښز.

دغه اشارت د استعمال د کثرت آو د تلفظ د سهولت له لامله په ځینو ځایو کښې

(ہسے) شوے مثلاً وائی ہسے ہالک، ہسے پلن غوږه ی، ہسے ښز.

ج - ہاغه سے: دلرے د اشارے د پاره استعمالیږی: ہاغه سے،

ہالک، ہاغه سے پلن غوږه ی، ہاغه سے ښز.

دغه اشاره د استعمال د کثرت آو د تلفظ د سهولت له لامله په ځینو ځایو کښې

(ہاسے) شوے مثلاً وائی: ہاسے ہالک، ہاسے پلن غوږه ی، ہاسے ښز.

د - ہوغه سے: د دیرے لرے اشارے د پاره استعمالیږی: ہوغه سے

ہالک، ہوغه سے پلن غوږه ی، ہوغه سے ښز.

دمکان اشاره :

الف ـ دغلته : دبزه دے اشارے دپاره استعمالیږی : دغلته کینه، دغلته ده .

په ځینو ځایو آو قبائلو کښے دوغے اشارے پرځای (دلے) استعمالیږی.

ب ـ هغلته : دلیرے اشارے دپاره استعمالیږی : هغلته کینه .

هغلته وه .

دغه اشاره داستعمال دکثرت آو تلفظ دسهولت له لامله په ځینو ځایو کښے (هلته) شوے آو په ځینو ځایو آو قبائلو کښے دوغے اشارے پرځای (هلے) استعمالیږی .

ج ـ هاغلته : دلرے اشارے دپاره استعمالیږی : هاغلته کینه، هاغلته وه.

دغه اشاره داستعمال دکثرت آو تلفظ دسهولت له لامله په ځینو ځایو کښے (هالته) شوے .

په ځینو ځایو آو قبائلو کښے دوغے اشارے پرځای (هالے) استعمالیږی .

د – ہوغلتہ : د دیرے لرے اشارے د پارہ استعمالیبزی : ہوغلتہ کینہ ، ہوغلتہ دہ .

دغہ اشارہ د استعمال د کثرت آو د تلفظ د سہولت لہ لاملہ پہ ځینو ځایو کښے (ہولتہ) شوے .

پہ ځینو ځایو آو قبائلو کښے د دغے اشارے پر ځای (ہولے) استعمالیبزی چہ وروستہ د استعمال د کثرت آو د تلفظ د سہولت لہ لاملہ پہ ځینو ځایو کښے بیا (ہورے) شوے .

د تنبیہ اشارہ :

الف – دغہ دہ ی : د نږدے اشارے د پارہ استعمالیبزی د دغے اشارے مخففہ ول د (دادہ ی) پہ د ول د ژبے د آساس آو د ودسرہ ہیندہ دہ .

ب – ہغہ دہ ی : د لږ لرے اشارے د پارہ استعمالیبزی .

ج – ہاغہ دہ ی : د لرے اشارے د پارہ استعمالیبزی .

د – ہوغہ دہ ی : د دیرے لرے اشارے د پارہ استعمالیبزی .

دمقدار اشاره:

الف ـ دغومره: دبزدے اشارے دپاره استعمالیږی داستعمال د کثرت آو دتلفظ دسهولت له لامله په ځینو ځایو کښے (دومره) لیا (دونه) شوے.

ب ـ هغومره: دلږ لرے اشارے دپاره استعمالیږی داستعمال دکثرت آو دتلفظ دسهولت له لامله په ځینو ځایو کښے (هومره) شوے.

ج ـ هاغومره: دلرے اشارے دپاره استعمالیږی.

د ـ هوغومره: ددیرے لرے اشارے دپاره استعمالیږی.

✣

مبهمات

مبهمات : هغه خبرے دی چه یو سره ی لیا یو شه ی ښئی اما جو ته وی ئے نه .

مبهمات درے دی : (مجرد اسم ، استفهامیه کلمات ، موصول اسم) .

مجرد اسم — خپل ، آو خپله ، آو په خپله ده ی مثلاً : خپله لیکلای یعنے بل چا لیکلای نه ده ی ، خپل کور ئے ده ی یعنے د ده کور ده ی د بل چا نه ده ی ، په خپله د وهیلے یعنے ده وهیلے بل چا و نه وهیلے .

دغو کلماتو سره کله کله شخصیه ضمیرونه هم یو ځای کیږی : ځه خپله ، لیا ځه په خپله ، ته خپله ، لیا ته په خپله ، هغه خپله ، لیا هغه په خپله ، مږ خپله لیا مږ په خپله ، تاسے خپله ، لیا تاسے په خپله ، هغوی خپله ، لیا هغوی په خپله .

استفهامیه کلمات — څوک ، چا ، څه ، کوم ، کومه ، کومے ، څو ، څومره ، کله ، چیرته ، چیرے ، ولے ، څه د پاره ، لیا څه له ، څنګه دی .

چا ، څوک : د ذوی العقولو پښتنے د پاره دی .

چا : په لاندینو حالاتو کښے استعمالیږی :

۱ — چه مستفهم عنه مضاف الیه واقع وی لکه : دچا کور .

۲ — چه مستفهم عنه مفعول (پرته دمفعول به) واقع شی مثلاً : چاته ، په چا ، له چا ، چا دپاره ، چاسره .

۳ — چه مستفهم عنه سره آرووونکی توری آو کلمات راشی لکه : چاڅخه ، چاځینے ، چالاندے ، چاباندے ، پرچا ، چاپورے ، چاغوندے ، چاپڅېر ، چا په شان ، چاشانته ، چاپه راز ، چاپه دول ، چاپه دود ، ترچا .

۴ — چه مستفهم عنه دمتعدی فعل دماضی فاعل واقع شی مثلاً : چاوواهه ، چا وربراوه .

۵ — چه مستفهم عنه دمخصوص لازمی (ل) والا مصادرو دماضی فعل فاعل واقع شی : چاوژړل ، چاوخندل ، چاودانګل .

۶ — هرکله چه مستفهم عنه مستثناء واقع شی : بے چا ، پرته له چا .

څوک : پرته دپاسنو حالاتو نور په درستو احوالو کښے استعمالیږی .

څه : دغیر ذوی العقولو دپښتنے دپاره استعمالیږی : څه وه ، څه ئے وویل .

که د ذوی العقولو د پښتنے د پاره استعمال شی مدعا تحقیر آو استخفاف دی په دغے عبارے سره ئے د ذوی العقولو د لے څخه باسی . مثلاً هغه څه سړه ی ده ی .

کوم : د سوال په موقع کښے د هغه ساهو لیا اشیاؤ د پښتنے د پاره استعمالیږی چه مذکر وی مثلاً : کوم سړه ی ، کوم کتاب ، کله کله د (یو) کلمه هم د سړه یو ځای کیږی : کوم یو سړه ی ، کوم یو ټغر ، کوم یو ځینے .

کومه : د هغه مفرد ساهو لیا اشیاؤ د پښتنے د پاره استعمالیږی چه مؤنث وی : کومه ښځه ، کومه ونه .

کومے : د هغے جمع ساهو لیا اشیاؤ د پښتنے د پاره استعمالیږی چه مؤنث وی : کومے ښځے ، کومے ونے .

څو : د کمیت (گنړه آو عدد) د پښتنے د پاره ده ی : څو روپی ؟

څومره : د مقدار د پښتنے د پاره ده ی : څومره غنم دی ، د پاره د پښتنے که د عدد راشی د پښتنے څخه مراد د پروالے ده ی . په ځینو ځایو کښے د استعمال د کثرت له لامله لیا هر څه چه وی (څونه) شوه ی .

کله : دوخت د پښتنے د پاره استعمالیږی : کله ځے .

چیرته : دځای د پښتنے د پاره استعمالیږی : چیرته وے .

چیرے : دغه هم دځای د پښتنے د پاره استعمالیږی .

ولے : دسبب د پښتنے د پاره استعمالیږی .

څنګه : دحال آو کیفیت د پښتنے د پاره استعمالیږی .

څله : دغه هم دسبب د پښتنے د پاره استعمالیږی .

د استفهامیو د کلماتو د تلفظ آو وښته :

د استفهامیو کلماتو د جملے څخه یو اځے (کوم ، کومه ، کومے) هر کله چه مستفهم عنه ئے دیوه نه د ېروی د تلفظ په وخت کښے په لاندینو ځایونو کښے لمړی آو درے یم په وروسته کښے (و) آو دوه یم په وروسته ښے (یے) مینده کوی .

۱- هر کله چه مستفهم عنه مضاف الیه واقع شی : د کومو ښځو ، د کومے ښځے ، د کومو سړو .

۲- هر کله چه مستفهم عنه مفعول (پرته د مفعول به) واقع شی : کومو ښځو ته ، کومے ښځے ته ، کومو سړو ته . . . . الخ .

۳- هر کله چه مستفهم عنه سره آر وونکی توری آو کلمات راشی : کوموسرو څخه ،
کومے آسپے ځینے ، کوموهېږ ولاندے ، کومے کوڼے باندے ... الخ .

۴- هر کله چه مستفهم عنه د متعدی فعل د ماضی صیغے فاعل واقع شی : کوموسرو پرے که
کومے آسپے وه غورځاوه ، کوموښځو وه واهه ..... الخ .

۵- هر کله چه مستفهم عنه د مخصوص لازمی (ل) والا مصادرو د ماضی صیغے فاعل واقع
شی : کوموهالکانو وژړل ، کومے جلۍ وخندل ، کوموښځو وخندل .

۶- هر کله چه مستفهم عنه مستثنا واقع شی : بے کوموهالکانو ، بے کومے جلۍ ،
پرته له کوموښځو .

موصول اسم — دښغے اشارے اسمونو ځینے عبارت ده ی چه مشارالیه ئے
مبهم وی ددغه دپاره چه د مشارالیه ددغه اشاراتو ابهام لرے کړ شی تر مشارالیه
وروسته یوه خبریه جمله راوړ له کېږی چه دغے ته (صله) وائی د دغه دپاره چه مشارالیه
د صلے سره ربط مینده کی د مشارالیه آو صلے تر منځ د (چه) لفظ استعمالېږی
چه دغه ته (د صلے ادات) وائی . مثلاً په دغے جملے کښے : ښغه کتاب چه تاته

مے درکړ : (ہغہ) موصول اسم ، (کتاب) مشار الیہ (چہ) وصلے تو رہ ی

(تا تہ مے درکړ) صلہ دہ .

لندہ ئے دغہ وصلے حرف چہ پہ پښتو کښے (چہ) دہ ی دیوہ عبارت دوو

برخو دربط دپارہ راځی .

څلورم څپرکه ی

ځیږنده

ځیږنده (مصدر) هغه کلمه ده چه بے له ملاحظے د ذات آو زمان پر یوه شی دلالت وکی، مصدر د درستو افعالو ځیږنده ده په پښتو کښے نښه ئے که څه هم یو اځے (ل) ده ی خو تر دغه لاجوته درے نښے لری: (ل، ول، ېدل) مگر د اشتقاقاتو په ملاحظه ئول مصادر پر پنځو برخو بېلیږی.

۱ــ هغه چه په وروسته کښے ئے یو اځے (ل) وی: لکه: وېل، تلل، ژړل، دغه د ول مصادر تل معلوم وی آو پر دوو برخو بېلیږی.

ا ــ متعدی: لکه: وېل، کوئل، ځېل.

ب ــ لازمی: چه دغه هم په خپل کور کښے دوه رازه دی:

۱ــ مخصوص: چه هغه د دغو څو مصادرو (ژړل، خندل، دانګل، غپل. . . . . آو نور.) څخه عبارت ده ی.

۲- غیر مخصوص : چه هغه د دغو پاسنو مصادرو څخه پرته نور ئول دی

لکه : تلل ، کېناستل ، ختل .

۲- هغه چه په وروسته کښې ئے (ول) وی لکه : رېږول ، سپینول ، دغه

د ول مصادر تل معلوم متعدی وی .

۳- هغه چه په وروسته کښې ئے (یدل) وی لکه : برېښېدل ، سپینېدل ،

دغه د ول مصادر پر دوو برخو بېلېږی :

ا- لازمی ، لکه : برېښېدل ، ښوه ئېدل .

ب- مجهول متعدی ، لکه : سپینېدل ، جوه تېدل .

دغه د ول مصادر یا لازم وی یا مجهول متعدی ، (چه بېلول ئے

په معنے پورے اړه لری) په دغه د ول مصادرو کښې

معلوم متعدی نشته .

۴- هغه چه په وروسته کښې ئے (کول) وی : دغه د ول مصادر تل معلوم

متعدی وی آو د فعل د مادے وروسته ی توره ی ئے (الف) لیا

(ه) لیا (یے) لیا (و) وی لکه: ہوساکول، ربړه کول، پرے کول، لامبو کول.

۵ـ ہغه چه په وروسته کښے ئے (کېدل) وی: دوغه دول مصادر و دفعل ماد ے وروسته ی توره ی (الف) لیا (ه) لیا (یے) لیا (و) وی لکه: ہوساکېدل، جرگه کېدل، پرے کېدل.

دغه دول مصادر ہم لکه (ئېدل) والا دوه رازه دی:

ا ـ لازمی لکه: ہوساکېدل.

ب ـ مجہول متعدی لکه: پرے کېدل.

دغه دول مصادر به لازمی وی که لازمی نه وه نو به ضرور مجہول متعدی وی په دغه دول مصادرو کښے معلوم متعدی نشته.

دپښتو مصادر دنوع په اعتبار پرڅلورو رازو بېلېږی:

۱ـ اصلی مصدر، ۲ـ جعلی مصدر،

۳ـ نوعی مصدر، ۴ـ مزید فیه مصدر.

اصلی مصدر : هغه مصدر ده ی چه په اصل کښې مصدر وی آو د پښتو مصادرو د نښو څخه یوه ولری یعنې د اسم څخه ساز شوه ی لیا خو د تورو په زیات والی جوړ شوه ی نه وی لکه : آو وښتل، لګول، پاڅېدل .

جعلی مصدر : هغه مصدر ده ی چه د اسم نه ساز شوه ی وی لکه : سمول، پاکول، سپینول .

نوعی مصدر : هغه مصدر ده ی چه دیوه اسم په وروسته کښې د (توب، تیا، واله ی) الفاظ چه په پښتو کښې د مصدریت ادات دی راشی لکه : سړیتوب، زړورتیا، سپین واله ی .

دغه سے مصادر که څه هم د مصدریت معنی لری ، اشتقاق تنې نه کېږی .

مزید فیه مصدر : هغه ده ی چه د تورو په زیات والی دیوه مصدره سره بل مصدر ساز شوه ی وی لیا د ځینو تورو په زیاتولو دیوه لفظ سره مصدر جوړ شوه ی وی، چه د غه هم په پښتو کښې دیو تورو (را، در، ور) په راوړلو جوړېږی لکه : راینول، راکاږل، درکول، دروستل، ورکول، ورتلل .

تام مصدر آو ناقص مصدر :

په پښتو کښې ځینې مصادر دی چه دهغو مصادرو څخه درست افعال ددرستو زمانو اشتقاق کېږی (۱) دغه سے مصادر وته (تام مصدر) وېل کېږی لکه : کړل، وېل، شیندل، ساتل . آو نور .

ځینې مصادر دی چه دهغو مصادرو نه نول افعال ددرستو زمانو نه اشتقاق کېږی مثلا دیوے زمانے لیا دوو زمانو ځینې اشتقاق کېږی اما دنورو زمانو افعال دوغه مصدر څخه نه کېږی بلکه دبل مصدر نه اشتقاق کېږی .

په دغه حال کښې که څه هم معنوی مناسبت موجود وی مگر لفظی مناسبت نه حاصلېږی نو دغه سے مصادر وته (ناقص مصدر) وېل کېږی لکه : تلل، کتل، وېستل .

مستعمل مصدر آو غیر مستعمل مصدر :

دپښتو مصادرو شهرت په اعتبار دوه رازه دی : یو مستعمل مصدر آو بل غیر مستعمل مصدر . مستعمل مصدر هغه مصدر ده ی چه استعمال ئے کېږی آو شهرت لری آو دیوے

---

(۱) چه لفظ آو معنا مناسبت سره ولری .

لیاُدوو لیا د درستو زمانو افعال تنے اشتقاقیږی لکه : کتل ، ځورندکول ،

لیکل . . . . آو نور .

مستعمل مصدر لیا تام وی لیا ناقص چه بیان ئے وشو .

غیر مستعمل مصدر هغه مصدر ده ی چه شهرت نه لری اما اشتقاق دیوے لیا د دوو زمانو

تنے کیږی لکه : ځل ، لارل ، چه لمری نه د حال آو د دوه یم نه د ماضی آو استقبال صیغے

اشتقاقیږی . په عمومی د ول سره غیر مستعمل مصادر ناقص وی یعنے د درستو زمانو

درست افعال نه تنے اشتقاقیږی آو د مستعمل مصدر متمم وی . کله کله دیوه مستعمل مصدر

متمم دوه غیر مستعمل مصدرونه وی لکه : چه (د تلل) متمم (لارل) آو (ځل) ده ی .

د ځیږندے د تلفظ آو وښته :

د مصدر تلفظ په لاندینو ځایو کښے آوری :

۱ــ هر کله چه د مصدر ه سره د (د) توره ی چه د لیاقت آو لزوم ادات ده ی راشی :

د وهلو سره ی ، د وهیلو خبره .

۲ــ هر کله چه د مفعول ادات ور سره راشی : وهلو ته ، په وهلو ، له وهلو ، وهلو د پاره ،

وہلو سرہ .

۳- ہر کلہ چہ آر وونکو تور وآو کلما تو سرہ راشی : وہلو څخہ ، وہلو باندے ، وہلو لاندے ،
وہلو کښے ، تللو پورے ، لوستلو ځینے ، وہوغوندے ،
وہلو پڅېر .

۴- ہر کلہ چہ د (بے) آو (پرتہ) سرہ (چہ د استثناء توری دی) راشی :
بے وہلو ، پرتہ لہ وژلو .

حاصل مصدر لیا اسم مصدر

ہغہ حال آو کیفیت ښئی چہ د فعل د حدوث نہ متولد وی لیا خو د پہ بلے عبارے سرہ
د مصدر د معنی حاصل بیا نہ وی .

حاصل مصدر پہ پښتو کښے مختلف اصول آو نښے لری . مثلاً :

۱- (آوہ) دہ چہ د فعل د مادے پہ وروستہ کښے راځی لکہ : لګاوہ ،
د باوہ ، کاوہ ، آو نور .

۲- (نہ) دہ چہ د فعل د مادے پہ وروستہ کښے راځی لکہ : وہنہ ، بښنہ ،

کرنه ، پښتنه ، آونور .

۳ـ (ه) ده چه دفعل د مادے په وروسته کښے راځی لکه : لیده ، کاته ، نالیده ، څلاسته ، آخیسته ، روغه ، پېښه ، آونور .

۴ـ (نګ) ده ی چه دفعل د مادے په وروسته کښے راځی لکه : تلنګ ، کونګ ، هوسېدنګ ، آخیستنګ ، آونور .

۵ـ (ون) ده ی چه دفعل د مادے په وروسته کښے راځی لکه : ګندون ، لمسون ، پرے کون ، لنګون ، آونور .

۶ـ (ښت) ده چه دفعل د مادے په وروسته کښے راځی لکه : سپارښت ، جوړښت ، زړښت ، آونور .

۷ـ (ا) ده ی چه دفعل د مادے په وروسته کښے راځی لکه : ژړا ، هنګولا ، برېښنا ، رنړا ، آونور .

نور هم لکه : پاړسوب ، پخلی ، چلند ، سوّه ی ، آونور د هر دی چه په آورېدو پورے اړه لری .

دوه یمه څانګه

کره

لمره ی څپرکه ی

خپله کره

هغے کلمے له چه دیوے چارے وقوع لیانه وقوع وښئی فعل وییل کیږی په دغه شرط چه پر ذات آو زمان (۱) دلالت وکی لکه: (وئے لیکه، لیکی، وبه لیکی) چه په دغو کښے لمری چاره پخوا شوے، دوه یمه چاره هوس کیږی، درے یمه چاره به وروسته وشی.

ځینے صفتونه له فعل څخه هم سازیږی چه پر زمانے دلالت نه کوی آو یو اځے په یوے

---

(۱) زمانے چه فعل پرے دلالت کوی درے دی: ۱- ماضی یعنے پخوا، ۲- حال یعنے هوس، ۳- استقبال یعنے وروسته.

چارے باندے متصف یو ذات ښئی چه دغه ته (دفعل فرع) وائی آو بیان به ئے وروسته راشی .

دفعل ماده — له مصدر نه چه د مصدر ادات بشپړ لیا ځینے توری ئے لرے کړل شی پاتے دفعل ماده ده :

اصل مصدر	دفعل ماده
ژړل	ژړ
څملاستل	څملاست
وېل	وه
ځندول	ځند
غوزارول	غوزار
رېږېدل	رېږېد
سپینېدل	سپین
مړکول	مړ
پرے کېدل	پرے

مثبت ، منفی :

مثبت — هغه ده ی چه دیوے چارے وقوع وښئی لکه : ځی ، وهی .

منفی — هغه ده ی چه دیوے چارے نه وقوع وښئی لکه : نه ځی ، نه وهی .

په پښتو کښے د نفی ادات (نه) ده ی .

لازم آو متعدی :

لازم — هغه فعل ده ی چه معنائے د فاعل (۱) پر حال آو شان منحصره وی یعنی هغه فعل ده ی چه بے له فاعله په بل سری لیا بل شی کښے ئے آغیزه جوته نشی مثلاً : خاندم ، ژارم . د غلته هغه معنا چه د غه فعل ئے بیانه وی دویونکی حال آو شان څخه عبارت ده ی چه په خارج کښے ئے اثر و نه ښود آو معنائے تمامه شوه .

متعدی — هغه فعل ده ی چه معنی ئے د فاعل پر حال آو شان منحصره نه وی آو آغیزه ئے په بل سری لیا بل شی کښے ولیدله شی لکه : لښته پرے که ، تیږه ماته که ، پښتانه سره مینه وکه .

---

(۱) فاعل : د بیان شوے چارے کوونکی ته وهیل کیږی .

چه دلته معنی د (پرے که، ماته که، مینه وکه) افعالو پر مخاطب باندے منحصره پاتے نشوه بلکه په (لښته، تیږه، پښتانه) کښے نے آغیزه جوته شوه چه وروستیو ته مفعول وییل کیږی.

فائده - په تیرو مثالو کښے که یو اځے (پرے که، ماته که، مینه وکه) وه وایو آو خبره پرے کو، خبره نه بشپړیږی ځکه چه مخاطب به پښتنه وکی چه: څه شه ی پرے کم، څه شه ی ماته کم، چا سره مینه وکم. دلته نو مږ ارېږو چه (لښته، تیږه، پښتانه) وه وایو نو په دغه حال کښے خبره بشپړه آو مخاطب غله ی شی.

نو دیوه فعل د پېژاندلو د پاره چه لازمی ده ی که متعدی باید د مذکورے پښتنے په ځواب وه وییل شی چه (یو سره ی، یو شه ی) که معنی سمه و نه خته فعل لازمی ده ی آو که و خته متعدی ده ی.

دلازمی فعل څخه متعدی فعل سازول:

دلازمی فعل نه متعدی فعل په لاندینو د ولو نو سره سازیږی:

۱ - که مصدر (ل) والاوی دلام نه مخکے د (و) توره ی راوړل کیږی:

لازمی	متعدی
ژړل	ژړول
خندل	خندول
وېیل	وېیول

۲- که مصدر (پدل) والاوی (پدل) ځینے لرے کر کېږی آو په عوض ئے (ول) راو ړل کېږی:

لازمی	متعدی
برېښېدل	برېښول
جوتېدل	جوتول

۳- که مصدر (کېدل) والاوی (کېدل) تینے لرے کر کېږی په عوض ئے (کول) راو ړل:

لازمی	متعدی
هوساکېدل	هوساکول

پخلا کېدل　　پخلا کول

دځینو لازمی افعالو متعدی خلاف القیاس دی مثلاً د (تلل) د فعل متعدی (بیول) دهی.

معلوم، مجهول:

متعدی فعل لیا[1] معلوم وی لیا مجهول:

معلوم — هغه فعل دهی چه فاعل ئے ذکر شوهی وی لکه په دغے جملے کښے چه (آځک وتک ئے وه واهه) د (وه واهه) فعل معلوم دهی ځکه چه فاعل یعنے آځک چه وتک ئے وهلهی په عبارے کښے ذکر شوهی.

مجهول — هغه فعل دهی چه فاعل ئے ذکر شوهی نه وی آو مفعول د فاعل ځای نیولهی وی لکه په دغے جملے کښے چه (وتک وه وهل شو) د (وه وهل شو) فعل مجهول دهی ولے چه فاعل یعنے آځک چه دوتک وهونکهی دهی ذکر نشو، وتک چه مفعول دهی په ترکیب کښے د فاعل پرځای راغلهی آو په همدغه مناسبت سره (نائب فاعل) ورته وهیل کیږی، چه دنحوے په برخه کښے به ئے بیان

(۱) لازمی فعل تل معلوم دی نه مجهولیږی.

راشی .

د معلوم نه مجهول ساز ول :

د معلوم نه مجهول په لاندینو د ولو نو سره ساز یږی :

۱ـ که مصدر (ل) والا وی د مصدر نه وروسته (کېدل) راوړل کېږی :

معلوم	مجهول
وېل	وېل کېدل
کتل	کتل کېدل
کوڼل	کوڼل کېدل

۲ـ که مصدر (ول) والا وی مجهول ئے پر دوه د وله سره ساز یږی :

الف ـ د مصدریت نښه لرے کېږی په حای ئے (یدل) راوړل کېږی :

معلوم	مجهول
ځندول	ځندېدل
ربړول	ربړېدل

ب ـ د مصدریت نښه په ځای دی آو په وروسته کښې ئے (کېدل) راوړل کېږی:

معلوم	مجهول
ژړول	ژړول کېدل
ربړول	ربړول کېدل

۳ ـ که مصدر (کول) والاوی د مصدریت نښه ړے کېږی په ځای ئے (کېدل) راوړل کېږی:

معلوم	مجهول
جګړه کول	جګړه کېدل
ربړه کول	ربړه کېدل

ځینے لازمی افعال که وغوښتے شی چه مجهول شی باید لمړی متعدی، بیا مجهول شی مثلاً (نخښل) باید لمړه ی (نخښول) بیا (نخښول کېدل) شی.

د ماضی فعل

په پښتو کښې د ماضی زمانه وا فعالو په اعتبار آو د ول د اشتقاق ئے په لاندینو

برخو بیلیږی :

شهودی ماضی (مطلقه ماضی)، بعیده ماضی، نقلی ماضی (قریبه ماضی)، استمراری ماضی، احتمالی ماضی (شکیه ماضی)، تمنائی ماضی آو شرطیه ماضی.

شهودی ماضی لیا مطلقه ماضی :

شهودی ماضی هغه صیغه ده چه یوه چاره مخکے واقع شوے وی آو متکلم لیدلے وی لیا دلیدلے په څېرورته معلومه وی. اشتقاق ئے د مصدرو څخه د پښتو مصادرو په اعتبار په لاندینی دول سره کیږی :

۱ــ د (ل) والا مصادرو څخه :

الف ــ د مخصوص لازمی (ل) والا مصادرو (ژړل، خندل، دانګل، لامبل، نڅل، نوخل، غپل، آونور) نه مخکے په اثبات کښے مرکب فعلی ضمائر آو د هغو نه مخکے (و) راوړل کیږی په نفی کښے تر ضمیر وروسته د نفی ادات (نه) هم راوړل کیږی :

مثبت	منفی
وے ژړل	وے نه ژړل
وو وے ژړل	وو وے نه ژړل
وئے ژړل	وئے نه ژړل
وموژړل	وموه نه ژړل
وموژړل	وموه نه ژړل
وئے ژړل	وئے نه ژړل

ب ـ د غیر مخصوص لازمی (ل) والا مصادرو نه د شهودی ماضی اشتقاق په دوه دوله سره کیږی:

۱ ـ د ځینو مصادرو نه چه د مصدریت نښه لرے شی د فعل د مادے په سر کښے د (و) توره ی زیاتیږی او په وروسته کښے بسیط فعلی ضمیرونه راوړل کیږی په نفی کښے د (و) د توری نه وروسته د نفی ادات (نه) هم زیاتیږی لکه:

مثبت	منفی
ورغبتم	ونه رغبتم
ورغبتے	ونه رغبتے
ورغبت	ونه رغبت
ورغبتو	ونه رغبتو
ورغبتی	ونه رغبتی
ورغبتل	ونه رغبتل

تبصره — په هغه دول مصادرو کښے چه لمړه ی توره ی نے (الف) وی
د نفی ادات د (الف) نه وروسته راوړل کیږی: واثوتم ، وانه وښتم.
۲— د ځینو مصادرو نه صرف د مصدریت نښه لرے کړه کیږی د پاتے
په وروسته کښے بسیط فعلی ضمیرونه راوړل کیږی په نفی کښے
د نفی ادات (نه) د فعل د ماوے
په منځ کښے نښه وو ځی لکه:

مثبت	منفی
کېناستم	کښے نه ناستم
کېناستے	کښے نه ناستے
کېناست	کښے نه ناست
کېناستو	کښے نه ناستو
کېناستې	کښے نه ناستې
کېناستل	کښے نه ناستل

ج ۰ـ د متعدی (ل) والا مصادرونه :

د متعدی (ل) والا مصادرونه هم د مطلقے ماضی اشتقاق په دوه دوله سره کېږی :

۱ـ د ځینو مصادرونه هر کله چه د مصدریت نښه لرے کر له شی نو د فعل د مادے په سر کښے د فاعل د تعیین د پاره مرکب فعلی ضمیرونه آو د مفعول د تعیین د پاره په دروسته کښے بسیط فعلی ضمیرونه آو د ټولو په سر کښے د (و) توره ی راوړل

کېږی . په نفی کښې تر مرکب فعلی ضمیر وروسته د نفی ادات (نه) هم راوړل کېږی :

مثبت	منفی
وے نوْمبه	وے نه نوْمبه
ودے نوْمبه	ودے نه نوْمبه
وئے نوْمبه	وئے نه نوْمبه
ومو نوْمبه	ومو نه نوْمبه
ومو نوْمبه	ومو نه نوْمبه
وئے نوْمبه	وئے نه نوْمبه

تبصره — د (کښل، آغوستل، وړل، آخیستل، درلودل) نه د مطلقے ماضی اشتقاق خلاف القیاسه ده ی لکه : وے کیښ، وامے خیست، وامے غوست، درلودے، یومے وور .

۲ — د ځینو مصادرو په سر کښې د (و) توره ی پسے د فاعل د تعیین د پاره

مرکب فعلی ضمیرونه ورپسے دمصدر دلمری یا دوه یم توری نه وروسته دالف توره ی وروسته دمصدر نه دمصدریت نښه لرے کېږی آو دپاتے په وروسته کښے دمفعول دتعین دپاره بسیط فعلی ضمیرونه راوړل کېږی په نفی کښے ترمرکب فعلی ضمیروروسته دنفی ادات نه هم راوړل کېږی ؛ لکه :

مثبت	منفی
وے پلا نه	وے نه پلا نه
ووے پلا نه	ووے نه پلا نه
وئے پلا نه	وئے نه پلا نه
وو پلا نه	وو نه پلا نه
وو پلا نه	وو نه پلا نه
وئے پلا نه	وئے نه پلا نه

تبصره — دکتل آو لرل نه مطلقه ماضی خلاف لقیاسه ده لکه : وے کوت، لاره ے .

۲-۰ (ول) والا مصادر وڅخه :

الف- دهغه د ول (ول) والا مصادر وڅخه (چه د فعل ماده ئے صفت لیا مخفف د مفعول اسم لیا منسوب اسم وی) د شهودی ماضی اشتقاق دغه سے کیږی چه د مصدر نه د مصدریت نښه لرے کړله کیږی د پاتے په وروسته کښے د فاعل د تعین د پاره (مرکب فعلی ضمیرونه) پسے د (کړ) لفظ ورپسے د مفعول د تعین د پاره (بسیط فعلی ضمیرونه) راوړل کیږی. په نفی کښے د (کړ) د لفظ نه مخکے د نفی ادات (نه) هم راوړل کیږی :

مثبت	منفی
غوزارمے کړ	غوزارمے نه کړ
غوزاردے کړ	غوزاردے نه کړ
غوزارئے کړ	غوزارئے نه کړ
غوزارمو کړ	غوزارمو نه کړ
غوزارمو کړ	غوزارمو نه کړ

غوزارے کړ　　غوزارے نه کړ

په پاسنی مثال کښے مفعول غائب مفرد ذکر شوه ی که مفعول بل څوک وی هغه ضمیر راوړل کیږی چه دهماغه مفعول قائمقام وی:

	مفرد	جمع
متکلم :	غوزار دے کړم	غوزار دے کړو
مخاطب :	غوزارے کړے	غوزارے کړی
غائب :	غوزارے کړ	غوزارے کړل

که دوغه سے مصادر و دفعل ماده جمع ولری دجمع دصیغو په اشتقاقاتو کښے دفعل ماده دجمع په دول ذکر کیږی:

لکه : تودے کړ ، تاوده ے کړل .

که مفعول مؤنث وی دفعل دمادے په وروسته کښے دمفرد دپاره دتانیث ادات (ه) آو دجمع دپاره مجهوله (یے) هم راوړله کیږی:

	مفرد	جمع
متکلم :	غوزاره وے کړم	غوزارے وے کړو
مخاطب :	غوزارے کړے	غوزارے مے کړی
غائب :	غوزارئے کړله	غوزارئے کړلے

ب ـ دنورو (ول) والا مصادرو څخه یعنے هغه چه د فعل ماده ئے صفت لیا هغه نورنه وی دشهودی ماضی اشتقاق دغه سے کیږی لکه چه د (ل) والا مصادرو د (ج) په ماده کښے ئے بیان وشو . مګر یو اځے په غائب مفرد کښے د تلفظ دسهولت لیا فصاحت دپاره هرڅه چه وی دفعل د مادے په وروسته کښے (الف) هم زیاتیږی :

مثبت	منفی
وے ځنداوه	وے نه ځنداوه
وے ځنداوه	وے نه ځنداوه
وئے ځنداوه	وئے نه ځنداوه

وموځنداوه	وموځنداوه
وموځنداوه	ومونه ځنداوه
وئے ځنداوه	وئے نه ځنداوه

پاسنی مثال کښے مفعول غائب مفرد ده ی که مفعول بل څوک وی هغه ضمیر راوړل کیږی چه دهماغه مفعول قائمقام وی:

	مفرد	جمع
متکلم:	ودے ځندولم	ودے ځندولو
مخاطب:	ومے ځندولے	ومے ځندولی
غائب:	ومے ځنداوه	ومے ځندول

۳ - د (یدل) والا مصادر وڅخه:

الف: دهغه د ول (یدل) والا مصادر وڅخه (چه دفعل ماده ئے صفت لیا مخفف ومفعول اسم لیا منسوب اسم وی) دشهودی ماضی اشتقاق دغه سے کیږی چه ومصدر نه ومصدریت نښه لرے کیږی دپاتے په وروسته کښے

د اثبات د پاره د (شو) لفظ آو پسے (بسیط فعلی ضمیرونه) راوړل کیږی
په نفی کښے د (شو) نه مخکے د نفی ادات (نه) هم راوړل کیږی :

مثبت	منفی
غوزار شوم	غوزار نه شوم
غوزار شوے	غوزار نه شوے
غوزار شو	غوزار نه شو
غوزار شوو	غوزار نه شوو
غوزار شوی	غوزار نه شوی
غوزار شول	غوزار نه شول

که د دغه سے مصادرو د فعل ماده جمع ولری د جمع د صیغو په اشتقاقاتو کښے
د فعل ماده د جمع په ځای استعمالیږی .

لکه : تو د شوم ، تا وده شوو .

که مفعول مؤنث وی د فعل د مادے په وروسته کښے د مفرد د پاره د تانیث

ادات (ھ) آو د جمع د پاره مجهوله (یے) راورله کیږی :

مفرد	جمع
غوزاره شوم	غوزارے شوو
غوزاره شوے	غوزارے شوی
غوزاره شوله	غوزارے شولے

ب : ۰ نورو (یدل) والا مصادر وڅخه یعنے چه د فعل ماده ئے صفت لیاهغه نور نه وی، د شهودی ماضی اشتقاق دغه سے کیږی چه یو اځے د مصدر (ل) لرے کیږی د پاتے په وروسته کښے (بسیط فعلی ضمیرونه) آو د ټولو په سر کښے د (و) توره ی راورل کیږی، په نفی کښے د فعل د مادے نه مخکے د نفی ادات (نه) هم راورل کیږی :

مثبت	منفی
وربریدم	ونه ربریدم
وربریدے	ونه ربریدے

وربرېد	ونه ربرېد
وربرېدو	ونه ربرېدو
وربرېدی	ونه ربرېدی
وربرېدل	ونه ربرېدل

۴ - د (کول) والا مصادر وڅخه:

د (کول) والا مصادر ونه د شهودی ماضی اشتقاق بېدو دغه سے کېږی لکه چه د (ول) والا مصادر و د (الف) په ماده کښے ئے بیان وشو:

مثبت	منفی
مرمے کړ	مرمے نه کړ
مردے کړ	مردے نه کړ
مرئے کړ	مرئے نه کړ
مرمو کړ	مرمو نه کړ
مرمو کړ	مرمو نه کړ

مړئے کړ　　مړئے نه کړ

په پاسنی مثال کښې مفعول غائب مفرد ذکر شوه ی که مفعول بل څوک وی هغه ضمیر را وړل کیږی چه دهماغه مفعول قائمقام وی :

	مفرد	جمع
متکلم :	مړ دے کړم	مړه دے کړو
مخاطب :	مړے کړے	مړه ے کړی
غائب :	مړئے کړ	مړه ئے کړل

که دفعل ماده جمع ولری دجمع دصیغو په اشتقاقاتو کښې دفعل ماده دجمع په دول استعمالیږی لکه چه دجمع په پاسنی مثال کښې (مړ) د (مړه) په دول چه جمع ده ی ذکر شوه ی.

که مفعول مؤنث وی دفعل دمادے په وروسته کښې دمفرد دپاره دتانیث ادات (ه) آو دجمع دپاره مجهوله (یلے) راوړله کیږی :

مفرد	جمع
مره دے کرم	مرے دے کرو
مره مے کرے	مرے مے کری
مره ئے کرله	مرے ئے کرلے

۵ـ د (کېدل) والا مصادر وڅخه :

د (کېدل) والا مصادر وڅخه د شهودی ماضی اشتقاق بېدو د غه سے کېږی لکه چه (ېدل) والا مصادر و د (الف) په ماده کښے ئے بیان آو ذکر وشو :

مثبت	منفی
ورک شوم	ورک نه شوم
ورک شوے	ورک نه شوے
ورک شو	ورک نه شو
ورک شوو	ورک نه شوو
ورک شوی	ورک نه شوی

ورک شول　　ورک نه شول

که دفعل ماده جمع ولری دجمع دصیغو په اشتقاقاتو کښے دفعل ماده دجمع په دول استعمالیږی .

لکه : مر شوم ، مره شوو .

که مفعول مؤنث وی دفعل دمادے په وروسته کښے دمفرد دپاره دتأنیث ادات (ه) آو دجمع دپاره مجهوله (یے) راورله کیږی :

مفرد	جمع
ورکه شوم	ورکے شوے
ورکه شوے	ورکے شوی
ورکه شوله	ورکے شولے

بعیده ماضی

بعیده ماضی هغه ده چه یوه چاره چه دیره مخکے واقع شوے وی ښئی دوغے

زمانے صیغے مخکینی لرے افعالو پورے اړه لری. اشتقاقات ئے د پښتو مصادرو په اعتبار په لاندینی ډول سره کېږی :

۱- د (ل) والا مصادرو څخه :

الف : د مخصوص لازمی (ل) والا مصادرو څخه د روسته په اثبات کښے (معروفه یے) آو تر هغه د روسته (مرکب فعلی ضمیرونه) آو تر ضمیر د روسته (وه) راوړل کېږی په نفی کښے د ضمیر نه د روسته (نه) هم راوړل کېږی :

مثبت	منفی
ژړلی مے وه	ژړلی مے نه وه (۱)
ژړلی دے وه	ژړلی دے نه وه
ژړلی ئے وه	ژړلی ئے نه وه
ژړلی مو وه	ژړلی مو نه وه

(۱) ځینے خلک په نفی کښے لږه ی د نفی ادات (نه) پسے (مرکب فعلی ضمیرونه) ورپسے (وه) د روسته (صیغه) راوړی. مثلاً وائی : نه مے وه ژړلی.

ژړلی مو وه	ژړلی مو نه وه
ژړلی ئے وه	ژړلی ئے نه وه

ب : دپاسنو مصادرو څخه پرته دنورو لازمی (ل) والا مصادرو په وروسته کښے دمفرد مذکر دپاره (ے ی) آو دمفرد مؤنث دپاره (مجهوله یے) آو دجمع دپاره که مذکر وی یا مؤنث (معروفه یے) پسے د (و) توره ی ورپسے (بسیط فعلی ضمیرونه) راوړل کیږی . په نفی کښے د (و) دتوری نه مخکے دنفی ادات (نه) هم راوړل کیږی :

مذکر		مؤنث	
مثبت	منفی	مثبت	منفی
کېناستلی وم	کېناستلی نه وم	کېناستلے وم	کېناستلے نه وم
کېناستلی وے	کېناستلی نه وے	کېناستلے وے	کېناستلے نه وے
کېناستلی وه	کېناستلی نه وه	کېناستلے وه	کېناستلے نه وه
کېناستلی وو	کېناستلی نه وو	کېناستلے وو	کېناستلے نه وو

کېناستلی وی	کېناستلی نه وی	کېناستلے وی	کېناستلے نه وی
کېناستلی وه	کېناستلی نه وه	کېناستلے وے	کېناستلے نه وے

ج : دنورو متعدی (ل) والا مصادرو په وروسته کښے که مفعول مذکر مفرد وی (ه ی)

آو که مؤنث مفرد وی مجهوله (یے) آو که جمع مذکر لیا مؤنث وی (معروفه یے)

پسے د فاعل د تعین د پاره (مرکب فعلی ضمیرونه) ورپسے د (و) توره ی وروسته

تر واو د مفعول د تعین د پاره (بسیط فعلی ضمیرونه) راوسل کېږی . په نفی کښے

دواو توری نه مخکے د نفی ادات (نه) هم راوسل کېږی :

مذکر		مؤنث	
مثبت	منفی	مثبت	منفی
وهلی مے وه	وهلی مے نه وه	وهلے مے وه	وهلے مے نه وه
وهلی دے وه	وهلی دے نه وه	وهلے دے وه	وهلے دے نه وه
وهلی ئے وه	وهلی ئے نه وه	وهلے ئے وه	وهلے ئے نه وه
وهلی مو وه	وهلی مو نه وه	وهلے مو وه	وهلے مو نه وه

وہلہ ی مو وہ　　وہلہ ی مو نہ وہ　　وہلے مو وہ　　وہلے مو نہ وہ

وہلہ ئے وہ　　وہلہ ی ئے نہ وہ　　وہلے ئے وہ　　وہلے ئے نہ وہ

پہ پاسنو مثالو کښے مفعول غائب مفرد ذکر شوہ ی کہ مفعول بل څوک وی ہغہ ضمیر راوړل کیږی چہ د ہماغہ مفعول قائمقام دی:

	مذکر		مؤنث	
	مفرد	جمع	مفرد	جمع
متکلم	وہلہ ی دے وم	وہلی دے وو	وہلے دے وم	وہلے دے وو
مخاطب و غائب	وہلہ ی مے وے	وہلی مے وی	وہلے مے وے	وہلے مے وی
	وہلہ ی مے وہ	وہلی مے وہ	وہلے مے وہ	وہلے مے وے

۲- (ول) والا مصادر وڅخہ:

الف: دہغہ د ول (ول) والا مصادر وڅخہ (چہ د فعل مادہ ئے صفت لیا د مفعول اسم مخفف لیا منسوب اسم وی) د بعیدے ماضی اشتقاق دغہ سے کیږی چہ د مصدر څخہ د مصدریت نښہ لرے کیږی د پاتے پہ وروستہ کښے کہ مفعول مذکر مفرد وی (کړہ ی) آو کہ مؤنث مفرد وی (کړے) آو کہ جمع مذکر لیا مؤنث وی (کړی)

پسے د فاعل د تعین د پاره (مرکب فعلی ضمیرونه) ورپسے د (و) توره ی وروسته تر واو د مفعول د تعین د پاره (بسیط فعلی ضمیرونه) راوړل کیږی په نفی کښے د (و) نه مخکے د نفی ادات (نه) هم راوړل کیږی. که مفعول مؤنث وی د فعل د ماده په وروسته کښے د مفرد د پاره (ه) او د جمع د پاره مجهوله (یے) چه د تانیث نښے دی هم راوړل کیږی:

مذکر

مثبت	منفی
غوزار کړه ی مے وه	غوزار کړه ی مے نه وه
غوزار کړه ی دے وه	غوزار کړه ی دے نه وه
غوزار کړه ی ئے وه	غوزار کړه ی ئے نه وه
غوزار کړه ی مو وه	غوزار کړه ی مو نه وه
غوزار کړه ی مو وه	غوزار کړه ی مو نه وه
غوزار کړه ی ئے وه	غوزار کړه ی ئے نه وه

مؤنث

مثبت	منفی
غوزاره کړے مے وه	غوزاره کړے مے نه وه
غوزاره کړے دے وه	غوزاره کړے دے نه وه
غوزاره کړے ئے وه	غوزاره کړے ئے نه وه
غوزاره کړے مو وه	غوزاره کړے مو نه وه
غوزاره کړے مو وه	غوزاره کړے مو نه وه
غوزاره کړے ئے وه	غوزاره کړے ئے نه وه

په پاسنو مثالو کښے مفعول غائب مفرد ذکر شوه ی که مفعول بل څوک وی هغه ضمیر راوړل کیږی چه دهماغه مفعول قائمقام وی:

مذکر

مفرد	جمع
غوزار کړه ی دے وم	غوزار کړی دے وو

غوزار کړه ی مے وے	غوزار کړی مے وی
غوزار کړه ی مے وه	غوزار کړی مے وه

مؤنث

مفرد	جمع
غوزاره کړے دے وم	غوزارے کړے دے وو
غوزاره کړے مے وے	غوزارے کړے مے وی
غوزاره کړے مے وه	غوزارے کړے مے وے

ب : دنورو (ول) والا مصادر ویعنے ہغو څخه چه د فعل ماده ئے صفت لیا ہغه نور نه وی دبعیدے ماضی اشتقاق دغه سے کیږی لکه چه د (ل) والا مصادر ود (ج) په مادے کښے ئے بیان وشو :

مذکر

مثبت	منفی
ربړ ولړ ی مے وه	ربړ ولړ ی مے نه وه

رہبر ولہ ی دے وہ	رہبر ولہ ی دے نہ وہ
رہبر ولہ ی ئے وہ	رہبر ولہ ی ئے نہ وہ
رہبر ولہ ی مو وہ	رہبر ولہ ی مو نہ وہ
رہبر ولہ ی مو وہ	رہبر ولہ ی مو نہ وہ
رہبر ولہ ی ئے وہ	رہبر ولہ ی ئے نہ وہ

مؤنث

مثبت	منفی
رہبر ولے ے وہ	رہبر ولے ے نہ وہ
رہبر ولے دے وہ	رہبر ولے دے نہ وہ
رہبر ولے ئے وہ	رہبر ولے ئے نہ وہ
رہبر ولے مو وہ	رہبر ولے مو نہ وہ
رہبر ولے مو وہ	رہبر ولے مو نہ وہ
رہبر ولے ئے وہ	رہبر ولے ئے نہ وہ

په پاسنو مثالو کښې مفعول غائب مفرد ذکر شوه ی که مفعول بل څوک وی هغه ضمیر راوړل کیږی چه د هماغه مفعول قائمقام وی :

مذکر

مفرد	جمع
ربړ ولهٔ ی دے وم	ربړ ولی دے وو
ربړ ولهٔ ی مے وے	ربړ ولی مے وی
ربړ ولهٔ ی مے وه	ربړ ولی مے وه

مؤنث

مفرد	جمع
ربړ ولے دے وم	ربړ ولے دے وو
ربړ ولے مے وے	ربړ ولے مے وی
ربړ ولے مے وه	ربړ ولے مے وے

۳ــ د (ېدل) والا مصادر وڅخه :

الف : دہغہ دول (یدل) والا مصادر وڅخہ (چہ د فعل مادہ ئے صفت لیا د مفعول اسم مخفف، لیا منسوب اسم وی) د بعیدے ماضی اشتقاق دغہ سے کیږی چہ د مصدر نہ د مصدریت نښہ لرے کیږی د پاتے پہ وروستہ کښے د مذکر مفرد د پارہ (شوہ ی) آو د مؤنث مفرد د پارہ (شوے) د جمع د پارہ کہ مذکر وی لیا مؤنث (شوی)، پسے د (و) تورہ ی ورپسے (بسیط فعلی ضمیر و نہ) راوړل کیږی پہ نفی کښے د (و) د توری نہ مخکے د نفی ادات (نہ) ہم راوړل کیږی. کہ مفعول مؤنث وی د مفرد د پارہ د فعل د مادے پہ وروستہ کښے (ہ) آو د جمع د پارہ مجہولہ (یے) چہ د تأنیث نښے دی ہم راوړلہ کیږی:

مذکر

مثبت	منفی
غوزار شوہ ی وم	غوزار شوہ ی نہ وم
غوزار شوہ ی وے	غوزار شوہ ی نہ وے
غوزار شوہ ی وہ	غوزار شوہ ی نہ وہ

غوزارشوی وو	غوزارشوی نه وو
غوزارشوی وی	غوزارشوی نه وی
غوزارشوی وه	غوزارشوی نه وه

مؤنث

مثبت	منفی
غوزاره شوے وم	غوزاره شوے نه وم
غوزاره شوے وے	غوزاره شوے نه وے
غوزاره شوے وه	غوزاره شوے نه وه
غوزارے شوے وو	غوزارے شوے نه وو
غوزارے شوے وی	غوزارے شوے نه وی
غوزارے شوے وے	غوزارے شوے نه وے

ب : دهغه دول (بدل) والا مصادر وڅخه (چه دفعل ماده ئے صفت لیا هغه نور نه وی) دبعیدے ماضی اشتقاق دغه سے کیږی چه دمصدر په وروسته کښے

د مذکر مفرد د پاره (ه ی) آو د مؤنث مفرد د پاره مجهوله (یے) آو د مذکر لیا مؤنث د جمع د پاره معروفه (ی)، پسے د (و) توره ی، ور پسے (بسیط فعلی ضمیرونه) راو سال کیږی په نفی کښے د (و) د توری نه مخکے د نفی ادات (نه) هم راو سال کیږی:

مذکر

مثبت	منفی
ربر یدله ی وم	ربر یدله ی نه وم
ربر یدله ی وے	ربر یدله ی نه وے
ربر یدله ی وه	ربر یدله ی نه وه
ربر یدلی وو	ربر یدلی نه وو
ربر یدلی وی	ربر یدلی نه وی
ربر یدلی وه	ربر یدلی نه وه

مؤنث

مثبت	منفی
ربر یدلے وم	ربر یدلے نہ وم
ربر یدلے وے	ربر یدلے نہ وے
ربر یدلے وہ	ربر یدلے نہ وہ
ربر یدلے وو	ربر یدلے نہ وو
ربر یدلے وی	ربر یدلے نہ وی
ربر یدلے وے	ربر یدلے نہ وے

۴ــ د (کول) والا مصادر وڅخہ :

د (کول) والا مصادر وڅخہ د بعیدے ماضی اشتقاق دغہ سے کیږی لکہ چہ د (ول) والا مصادر و د (الف) پہ مادے کښے ئے بیان وشو :

مذکر

مثبت	منفی
پرے کړہ ی مے وہ	پرے کړہ ی مے نہ وہ

پرے کرہ ی دے وہ	پرے کرہ ی دے نہ وہ
پرے کرہ ی ئے وہ	پرے کرہ ی ئے نہ وہ
پرے کرہ ی مو وہ	پرے کرہ ی مو نہ وہ
پرے کرہ ی مو وہ	پرے کرہ ی مو نہ وہ
پرے کرہ ی ئے وہ	پرے کرہ ی ئے نہ وہ

مؤنث

مثبت	منفی
پرے کرے مے وہ	پرے کرے مے نہ وہ
پرے کرے دے وہ	پرے کرے دے نہ وہ
پرے کرے ئے وہ	پرے کرے ئے نہ وہ
پرے کرے مو وہ	پرے کرے مو نہ وہ
پرے کرے مو وہ	پرے کرے مو نہ وہ
پرے کرے ئے وہ	پرے کرے ئے نہ وہ

په پاسنو مثالو کښې مفعول غائب مفرد ذکر شوه ی که مفعول بل څوک وی هغه ضمیر راورل کېږی چه د هماغه مفعول قائمقام وی:

مذکر

مفرد	جمع
پرے کړه ی مے وے	پرے کړه ی مے وی
پرے کړه ی دے وم	پرے کړی دے وو
پرے کړه ی مے وه	پرے کړی مے وه

مؤنث

مفرد	جمع
پرے کړے مے وے	پرے کړے مے وی
پرے کړے دے وم	پرے کړے دے وو
پرے کړے مے وه	پرے کړے مے وے

۵ — د (کېدل) والا مصادر وڅخه:

د (کېدل) والا مصادرو څخه د بعیدے ماضی اشتقاق د غه سے کېږی لکه چه د

(ېدل) والا مصادرو د (الف) په مادے کښے نے بیان وشو:

مذکر

مثبت	منفی
هوساشوه ی وم	هوساشوه ی نه وم
هوساشوه ی وے	هوساشوه ی نه وے
هوساشوه ی وه	هوساشوه ی نه وه
هوساشوی وو	هوساشوی نه وو
هوساشوی وی	هوساشوی نه وی
هوساشوی وه	هوساشوی نه وه

مؤنث

مثبت	منفی
هوساشوے وم	هوساشوے نه وم

هوساشوے وے	هوساشوے نه وے
هوساشوے وه	هوساشوے نه وه
هوساشوے وو	هوساشوے نه وو
هوساشوے وی	هوساشوے نه وی
هوساشوے وے	هوساشوے نه وے

نقلی ماضی لیاقریبه ماضی

نقلی ماضی هغه صیغه ده چه یوه چاره په بڼه دے زمانے کښے پېښه شوے وی آو متکلم آو رېدلے وی آو خبرے ئے کوی . په لاندینی دول سره ئے اشتقاق کیږی :

۱ــ د (ل) والا مصادرو څخه :

الف : د مخصوص لازمی (ل) والا مصادرو په وروسته کښے د (ی) توره ی وروسته ترهغه (مرکب فعلی ضمیرونه) آو ترهغه وروسته (دی) راوړل کیږی . په نفی کښے

د ضمیرنه وروسته (نه) هم راوړل کېږي :

مثبت	منفي
ژړلی مے دی	ژړلی مے نه دی
ژړلی دے دی	ژړلی دے نه دی
ژړلی ئے دی	ژړلی ئے نه دی
ژړلی مو دی	ژړلی مو نه دی
ژړلی مو دی	ژړلی مو نه دی
ژړلی ئے دی	ژړلی ئے نه دی

ب : د دغو پاسنو مصادرو څخه پرته د نورو لازمي (ل) والا مصادرو په وروسته کښے د مذکر مفرد د پاره (ے ی) آو د مؤنث د مفرد د پاره مجهوله (ے) آو د جمع د پاره که مذکر وي لیا مؤنث معروفه (ی) پسے نسبي ضمیرونه راوړل کېږي. په نفي کښے د نسبي ضمیرونو نه مخکے د نفي ادات (نه)

هم راوړل کېږي :

مذکر		مؤنث	
مثبت	منفی	مثبت	منفی
کینا ستله ی یم	کینا ستله ی نه یم	کینا ستلے یم	کینا ستلے نه یم
کینا ستله ی ئے	کینا ستله ی نه ئے	کینا ستلے ئے	کینا ستلے نه ئے
کینا ستله ی ده ی	کینا ستله ی نه ده ی	کینا ستلے ده	کینا ستلے نه ده
کینا ستلی یو	کینا ستلی نه یو	کینا ستلی یو	کینا ستلی نه یو
کینا ستلئ ي (یاست)	کینا ستلئ نه ي (یاست)	کینا ستلی ي (یاست)	کینا ستلی نه ي (یاست)
کینا ستلی وی	کینا ستلی نه وی	کینا ستلی وی	کینا ستلی نه وی

ج : دنورو متعدی (ل) والا مصادرو په وروسته کښے که مفعول مذکر مفرد وی (ه ی) آو که مؤنث مفرد وی مجهوله (ے) آو که جمع مذکر لیا مؤنث وی معروفه (ی)، پسے دفاعل دتعین دپاره (مرکب فعلی ضمیرونه)، ورپسے دمفعول دتعین دپاره نسبی ضمیرونه راوړل کیږی. په نفی کښے دنسبی ضمیرونو نه مخکے دنفی ادات (نه) هم راوړل کیږی:

مذکر		مؤنث	
مثبت	منفی	مثبت	منفی
وہلہ ی مے دہ ی	وہلہ ی مے نہ دہ ی	وہلے مے دہ	وہلے مے نہ دہ
وہلہ ی دے دہ ی	وہلہ ی دے نہ دہ ی	وہلے دے دہ	وہلے دے نہ دہ
وہلہ ی ئے دہ ی	وہلہ ی ئے نہ دہ ی	وہلے ئے دہ	وہلے ئے نہ دہ
وہلہ ی مو دہ ی	وہلہ ی مو نہ دہ ی	وہلے مو دہ	وہلے مو نہ دہ
وہلہ ی مو دہ ی	وہلہ ی مو نہ دہ ی	وہلے مو دہ	وہلے مو نہ دہ
وہلہ ی ئے دہ ی	وہلہ ی ئے نہ دہ ی	وہلے ئے دہ	وہلے ئے نہ دہ

پہ پاسنو مثالو کښے مفعول مفرد غائب ذکر شوہ ی کہ مفعول بل څوک وی ہغہ ضمیر راوړل کیږی چہ د ہماغہ مفعول قائمقام وی :

مذکر		مؤنث	
مفرد	جمع	مفرد	جمع
وہلہ ی مے ئے	وہلی مے یی	وہلے مے ئے	وہلی مے یی

وہلہ ی دے یم　　وہلی دے یو　　وہلے دے یم　　وہلی دے یو

وہلہ ی مے دہ ی　　وہلی مے دی　　وہلے مے دہ　　وہلی مے دی

۲ — د (ول) والا مصادر وڅخه :

الف : دہغه د ول (ول) والا مصادر وڅخه (چه د فعل ماده ئے صفت لیا د مفعول اسم مخفف لیا منسوب اسم وی) د مصدریت نښه لرے کېږی د پاتے په وروسته کښے که مفعول مذکر مفرد وی (کړه ی) آو که مؤنث مفرد وی (کړے) آو که جمع مذکر لیا مؤنث وی (کړی)، پسے د فاعل د تعین د پاره (مرکب فعلی ضمیرونه) ورپسے د مفعول د تعین د پاره نسبی ضمیرونه راوړل کېږی. په نفی کښے د نسبی ضمیرونو نه مخکے د نفی ادات (نه) هم راوړل کېږی.

که مفعول مؤنث وی لمړه ی د فعل د مادے په وروسته کښے د مفرد د پاره (ه) آو د جمع د پاره مجهوله (یے) چه د تأنیث نښے دی راوړل کېږی :

مذکر

مثبت	منفی
غوزار کرہ ی مے دہ ی	غوزار کرہ ی مے نہ دہ ی
غوزار کرہ ی دے دہ ی	غوزار کرہ ی دے نہ دہ ی
غوزار کرہ ی نے دہ ی	غوزار کرہ ی نے نہ دہ ی
غوزار کرہ ی مو دہ ی	غوزار کرہ ی مو نہ دہ ی
غوزار کرہ ی مو دہ ی	غوزار کرہ ی مو نہ دہ ی
غوزار کرہ ی نے دہ ی	غوزار کرہ ی نے نہ دہ ی

مؤنث

مثبت	منفی
غوزارہ کرے مے دہ	غوزارہ کرے مے نہ دہ
غوزارہ کرے دے دہ	غوزارہ کرے دے نہ دہ
غوزارہ کرے نے دہ	غوزارہ کرے نے نہ دہ

غوزاره کړے موده — غوزاره کړے مونه ده

غوزاره کړے موده — غوزاره کړے مونه ده

غوزاره کړے ئے ده — غوزاره کړے ئے نه ده

په پاسنو مثالو کښے مفعول مفرد غائب ذکر شوه ی که مفعول بل څوک وی بغه ضمیر راوړل کیږی چه دهاغه مفعول قائمقام وی :

مذکر

مفرد	جمع
غوزار کړه ی مے یے	غوزار کړی مے یی
غوزار کړه ی دے یم	غوزار کړی دے یو
غوزار کړه ی مے ده ی	غوزار کړی مے دی

مؤنث

مفرد	جمع
غوزاره کړے مے یے	غوزارے کړی مے یی

غوزاره کړے دے یم　　غوزارے کړی دے یو

غوزاره کړے مے ده　　غوزارے کړی مے دی

ب : د نورو (ول) والا مصادرو څخه یعنے هغه چه د فعل ماده ئے صفت لیاهغه نورنه وی) د قریبے ماضی اشتقاق د غه سے کیږی لکه چه د (ل) والا مصادرو د (ج) په مادے کښے ئے بیان وشو :

مذکر		مؤنث	
مثبت	منفی	مثبت	منفی
رېږولے مے ده ی	رېږولے مے نه ده ی	رېږولے مے ده	رېږولے مے نه ده
رېږولے دے ده ی	رېږولے دے نه ده ی	رېږولے دے ده	رېږولے دے نه ده
رېږولے ئے ده ی	رېږولے ئے نه ده ی	رېږولے ئے ده	رېږولے ئے نه ده
رېږولے موده ی	رېږولے مونه ده ی	رېږولے موده	رېږولے مونه ده
رېږولے موده ی	رېږولے مونه ده ی	رېږولے موده	رېږولے مونه ده
رېږولے ئے ده ی	رېږولے ئے نه ده ی	رېږولے ئے ده	رېږولے ئے نه ده

په پاسنو مثالو کښې مفعول غائب مفرد ذکر شوه ی که مفعول بل څوک وی هغه ضمیر راوړل کیږی چه د هماغه مفعول قائمقام وی :

مذکر		مؤنث	
مفرد	جمع	مفرد	جمع
ربرولهی دے یم	ربرولی دے یو	ربرولے دے یم	ربرولی دے یو
ربرولهی مے یے	ربرولی مے یی	ربرولے مے یے	ربرولی مے یی
ربرولهی مے ده ی	ربرولی مے دی	ربرولے مے ده	ربرولی مے دی

۳- د (ېدل) والا مصادر وڅخه :

الف : دهغه د ول (ېدل) والا مصادر وڅخه (چه د فعل مادے صفت لیا د مفعول اسم مخفف لیا منسوب اسم وی) د مصدر نښه لرے کیږی د پاتے په وروسته کښې د مذکر مفرد د پاره (شوه ی) آو د مؤنث مفرد د پاره (شوے) آو د جمع د پاره که مذکر وی لیا مؤنث (شوی) پسے نسبی ضمیر و نه راوړل کیږی. په نفی کښې د نسبی ضمیر و نو نه مخکے د نفی ادات (نه) هم راوړل کیږی. د مؤنث د پاره لمړه ی

دفعل دمادے په وروسته کښے دمفرد دپاره (ه) آو دجمع دپاره بجهوله (یے)

چه دتأنیث نښے دی هم راوسال کیږی:

مذکر

مثبت	منفی
غوزارشوه ی یم	غوزارشوه ی نه یم
غوزارشوه ی ئے	غوزارشوه ی نه ئے
غوزارشوه ی ده ی	غوزارشوه ی نه ده ی
غوزارشوی یو	غوزارشوی نه یو
غوزارشوی یې	غوزارشوی نه یې
غوزارشوی دی	غوزارشوی نه دی

مؤنث

مثبت	منفی
غوزاره شوے یم	غوزاره شوے نه یم

غوزاره شوے یے	غوزاره شوے نه یے
غوزاره شوے ده	غوزاره شوے نه ده
غوزارے شوی یو	غوزارے شوی نه یو
غوزارے شوی یې	غوزارے شوی نه یې
غوزارے شوی دی	غوزارے شوی نه دی

ب : د نورو (پدل) والا مصادرو څخه یعنے هغه چه د فعل ماده نے صفت لیا هغه نور نه وی د نقلی ماضی اشتقاق بهد و د غه سے کیږی لکه چه د (ل) والا مصادرو د (ب) په مادے کښے نے بیان وشو :

مذکر		مؤنث	
مثبت	منفی	مثبت	منفی
رېږدلی یم	رېږدلی نه یم	رېږدلے یم	رېږدلے نه یم
رېږدلی یے	رېږدلی نه یے	رېږدلے یے	رېږدلے نه یے
رېږدلی ده ی	رېږدلی نه ده ی	رېږدلے ده	رېږدلے نه ده

ربر ېدلی یو	ربر ېدلی نه یو	ربر ېدلی یو	ربر ېدلی نه یو
ربر ېدلی یې	ربر بدلی نه یې	ربر ېدلی یې	ربر ېدلی نه یې
ربر ېدلی دی	ربر ېدلی نه دی	ربر ېدلی دی	ربر ېدلی نه دی

۴ــ د (کول) والا مصادر وڅخه :

د (کول) والا مصادر وڅخه د نقلی ماضی اشتقاق دغه سے کېږی لکه چه د (ل) والا مصادر و د (الف) په مادے کښے ئے بیان وشو :

مذکر

مثبت	منفی
پرے کړه ی مے ده ی	پرے کړه ی مے نه ده ی
پرے کړه ی دے ده ی	پرے کړه ی دے نه ده ی
پرے کړه ی ئے ده ی	پرے کړه ی ئے نه ده ی
پرے کړه ی مو ده ی	پرے کړه ی مو نه ده ی
پرے کړه ی مو ده ی	پرے کړه ی مو نه ده ی

پرے کړه ی ئے ده ی　　پرے کړه ی ئے نه ده ی

مؤنث

مثبت	منفی
پرے کړے مے ده	پرے کړے مے نه ده
پرے کړے دے ده	پرے کړے دے نه ده
پرے کړے ئے ده	پرے کړے ئے نه ده
پرے کړے مو ده	پرے کړے مو نه ده
پرے کړے مو ده	پرے کړے مو نه ده
پرے کړے ئے ده	پرے کړے ئے نه ده

په پاسنو مثالو کښے مفعول غائب مفرد ذکر شوه ی که مفعول

بل څوک وی هغه ضمیر راوړل

کیږی چه د هماغه مفعول

قائمقام وی:

مذکر

مفرد	جمع
پرے کړه ی دے یم	پرے کړی دے یو
پرے کړه ی مے یے	پرے کړی مے یی
پرے کړه ی مے ده ی	پرے کړی مے دی

مؤنث

مفرد	جمع
پرے کړے دے یم	پرے کړی دے یو
پرے کړے مے یے	پرے کړی مے یی
پرے کړے مے ده	پرے کړی مے دی

۵ ـ د (کېدل) والا مصادر وڅخه :

د (کېدل) والا مصادر وڅخه د نقلی ماضی اشتقاق بېدو دغه سے کېږی لکه چه د (ېدل) والا مصادر و د (الف) په مادے کښے ئے بیان وشو :

مذکر		مؤنث	
مثبت	منفی	مثبت	منفی
ہوساشوہ ی یم	ہوساشوہ ی نہ یم	ہوساشوے یم	ہوساشوے نہ یم
ہوساشوہ ی ئے	ہوساشوہ ی نہ ئے	ہوساشوے یے	ہوساشوے نہ یے
ہوساشوہ ی دہ ی	ہوساشوہ ی نہ دہ ی	ہوساشوے دہ	ہوساشوے نہ دہ
ہوساشوی یو	ہوساشوی نہ یو	ہوساشوی یو	ہوساشوی نہ یو
ہوساشوی یی	ہوساشوی نہ یی	ہوساشوی یی	ہوساشوی نہ یی
ہوساشوی دی	ہوساشوی نہ دی	ہوساشوی دی	ہوساشوی نہ دی

استمراری ماضی

استمراری ماضی ہغہ صیغہ دہ چہ تل والہ ی (ہمیشہ توب) یا دیوے چارے تکرار یہ تیرے زمانے کښے بنئی یہ بل عبارت سرہ دفعل دوام بیانہ وی. اشتقاق دپښتو مصادرو پہ اعتبار پہ لاندینی دول سرہ کیږی:

۱ـ د (ل) والا مصادرو څخه :

الف : د مخصوص لازمی (ل) والا مصادرو په وروسته کښې (مرکب فعلی ضمیرونه) راوړل کېږی . په نفی کښې د مصدر نه مخکې (مرکب فعلی ضمیرونه) آوده ښه نه مخکې د نفی ادات (نه) هم راوړل کېږی؛ مثلاً د (ژړل) د مصدر نه :

مثبت	منفی
ژړل مے	نه مے ژړل
ژړل دے	نه دے ژړل
ژړل ئے	نه ئے ژړل
ژړل مو	نه مو ژړل
ژړل مو	نه مو ژړل
ژړل ئے	نه ئے ژړل

ب : د پاسنو مصادرو نه پرته د نورو لازمی (ل) والا مصادرو نه د مصدریت نښه لرے کېږی آو د پاتے په وروسته کښې (بسیط فعلی ضمیرونه) راوړل کېږی

په نفي کښې د صيغې په سر کښې د نفي ادات (نه) هم زيا تيږي:

مثبت	منفي
څلاستم	نه څلاستم
څلاستې	نه څلاستې
څلاست (څلاسته)	نه څلاست (نه څلاسته)
څلاستو	نه څلاستو
څلاستې	نه څلاستې
څلاستل (څلاستلے)	نه څلاستل (نه څلاستلے)

ج : د متعدي (ل) والا مصادرو نه د استمراري ماضي اشتقاق په دوه دوله سره کيږي:

۱ — د ځينو مصادرو نه د مصدريت نښه لرے کيږي په وروسته کښې ئے د مفعول د تعين د پاره (بسيط فعلي ضميرونه)، پسے د فاعل د تعين د پاره (مرکب فعلي ضميرونه) راوړل کيږي. په نفي کښې لږه ډيره د نفي ادات (نه) پسے مرکب فعلي ضميرونه ورپسے پاتے

صیغه راورله کېږی :

مثبت	منفی
پلوره مے	نه مے پلوره
پلوره دے	نه دے پلوره
پلوره ئے	نه ئے پلوره
پلوره مو	نه مو پلوره
پلوره مو	نه مو پلوره
پلوره ئے	نه ئے پلوره

۲ – د ځینو مصادرو دلمړی توری (آو که لمړه ی توره ی وچ وی ددوه یم توری) وروسته (الف) ریاتېږی، پسے د مصدر نه د مصدریت نښه لرے کېږی آو د پاتے په وروسته کښے د مفعول د تعین د پاره (بسیط فعلی ضمیرونه) پسے د فاعل د تعین د پاره (مرکب فعلی ضمیرونه) راورل کېږی. په نفی کښے لمړه ی د نفی ادات (نه) پسے مرکب فعلی ضمیرونه ورپسے پاتے صیغه راورله کېږی :

مثبت	منفی
پلانہ مے	نہ مے پلانہ
پلانہ دے	نہ دے پلانہ
پلانہ ئے	نہ ئے پلانہ
پلانہ مو	نہ مو پلانہ
پلانہ مو	نہ مو پلانہ
پلانہ ئے	نہ ئے پلانہ

تبصرہ : د (کتل) نہ استمراری ماضی خلاف القیاس راځی لکہ :

کوت مے .

۲ـ د (ول) والا مصادر وڅخہ :

د دوار و د ولو (ول) والا مصادر وڅخہ (یعنے ہغہ د ول چہ د فعل مادہ ئے صفت لیا د مفعول اسم مخفف لیا د منسوب اسم وی آو ہغہ د ول چہ د فعل مادہ ئے صفت لیا د غہ نور نہ وی) د استمراری ماضی اشتقاق بید و دغہ سے

کېږی چه د (ل) والا مصادرو د (ج) په مادے کښے ئے بیان وشو .

خو دته یو اځے په مذکر غائب مفرد کښے دفعل د مادے نه وروستہ (الف) زیاتیږی:

مذکر		مؤنث	
مثبت	منفی	مثبت	منفی
غوزاراوه مے	نه مے غوزاراوه	غوزاره وله مے	نه مے غوزاره وله
غوزاراوه دے	نه دے غوزاراوه	غوزاره وله دے	نه دے غوزاره وله
غوزاراوه ئے	نه ئے غوزاراوه	غوزاره وله ئے	نه ئے غوزاره وله
ربړاوه مو	نه مو ربړاوه	ربړ وله مو	نه مو ربړ وله
ربړاوه مو	نه مو ربړاوه	ربړ وله مو	نه مو ربړ وله
راربړاوه ئے	نه ئے ربړاوه	ربړ وله ئے	نه ئے ربړ وله

په پاسنو مثالو کښے مفعول غائب مفرد ذکر شوه ی که مفعول بل څوک وی هغه ضمیر راوړل کېږی چه د هماغه مفعول قائمقام وی :

مفرد	جمع
غوزاره ولم دے	غوزارولو دے
غوزارولے مے	غوزارولی مے
غوزاراوه مے	غوزارول مے

۳- د (ېدل) والا مصادر وڅخه :

ددوارو دولو (ېدل) والا مصادر وڅخه (یعنے ہغه دول چه د فعل ماده ئے صفت لیا د مفعول اسم مخفف لیا منسوب اسم وی آو ہغه چه د فعل ماده ئے صفت لیا دغه نور نه وی) د استمراری ماضی اشتقاق دغه سے کېږی چه یو اځے د مصدر (ل) لرے کېږی نور اشتقاقات ئے بېدو ہغه سے دی چه د (ل) والا مصادر و د (ب) په مادے کښے ئے بیان وشو :

مثبت	منفی
ربرېدم	نه ربرېدم
ربرېدے	نه ربرېدے

ربېږده (ربېږله)	نه ربېږده (نه ربېږله)
ربېږدو	نه ربېږدو
ربېږدی	نه ربېږدی
ربېږدل (ربېږدلے)	نه ربېږدل (نه ربېږدلے)

۴ـ د (کول) والا مصادر وځخه:

د (کول) والا مصادر وځخه د استمراری ماضی اشتقاق دغه سے کیږی لکه د (ول) والا مصادر وځخه خو دومره فرق لری چه هالته په غائب مذکر مفرد کښے الف دفعل د مادے نه وروسته آو دلته د مصدر د کاف نه وروسته راځی:

مذکر		مؤنث	
مثبت	منفی	مثبت	منفی
پرے کاوه مے	نه مے پرے کاوه	پرے کوله مے	نه مے پرے کوله
پرے کاوه دے	نه دے پرے کاوه	پرے کوله دے	نه دے پرے کوله
پرے کاوه ئے	نه ئے پرے کاوه	پرے کوله ئے	نه ئے پرے کوله

پرے کاوه مو	نه مو پرے کاوه	پرے کوله مو	نه مو پرے کوله
پرے کاوه مو	نه مو پرے کاوه	پرے کوله مو	نه مو پرے کوله
پرے کاوه ئے	نه ئے پرے کاوه	پرے کوله ئے	نه ئے پرے کوله

په پاسنو مثالو کښے مفعول غائب مفرد ذکر شوه ی که مفعول بل څوک وی هغه ضمیر راوړل کیږی چه دهماغه مفعول قائمقام وی :

مفرد	جمع
پرے کولم دے	پرے کولو دے
پرے کولے مے	پرے کولی مے
پرے کاوه (کوله) مے	پرے کول (کولے) مے

۵ـ د (کېدل) والا مصادرو څخه :

د (کېدل) والا مصادرو څخه د استمراری ماضی د (ېدل) والا مصادرو په دوو سازېږی :

مثبت	منفی
ہوساکیدم	نہ ہوساکیدم
ہوساکیدے	نہ ہوساکیدے
ہوساکیده (ہوساکیدله)	نہ ہوساکیده (نہ ہوساکیدله)
ہوساکیدو	نہ ہوساکیدو
ہوساکیدی	نہ ہوساکیدی
ہوساکیدل (ہوساکیدلے)	نہ ہوساکیدل (نہ ہوساکیدلے)

احتمالی لیاشکیه ماضی

احتمالی لیاشکیه ماضی هغه صیغه ده چه په تیرے زمانے کښے دیوے چارے پرکولو لیانه کولو آو شبهه پیښه شوے وی، اشتقاق یے دغه سے کیږی چه دبعیدے ماضی په صیغے کښے د (به) ادات زیاتیږی دغه (به) د (ه) لیا (ه ی) لیا هغه نورو تورو نه چه دبعیدے ماضی په اشتقاق کښے د مصدر په وروسته کښے زیاتیږی،

دروسته راوړل کېږي:

په غائبو صیغو کښې بسیط فعلي ضمیر چه په بعیدے ماضي کښې د مفرد د پاره (ه) او د جمع د پاره (ل) راوړل کېده د غلته د هغوی په عوض کښې (ی) راوړله کېږي نور تفاوت نه لري.

۱ـ د مخصوص لازمي لام والا مصادرو څخه:

مثبت	منفي
ژړلی به مے وی	ژړلی به مے نه وی
ژړلی به دے وی	ژړلی به دے نه وی
ژړلی به ئے وی	ژړلی به ئے نه وی
ژړلی به مو وی	ژړلی به مو نه وی
ژړلی به مو وی	ژړلی به مو نه وی
ژړلی به ئے وی	ژړلی به ئے نه وی

ب : د نورو لازمی (ل) والا مصادر وګڼه :

مذکر		مؤنث	
مثبت	منفی	مثبت	منفی
کېناستلی یم	کېناستلی نه یم	کېناستلے یم	کېناستلے نه یم
کېناستلی یے	کېناستلی نه یے	کېناستلے یے	کېناستلے نه یے
کېناستلی یو	کېناستلی نه یو	کېناستلے یو	کېناستلے نه یو
کېناستلی یو	کېناستلی نه یو	کېناستلی یو	کېناستلی نه یو
کېناستلی یو	کېناستلی نه یو	کېناستلی یو	کېناستلی نه یو
کېناستلی یو	کېناستلی نه یو	کېناستلی یو	کېناستلی نه یو

ج : د نورو متعدی (ل) والا مصادر وګڼه :

مذکر		مؤنث	
مثبت	منفی	مثبت	منفی
وېلی یمے وی	وېلی یمے نه وی	وېلے یمے وی	وېلے یمے نه وی

وهلی به دے وی وهلی به دے نه وی وهلے به دے وی وهلے به دے نه وی

وهلی به ئے وی وهلی به ئے نه وی وهلے به ئے به وی وهلے به ئے نه وی

وهلی به مو وی وهلی به مو نه وی وهلے به مو وی وهلے به مو نه وی

وهلی به مو وی وهلی به مو نه وی وهلے به مو وی وهلے به مو نه وی

وهلی به ئے وی وهلی به ئے نه وی وهلے به ئے وی وهلے به ئے نه وی

په پاسنو مثالو کښے مفعول غائب مفرد ذکر شوه ی که مفعول بل څوک وی هغه ضمیر راوړل کیږی چه دهغه مفعول قائمقام وی :

مذکر		مؤنث	
مفرد	جمع	مفرد	جمع
وهلی به دے وم	وهلی به دے وو	وهلے به دے وم	وهلی به دے وو
وهلی به مے وے	وهلی به مے وی	وهلے به مے وے	وهلی به مے وی
وهلی به مے وی	وهلی به مے وی	وهلے به مے وی	وهلی به مے وی

۲- د (ول) والا مصادرو څخه :

الف : دہغہ ذ ول (ول) والا مصادر وڅخہ چہ د فعل مادہ ئے صفت لیا د مفعول اسم مخفف لیا منسوب اسم وی :

مذکر

مثبت	منفی
غوزار کړہ ی بہ مے وی	غوزار کړہ ی بہ مے نہ وی
غوزار کړہ ی بہ دے وی	غوزار کړہ ی بہ دے نہ وی
غوزار کړہ ی بہ ئے وی	غوزار کړہ ی بہ ئے نہ وی
غوزار کړہ ی بہ مو وی	غوزار کړہ ی بہ مو نہ وی
غوزار کړہ ی بہ مو وی	غوزار کړہ ی بہ مو نہ وی
غوزار کړہ ی بہ ئے وی	غوزار کړہ ی بہ ئے نہ وی

مؤنث

مثبت	منفی
غوزارہ کړے بہ مے وی	غوزارہ کړے بہ مے نہ وی

غوزاره کړے به دے وی — غوزاره کړے به دے نه وی

غوزاره کړے به ئے وی — غوزاره کړے به ئے نه وی

غوزاره کړے به موې — غوزاره کړے به مونه وی

غوزاره کړے به موو ی — غوزاره کړے به موونې

غوزاره کړے به ئے به وی — غوزاره کړے به ئے نه وی

په پاسنو مثالو کښے مفعول غائب مفرد ذکر شوه ی که مفعول بل څوک وی هغه ضمیر راوړل کیږی چه دهماغه مفعول قائمقام وی :

مذکر

مفرد	جمع
غوزار کړه ی به دے وم	غوزار کړی به دے وو
غوزار کړه ی به مے وے	غوزار کړی به مے وی
غوزار کړه ی به مے وی	غوزار کړی به مے وی

مؤنث

مفرد	جمع
غوزاره کړے به دے وم	غوزارے کړی به دے وو
غوزاره کړے به مے وے	غوزارے کړی به مے وی
دتنبیه آو تخفیض(۱) توری

کنه ، ہله ، ہلی ، مگر ، ہا

(کنه) ترکیبا توسره چه راشی دتنبیه آو تخفیض ادات شی لکه : وه وایه کنه ولے غله ی ئے ! لا رشه کنه ولے خوشے ناست ئے ! علم زده که کنه ولے خوشے گرځے .

کله کله د تصدیق دتأکید ادات شی : ہو کنه خپله چاره موده .

(ہله) ہله ژرشه ، ہله مندے .

(ہلی) دغه آو پاسنه ی دواره یوه معنا لښی خو دغو مره ده چه ہغه دمفرآو دغه دجمع دپاره استعمالیږی : ہلی ژرشی ، ہلی مندے .

(مگر) مگر مانه پیژنے .

(ہا) دتنبیه آو تہدید دپاره راځی : ہا ! پام کوه چه و به دے وہم .

کله کله دقبول ادات ہم شی لکه چه دقبول په ادوا تو کښے ئے ہم ذکر شوه ی .

(۱) تخفیض یعنے گرنده ی کول .

دجزا توره ی

نو

دجزائی جملے نه مخکے راځی ؛ که ته راغلے نو څه به هم درشم .

تفصیلات دے په نحو کښے وکتل شی .

دحاصل مصدر توری

آوه ، نه ، ه ، نګ ، ون ، ښت ، الف

دلمړی ځائګے په څلورم څپرکی کښے لئے بیان راغلے ی .

دشرط توری

که ، چه ، که څه هم ، ترڅو ، ترڅو چه

(که) یو حکم لیا یو فعل بل پورے مشروط آو مقید کوی آو دمشروط علیه نه مخکے راځی ؛

که ته راغلے څه هم درځم ، که دے ماته ری سازه کړه هغه لئے هم سازوی .

(چه) دغه هم دپاسنی پڅیر یو حکم لیا فعل بل پورے مربوط آو مقید کوی آو دمشروط علیه نه مخکے لیا وروسته راځی ؛ چه څه راغلم بیا ته لاړ شه ، ته چه راشے څه به لاړ شم .

(که څه هم) : که څه هم ما ته تاوان راورسید خو دسپین ږیر ولا مله مے غګ و نه کړ.

(ترڅو) یو حکم لیا یو فعل بل پورے مشروط آو مقید کوی آو د مشروط علیه نه مخکے راځی آو په عین حال کښے دوخت انتها هم بیا نه وی : ترڅو ته را نه شے ده ی نه راځی، ترڅو ته راځے ځه به هم د غلته یم.

کله دوخت د انتها استفهام کوی : ترڅو پورے به ووزګار ناست یو؟

(ترڅو چه) په هماغه موقع آو معنا چه پاسنه ی توره ی استعمالیده : دغه هم استعمالیږی.

د صلے توره ی

چه

تفصیلات ئے دلمړی څانګے په ورے یم څپرکی کښے راغلی.

د مکان د ظرف توری

نره ی ، یا نره

دلمړی څانګے په لمړی څپرکی کښے ئے بیان شوه ی.

دعطف توری

آو ، ، هم ، چه ، که ، لیا ، لا ، بلکه

(آو) دوے کلمے لیا دوے جملے سره نښلوی (مربوطوی) لکه : آځک آو وتک راغلل . پښتو ژوندی شوه آو پښتانه سرلوړی شول .

(هم) هغه شی سره غوندوی چه اشتراک په کښے نه وی : لکه چه دغه ئے پوه وه هغه بل ئے همدغه سے ناپوه وه .

دوه شیه په یوه حکم کښے لیا دوه حکمه په یوه شی کښے سره غوندوی : هم آځک وویل هم وتک ! آځک هم ولوست هم ئے ویکه . کله داقتران ادات شی لکه : هم غاړه .

کله کله دتشریک ادات شی لکه : هم نومی ، هم سبق .

(چه) دغه هم دوه شی په یوه حکم کښے غوندوی : یو اځے تاوانی نه چه سپک هم شو .

(که) دوه شیه په یوه حکم کښے غوندوی آو دطلب دتعین دپاره راځی : دگوری چه آځک راغه ی که وتک ؟

کله د شرط ادات وی لکه چه د شرط په تورو کښے هم ذکر شوه ی .

(لیا) پاسنی پڅېر دغه هم دوه شیه په یوه حکم کښے غوندوی آو یو غواړی :

آڅک لیا وتک راولېږه .

(لا) د تنبیهی عطف ادات ده ی : څه ئے رانکړه لا ئے څه راڅخه واخیسته .

(بلکه) دغه هم پاسنی پڅېر دوه شیه په یوه حکم کښے غوندوی : یو اځے روپۍ ئے

نه گڼلے بلکه عزت ئے هم وگاڼه .

د قبول توری

هو ، هوکے ، یے ، ها ، ښیه

(هو) هر کله چه یوه خبره لیا یوه چاره و منله شی آو په منلو آو اجرا کښے ئے څه تردد آو

شبهه نه وی په دغه حال کښے دغه توره ی یو اځے لیا د هغے جملے په سر کښے چه په هغه

سره د قبول اظهار کېږی استعمالېږی مثلاً که آڅک پر وتک باندے ټوپک خرڅوی

آو د ټوپک بیع معین آو د دوارو په منځ کښے موافقت راشی آو څوک د آڅک نه پښتنه

وکی چه تا خپل ټوپک په زر روپۍ پر وتک باندے خرڅ کړ هغه د خپل قبول د اظهار د پاره

وائی (هو) لیاکه دوتک نه پښتنه وشی چه تا د آخک دغه نوپک په زر روپی واخیست
ښغه هم دخپل قبول د اظهار د پاره وائی (هو) لیاکه څوک د چانه پښتنه وکی چه بازار ته
تللهی وے؟ وائی (هو تللهی وم) آو که پښتنه وکی چه بازار ته ځے؟ وائی (هو ځم)
لیاکه وه وائی چه گئیز به جرگے ته لار شے وائی (هو لار به شم)، گنره هر کله چه په
قبول آو اجرا کښے قطعیت وی آو تردد آو شبهه نه وی (هو) استعمالیږی.

په ماضی کښے قطعیت وی ځکه چه تیره شوے وی په حال کښے هم دغه سے قطعیت
وی اما په ښغه حال کښے چه د مضارع په د ول استعمال شی یعنی قبول آو اجرا کښے استقباله
پورے اره ونیسی آو هم استقبال دوے د دے لری لیا په ښغه کښے هم د تصمیم
په حیث قطعیت وی لیا شبهه آو تردد په کښے وی نو که قطعیت ئے لاره په ښغه کښے
هم دغه توره ی استعمالیږی مثلاً که څوک چانه پښتنه وکی چه جرگے ته ځے؟ که عزم
ئے راسخ وی وائی (هو) همدغه سے که چا ته وه وییل شی چه گاده ی به واخلے؟ که د مخاطب
عزم کلک وه وائی هو وا به ئے خلم.

اما که قبول کښے قطعیت نه وی (چه ښغه هم په مضارع آو استقبال پورے اره

نیسی آو ماضی کښے نه وی) نو ہالته (سښیه) استعمالیږی.

د تصدیق د پاره هم استعمالیږی لکه چه د تصدیق تر عنوان لاندے بیل ذکر شوه ی.

(ہوکے) دغه آو پاسنه ی توره ی د استعمال په محل آو په معنی کښے څه فرق نه لری د ہغه لیا د دغه انتخاب د ویونکی خوښے پورے اړه لری مؤلف دغه پر لمړی باندے ښه آو مرجح گڼړی. دغه هم پاسنی پڅېر د تصدیق د پاره استعمالیږی لکه چه د تصدیق تر عنوان لاندے بیل هم ذکر شوه ی.

(یے) په ہغه معنا آو محل کښے چه لمړینی دوه استعمالیدل استعمالیږی انتخاب د ہغو دوو لیا د دغه، د ویونکی خوښے پورے اړه لری. پاسنو د دو پڅېر د تصدیق توره ی هم ده ی لکه چه بیل د تصدیق تر عنوان لاندے بیل هم ذکر شوه ی.

(ها) د ېری وخت د ندا په ځواب کښے استعمالیږی په نورو ځایو کښے چه په لمړی توری کښے بیان وشو که څه هم ځینے کسان ئے استعمالوی مگر د ېرلږ آو نادر ده ی.

کله د تنبیه آو تهدید ادات شی لکه چه د تنبیه په تورو کښے ئے هم ذکر شوه ی.

(ښیه) دلمرینی دوو تورو متمم دهٔ ی په هغه قبول کښے استعمالیږی چه قطعیت په کښے نه وی لکه: ښیه ځم، ښیه لاړ به شم. کله کله د تأکید د پاره مکرر استعمالیږی.

د استماع په موقع کښے د کومے خبرے د آوریدو د انتظار آو د حاضری د اظهار د پاره هم استعمالیږی مثلاً دوه کسه چه غواړی په کومے موضوع کښے خبرے وکی هغه سره ی چه غواړی د بل خبرے واوری د دغه د پاره چه هغه بل پوه شی چه دهٔ ی ځماد خبرو د آوریدو ته تیار دهٔ ی وائی (ښیه) یعنی ځه آوریدو ته حاضریم وه وایه.

هر کله چه د چا فکر په یوے چارے کښے متردد وی د یوے استفهامیے لیا بیانیے جملے په سر کښے راوړل کیږی تر څو چه مخاطب په خپل تأئید لیا تردید سره د متکلم تردد لرے کړی: ښیه گئیز بلخ ته ځو که نه؟ ښیه ما پښین به د اگ ته ووځو د جاج وهلو آو فکر کولو په وخت د یوے خبرے د ویلو لیا د یوے چارے د کولو د پاره ویونکه ی دوه وارے په اوږده غگ سره (ښیه) وائی وروسته په جاج وهلو آو فکر کولو پښه کوی.

د اعتراض آو تعجب په موقع کښے هم استعمالیږی: ښیه ته ولے ولاړے! ښیه دغه خبره ما کړے! ښیه دهٔ ی هم پښتون شو.

دتأکید دپاره هم ترامرلیا التزامی فعل وروسته راوړل کیږی : دآخک پښتنے ته یوځل لاړشه ! ښیه ! ځما خبرے ورته و وایے ! ښیه !

دامرلیا التزامی فعل نه وروسته دخپلے پوهنے داظهار آو دمتکلم دتطمین دپاره هم استعمالیږی مثلاً هرکله چه وتک چاته و وییل چه (دآخک دپښتنے ته لاړشه) مخاطب وائی : ښیه ، آو که یے و وییل چه (ځما خبرے ورته و وائے) مخاطب وائی : ښیه !

دقسم توری

په ، گو

(په) دمقدسو اسمائو نه لیاهغه شی نه چه پرے لوړل کیږی مخکے راځی : په خدای .

(گو) دمقدسو اسمائو لیاهغه شی نه چه پرے لوړل کیږی وروسته راځی : خدای گو .

دلونیه صفاتو دتأکید توره ی

تک

تفصیلات ئے دلمړی څانگے په دوه یم څپرکی کښے راغلی .

دلیاقت تورہ ی

د

دغہ تورہ ی لکہ چہ د اضافت تورہ ی دہ ی ہمدغہ سے دلیاقت آو لزوم تورہ ی ہم دہ ی. دوژلو دہ ی، دوہلو سرہ ی دہ ی، د مشرتوب ورنہ دہ ی.

د مصدر توری

ل، ول، ېدل

دلمری څانګے پہ څلورم څپرکی کښے ئے بیان راغلہ ی.

د مفعول توری

تہ، تر، پورے، پہ، کښے، د، لہ، نہ، ځینے، څخہ،

تنے، ترے، دپارہ، لرہ، لہ ـ سرہ، باندے

تفصیلات ئے دلمری څانګے پہ لمری څپرکی کښے بیان شوی.

د (پورے) ادات د زمان آو مکان انتہا ښئی.

ہر کلہ چہ د زمان انتہا وښئی ہالتہ د (توقیت) ادات شی لکہ: ګئیزہ پورے نہ ځم،

تر ہوسہ پورے خبرے کوی .

کلہ کلہ دھصرآو قصرادات شی لکہ : تاپورے مے کاردہ ی یعنی بل چاپورے مے نہ دہ ی .

دمقدارتوری

مرہ ، ونہ

ہرکلہ چہ دغہ ادا تونہ د (ثو) آو د (اشارے اسماء) سرہ راشی مقدار بیانوی نوځکہ دمقدارادوات دی : ثومرہ ، ثونہ ، دغومرہ ، دغونہ ، ہغومرہ ، ہغونہ ، ہاغومرہ ، ہاغونہ ، ہوغومرہ ، ہوغونہ .

دنداتوری

ہ ، یے ، وہ ، و ، ہے

(ہ) داسمانو آو ہغو جملو پہ وروستہ کښے چہ داسم حکم ولری راځی آو مذکر مفرد دپارہ استعمالیږی : وتہ ! وروہ ! ځما دزړگی سرہ !

(یے) داسمانو آو دہغو جملو پہ سر کښے چہ داسم حکم ولری راځی .

مفرد، جمع، مذکر آو مؤنث ئولو دپاره استعمالیږی: یے کاکا! یے وروره!

یے ځما دزړګی سره!

کله دلړی یعنی (ه) سره یو ځای استعمالیږی: یے آڅکه! یے وروره!

یے ځما دزړګی سره.

(وه) دغه هم دپاسنی پڅیر د اسمائو آو هغو جملو په سر کښے چه د اسم حکم ولری راځی آو مفرد

جمع، مذکر آو مؤنث ئولو دپاره استعمالیږی: وه وتکه! وه دادا! وه ادے!

وه ځما دزړګی سره!

کله دلړنی (ه) سره یو ځای استعمالیږی: وه آڅکه! وه وروره! وه ځما

دزړګی سره!

(و) هر کله چه د ځینو جمع اسمائو په وروسته کښے راشی د ندا ادات شی: ځامنو! ولے

مکتب ته نه ځی - هالکانو! پښتو ووائی آو پښتو وکی ځکه چه د پښتانه امتیاز، شرف،

عزت آو د دوارو نړیو سعادت په پښتو کښے ده ی.

ځینے وخت د تصغیر ادات شی آو د تحقیر لیا د مینے آو احترام دپاره استعمالیږی

چه په صرف کښې د تصغیر په بیان کښې ئې ذکر شوه ی .

کله د نسبت ادات شی چه په صرف کښې ذکر شوه ی .

(ے) د ځینو مؤنثو اسمانو نه وروسته چه راشی د ندا ادات شی : مورے ! څه وایئ خورے ! پښتنے ځامن پښتانه کوی ، کله د (وه) لیاد (یے) سره یو ځای استعمالیږی وه خورے ! واوره - یے مورے ! وگوره .

د پارسو د ندا ادوات استعمال په پښتو کښې سره جائز نه ده ی .

د نسبت توری

ه ی ، نه ی ، ینه ی ، ن ، ین ، من ، جن ، ور ، وال ، یاله ی ، و ، والا ،

ی ، نی ، ینی ، یالی ، گنی ، نه ، ینه ، منه ، جنه ، وره ، واله .

ذکر ئې د لمړی ځانگے په لمړی څپرکی کښې او تفصیلات ئې د مذکورے ځانگے په دوه یم څپرکی کښې بیان شوی .

د نوعی مصدر توری

توب ، تیا ، والی

دلمری څانګے په څلورم څپرکی کښے ئے بیان راغله ی .

دنفی توری

نه ، نا ، بے ، یه

(نه) په افعالو کښے استعمالیږی چه د استعمال محل ئے په صرف کښے دافعالو په بحث کښے مفصل بیان شوه ی ؛ نه وم تلله ی ، وهله ی مے نه ده ی .

هر کله چه د شرط ادات (که) ورسره یوځای شی د منفی شرط ادات ګرځی لکه : آځک دے راشی که نه مال ئے ورکیږی .

کله کله (نه) زائد هم وی لکه : چیرته لندن چیرته چترال ده ی ؛ بے ننګی زور شوه پرنګیان چترال ته ځی نه .

(نا) د ځینے صفت اسمائو په سر کښے راځی آو د صفت سلب کوی ؛ لکه ناپوه ، ناپام .

(بے) دغه هم د ځینے صفت اسمائو په سر کښے راځی آو د صفت سلب کوی لکه بے خونده ، بے دوله .

کله چه د ځینے جنس اسمائو په سر کښے راشی د نسبت سلب کوی ؛ بے کوره ، بے

خاونده .

(یه) د ایجاب وسلب ادات ده ی : مثلاً که د چانه پښتنه وشی چه کابل ته ځے!

وائی : یه نه ځم .

د نفی آو تصدیق توره ی هم ده ی مثلاً : که څوک چاته وه وائی چه آڅک مکتب ته

تلله ی نه ده ی؟ د تصدیق د پاره وائی : یه .

د نهی توری

مه ، نه

د دوه یمے څانګے په لمړی څپرکی کښے ذکر شوی .

د نهی آو د نفی د تأکید توری

هیڅ ، هیڅکله ، سره ، د سره ، له سره ، کورٹ

د غه ټول د نهی آو د نفی تأکید کوی آو د نهی آو نفی دا دا تو نه مخکے ذکر کیږی .

لمړ نه ی کله د (لاشی) په معنا استعمالیږی آو د (گنړل) د مصدر سره ذکر کیږی :

په دغه صورت ادات نه ، بلکه اسم ده ی : ته یے هیڅ وگنړه ، هیڅ ده ی .

(سره) دلیجے پہ تغیر سره دمفعول معه، تمیز آو اقتران ادات هم کیدای شی.

دوه یمه برخه

نحو

دوه یمه برخه

نحوه

د نحوے علم: د خبرے (کلام) ترکیب آو تألیف آو د کلمو د استعمال موقع بیانوی.

کلام: هغه نطق آو عبارے ته وایه شی چه د مقصد د بیان د پاره وییل کیږی.

ترکیب: د خبرو هغه هیئت (دلګی) ته وییل کیږی چه د دوولیا د یرو کلمو څخه حاصل شوه ی وی.

ترکیب دوه رازه ده ی یو (نیمګره ی ترکیب) بل (بشپړ ترکیب).

نیمګره ی ترکیب هغه ده ی چه یو خبر آو رېدونکی ته بشپړ افاده کولای نشی.

تام ترکیب هغه ده ی چه یو خبر آو رېدونکی ته پوره افاده کوی. مثلاً په دغه ترکیبونو کښے: (دخان کور)، (هوا ښه ده) لمړی ناقص دوه یم تام ده ی ولے که وویل شی

چه (دخان کور) جو ته نشوه چه دخان کور څنګه ده ی نو په دغه حال کښې ځینو پښتنو ته اړی پېښېږی چه آیا دخان کور لوی ده ی، کوچنه ی ده ی، جګ ده ی، ټیټ ده ی، څنګه ده ی، معنا تمامه نشوه نو ځکه دغه ترکیب نیمګړه ی ده ی. آو که وو ېیل شی چه (هوا ښه ده) آورېدونکه ی پښتنې ته نه اړېږی، نو ځکه معنا بشپړه ده.

نیمګړی ترکیبونه

۱ــ مزجی ترکیب: یوه د له اسمونه دی چه بې له دے چه په منځ کښې ئے عطف، اسناد، اضافت، وصفیت وی څنګ په څنګ راځی. ددغه له لامله چه د ېړی ئے علم اسمونه دی سماعی دی آو کومه قاعده نه لری لکه: آسمان کوټ، ښی کوټ.

۲ــ اتباعی ترکیب: دو دو جزئونه مرکب وی ددغو دوونه دیوه ئے ځانته معنا نه دی آو تل دبل په متابعت ذکر کېږی. لکه: تک تور، تک سپین، روغ رمه ی، کری ورځ. کله کله ددوار وځانته معنا نه وی لکه: څچ پچ، دانګے وانګے، ددغه له لامله چه د تأکید معنا ښئی ترڅو چه مبالغه مدعا نه وی نه استعمالېږی.

۳ ـ تضمنی ترکیب : ہغہ ترکیب دہ ی چہ دڅو معنا ورو حروفو لیا الفاظو متضمن وی لکہ : گیئز ماښام ، راکړہ ورکړہ ، لاندے باندے ، چیت پیت ، درے ، ورے .

۴ ـ اضافی ترکیب : اضافت ہغہ دہ ی چہ دیوے خصوصی معنا د پارہ یو اسم بل پورے ربط کړ شی چہ د دغو نہ یوہ تہ (مضاف الیہ) آو بل تہ (مضاف) آو دواړو تہ غوند (اضافی ترکیب) وو ییل کیږی ہر کلہ چہ وہ غوښت شی یو اسم بل پورے اضافت کړ شی دہغہ اسم نہ مخکے چہ مضاف الیہ کیږی د (د) تورہ ی راوړل کیږی . لکہ دوتک کتاب ، دآڅک دیرہ ، دکالہ کالی ، دکوتے ور ، دننگرہار گنی .

قاعدہ ـ پہ پښتو کښے مضاف الیہ تل د مضاف نہ مخکے راځی . دبلے ژبے اضافی ترکیب کہ دپښتو پہ د ول وشی ہغہ ہم تر دغے قاعدے لاندے دہ ی .

قاعدہ ـ کہ مضاف الیہ شخصی ضمیر وی ہغہ شخصی ضمیر و نہ استعمالیږی چہ اضافی حالت ولری لکہ چہ پہ صرف کښے بیان شوہ ی .

اضافت درے رازہ دہ ی : لامیہ اضافت ، بیانیہ اضافت ، تشبیہیہ اضافت .

لامیه اضافت معنا د تملک آو اختصاص معنی لښی لکه : د بارک کور ، د کوئے ور .

چه په دغه کښے لمړه ی تملک آو دوه یم اختصاص بیانوی .

بیانیه اضافت دیوه شی اصل آو نوع ښئی چه یعنی دڅه شی نه ساز شوه ی . په دغه سے

اضافتو کښے مضاف الیه تل د مضاف اصل آو نوع ښئی لکه :

نوعی { د ولے ونه ، د آغز و بوټه ی .

اصلی { د زرو وښه ی ، د ورېښمو بگړی ، د مزرو څپلی .

په بیانیه اضافت کښے کله کله د اضافت ادات چه (د) ده ی نه ذکر کېږی . لکه :

نوعی { کوکی لښته لیا خود گل لښته ، ورېښم چنجه ی .

اصلی { زر لښته .

تشبیهیه اضافت هغه ده ی چه مضاف الیه مضاف ته ورته کوی (۱) چه دغه هم د بیانیه

اضافت له د وله ځینے ده ی لکه : د اجل توره ، د غیرت غوندی ، د ایمان غرگه ی .

---

(۱) هغه ته چه یو شه ی هغه ته ورته کول کېږی (مشبه به) آو هغه شی ته چه بل شی ته ورته کول کېږی

(مشبه) و ېیل کېږی چه په دغه طریق گنړه هغه اسم چه مشبه به ده ی په هغه اسم چه مشبه ده ی اضافه کېږی .

۵ـ توصیفی ترکیب : هغه هیئت له چه دیوه صفت آو یوه موصوف څخنه مرکب وی (توصیفی ترکیب) ویل کیږی .

صفت خلقاً آو خُلقاً دیوشی نښې آو علائم بیانول دی چه دغه ته وصف هم ویل کیږی .

صفت لیا وصف په اصل کښې مصدر وه ی وروسته د اسم په ډول استعمال شوه ی .

هغه اسم ته چه خلق آو خلق دیوشی بیانوی (صفت) آو (وصف) آو هغه اسم ته چه وصف بیان ئے کیږی (موصوف) آو هغه هیئت له چه د صفت آو موصوف څخنه عبارت وی (توصیفی ترکیب) لیا (وصفی ترکیب) ویل کیږی .

د پښتو په توصیفی ترکیب کښې صفت مخکے آو موصوف وروسته راځی لکه :

لوی کور ، سپین غړ ، چه په دغه کښې ـ لوی آو سپین صفت آو کور آو غړ موصوف ده ی .

ترکیبی وصف دغه سے ترکیب ده ی چه دیوه صفت آو دیوه اسم نه مرکب وی آو دواړه لکه یو بسیط صفت د بل اسم صفت کیږی چه د پړی وخت د منسوب اسم ، د فاعل اسم ، د مفعول اسم ، د مشبه صفت معنی په کښې مینده کیږی :

سپین بږیره ی
اوږد بږیره ی } سره ی

۶ـ تعدادی ترکیب : هغه هیئت له چه اعداد وله یوځای کېدلو نه حاصلېږی

تعدادی ترکیب وېیل کېږی لکه : پنځه لس ، اته لس ، د اعدادو هر یوه ته ئے عدد آو هغه شی له چه گنرل ئے کېږی معدود وېیل کېږی لکه : چه په صرف کښے ئے بیان شوه ی . په پښتو کښے تل عدد مخکے آو معدود وروسته راځی لکه : اته روپۍ ، څلور منږے . په پښتو کښے هر کله چه عدد دیوه نه د هر شی معدود د جمع په شان استعمالېږی لکه پاس ئے ذکر وشو .

عدد صفت گنرل کېږی نو ځکه هر کله چه معدود ه سره یوځای شی توصیفی ترکیب حاصلېږی .

بشپړ ترکیب

بشپړ ترکیبونه هغه ترکیبونه دی چه اسنادولری آو آورېدونکه ی سره ی د استفادے د پاره بلے کلمے له ونه گوری .

اسناد دیوه شی نسبت کول بل شی ته ده ی چه دغه نسبت هم بشپړ لیا نیمگړه ی وی.
نیم گړه ی نسبت هغه ده ی چه مضاف مضاف الیه ته صفت موصوف ته نسبت
کړ شی آو پاس ذکر شو چه دغه سے ترکیبو ته نیمگړی ترکیبونه وېیل کېږی آو مخاطب
لره بشپړه فائده نه ورکوی.

بشپړ نسبت — دخبر نسبت مبتدا ته، دفعل فاعل ته لیا نائب دفاعل ته ده ی
چه دغه سے ترکیبونو ته (بشپړ ترکیبونه) لیا (کلام آو جمله) هم ورته وېیل کېږی.
هغه نسبت ته چه دمبتدا آو خبر په منځ کښے، دفاعل آو مفعول په منځ کښے وی هغه ته
(اسناد)، مبتدا آو فاعل ته (مسند الیه) آو خبر آو فعل ته (مسند) وېیل کېږی.
جمله دوه رازه ده یوے ته (اسمیه جمله) آو بلے ته (فعلیه جمله) وېیله کېږی.

اسمیه جمله — هغه جمله ده چه دمبتدا آو خبر نه مرکبه وی چه دخبر په وروسته کښے نسبی
ضمیرونه (یم، یے، ده ی، یو، یې، لیا یاست. دی) راوړل کېږی چه دغو
ضمیرونو ته دخبر ادات هم وېیل کېږی لکه: لمر ځلند ده ی، ته کاتب ئے، ځه عالم یم،
دغلته لمر، ته، ځه، (مبتدا)، ځلند، کاتب، عالم (خبر) آو (ده ی، ئے، یم) دخبر

ادات دی.

مبتدا ـ هغه کلمه ده چه په هغے سره په جملے باندے پېښه کېږی، که کوم سبب نه وی مبتدا مخکے، خبر و روسته راځی. مبتدا باید معرفه وی یعنے دغه سے شه ی وی چه د متکلم آو مخاطب په منځ کښے وپوهېدل شی، که دغه سے نه وی مخاطب ته بشپړه فائده نه ورکوی نو ځکه بشپړ ترکیب نشی کېدلای، که نکره (۱) وی آو مخاطب ته مفید د فائدے وی، مبتدا کېده ی شی لکه دغه چه: یو عالم د زر و جاهلو نه ښه ده ی. که د فائدے مفید نه وی مبتدا کېده ی نشی لکه: یو سره ی عالم ده ی.

مبتدا اسم لیا صفت وی لیا د هغو مصادر و آو کنایا تو څخه وی چه د صفت لیا اسم حکم ولری لکه: خدای یو ده ی، ځه عالم یم، لوستل ښه دی، دا تیږه ده.

مبتدا کله دیوه نه د بړوی په دغه سے حال کښے دلمړی نه و روسته د نورو مبتدا وو په سر کښے (آو) راوړل کېږی لکه: ځمکه آو اسمان د څښتن پر یو والی شاهدان دی.

د بړی مآل دغه (آو) حذفېږی آو پر ځای ئے عاطفه (،) ایښودله کېږی لکه:

---

(۱) نکره هغے کلمے له وېیله کېږی چه غیر معین شی له وضع کړے شوے وی.

لمر، ستوری نول د آسمان ښائست دی . مبتدا عربي لیا فارسی لیا بل لفظ هم کېده ی شی لکه : دنیا فانی ده .

مبتدا بے له مفرد څخه مرکب هم کېده ی شی لکه : دخان کور جګ ده ی ، سکانړ آس ښه ده ی .

خبر — په ترکیب کښے خبر د مبتدا نه وروسته راځی د ېری وخت صفت لیا اسم وی لیا دغه سے کلمه وی چه د اسم حکم ولری لکه : آسمان جګ ده ی ، لوستل کمال ده ی ، د دغه سبب ښغه ده ی . خبر هم لکه مبتدا غوندے کله کله دیوه نه د ېر وی په دغه سے احوالو کښے په منځ کښے (هم) راوړل کېږی لکه : وتک هم پوه ده ی ، آو هم زیار کاږه ی ده ی . آڅک هم عالم ده ی آو هم توریالۍ ده ی .

فعلیه جمله — ښغه جمله ده چه د فعل آو فاعل لیا نائب فاعل نه مرکبه وی لکه : منه ی راغه ی ، پاڼے تویے شوے ، پسرله ی راغه ی ، کوکۍ شنے شوے . چه په دغو کښے (راغه ی ، تویے شوے ، شنے شوے) فعل ، (منه ی ، پسرله ی) فاعل ، (پاڼے ، کوکۍ) نائب فاعل ده ی .

ددغو مثالونه جوته شوه چه دفعلیے جملے اصلیه ارکان (فعل ، فاعل ، نائب فاعل)
دی چه دهریوه بیان لاندے کیږی:

فعل — هغه فعلونه چه دجملے اصلیه اجزاء دی خاص هغه فعلونه دی چه په زمانے اړه
لری چه په صرف کښے ئے بیان شوه ی.

فاعل — هر فعل بایدیو فاعل ولری.

فاعل هغه ته وائی چه حقیقتاً لیا حکماً یو فعل ئے کړه ی وی لکه: لمر وخوت، آڅک
راغه ی، چه په دغو کښے (لمر، آڅک) هریو فاعل ده ی. فاعل داسم لیا دغه سے
کلماتو نه چه داسم حکم ولری جوړیږی آوتل دفعل نه مخکے راځی:

ته مږ ته نه راځے،

هغه مږ ته راځی،

ورورئے رانه غه ی،

لالامے کوڅے ته لاړ،

دوتک ځوی وتښتید،

د ہری وخت فاعل آو نائب فاعل فعلی ضمیرونہ وی لکہ : ځم ، ځو ، و مے وہیل ، ودے لوست ، و وہل شوم ، کلہ کلہ فاعل آو نائب فاعل کہ ضمیر وی نہ ذکر کیږی لکہ : دافعالو غائبے صیغے : راغہ ی ، لار ، ہوساشو ، چہ یعنے ہغہ راغہ ی ، ہغہ لار ، ہغہ ہوساشو لیا حاضر امر لکہ : ولولہ ، ولیکہ ، چہ یعنے تہ ولولہ ، تہ ولیکہ .

نائب فاعل — ہغہ مفعول دہ ی چہ پہ جملے کښے فاعل ذکر شوہ ی نہ وی آو دغہ د فاعل قائمقام وی لکہ : ونہ پرے شوہ ، دلتہ ونہ نائب فاعل دہ ی ولے چہ اصلہ جملہ (وتک ونہ پرے کړے) وہ وتک چہ دونے پرے کو ونکہ ی وہ پہ کار نہ وہ نو ځکہ حذف شوہ ی آو د (ونہ) لفظ د فاعل پر ځای راغلہ ی آو فعل ہم مجہول شوہ ی آو جملہ پہ دغہ دول چہ (ونہ پرے شوہ) ایرادہ شوے دہ . پہ بل عبارت سرہ د مجہول فعل مفعول نائب فاعل دہ ی .

د جملے متممات — د جملے متممات د مفعولونو ، حال آو تمیز ، څخہ عبارت دہ ی . پہ پښتو کښے مفعولونہ شپږ دی : (مفعول بہ ، مفعول الیہ ، مفعول فیہ ، مفعول منہ ، مفعول لہ ، مفعول معہ) .

مفعول به — هغه شه ی ده ی چه د فاعل کړه (فعل) پر هغه باندے واقع شوه ی وی لکه چه په صرف کښے بیان وشو، مفعول به په پښتو کښے کومه نښه آوادات نه لری لکه: وتک کتاب ولوست، دلته وتک فاعل، کتاب مفعول به ده ی.

که د فاعل اسم پر ځای ضمیر استعمال شی آو مفعول به معهود نه وی شخصی ضمیرونه استعمالیږی آو که مفعول به معهود وی فعلیه ضمیرونه استعمالیږی لکه: تا کتاب ولوست، کتاب دے وکوت، په لمړی مثال کښے مفعول به غیر معهود آو دوه یم مثال کښے مفعول به معهود آو معلوم ده ی.

مفعولونه هم کله کله مرکب وی لکه: دخان آس مے ولید، لوی بنړ مے خرڅ کړ، د شرکت رئیس مے ولید.

د دغه د پاره چه و پېژاندل شی چه یوه کلمه مفعول به ده که نه ده باید د (څوک، څه، څه شه ی) استفهام وشی. که کلمه د دغو درونه دیوه په ځواب سمه وه خو مفعول به ده که نه وه نه ده.

مفعول الیه — هغه لفظ ده ی چه د چارے وروسته (آخر) ښئی آو لکه چه په صرف

کښے بیان وشو د مجرد اسم په وروسته کښے (ته) راوړل کیږی آو په ترکیب کښے د مفعول به نه وروسته راځی لکه: وتک کتاب ښودونکی ته ورکړ.

که دیوه مجرد اسم په سر کښے (تر) لیا وروسته کښے (پورے) راشی هغه هم مفعول الیه کیدای شی لکه: تر کابله تللهی وم، بلخه پورے تللهی وم، کله کله دواړه استعمالیږی لکه: تر پښوره پورے لاړم.

د دغه د پاره چه و پیژاندل شی چه یوه کلمه مفعول الیه ده که نه ده باید پښتنه وشی چه (چاته، څه شی ته، چیرته) که د دغو درو پښتنو دیوه ځواب شو خو مفعول الیه ده که نه، نه ده.

مفعول فیه — هغه لفظ ده ی چه د فعل ځای آو وخت ښئی. چه یعنے په کوم ځای کښے آو په کوم وخت کښے واقع شوه ی، په سر کښے ئے (په) لیا په وروسته کښے ئے (کښے) لیا دواړه راوړل کیږی لکه: د دغے پښتنے په ځواب چه وتک چیرته ده ی ویل کیدای شی چه په کور ده ی لیا کور کښے ده ی، په هفته کښے څو وارے ادارے ته ځی، په کور کښے چا سره کښے. په دغو جملو کښے (په هفته، په کور) هر یو مفعول فیه ده ی.

که دزمان استیعاب آو استغراق مدعاوی نو هالته هم (په) لیا (کښے) لیا دواړه راوړل کېږی لکه : دغه کتاب مے په یوه شپه ولیکه ، غزنی ته یوے ورځے کښے لاړم ، دغه چاره مے په یوے ورځے کښے تمامه کړه . په دغه کښے معلومېږی چه (په) آو (کښے) دظرفیت ادات دی .

ظرف هغه لوښی له وېیل کېږی چه یو شه ی استیعابوی نو ځکه هر زمان آو هر مکان ته که ظرف و وېیل شی سمه ده په دغه صورت کښے ظرف دوه رازه ده ی یو (دزمان ظرف) بل (دمکان ظرف) .

که یو اسم دظرف په دول استعمال شی دظرف ادات ورته په کار ده ی . په پښتو کښے دظرف ادات د (په) آو (کښے) لفظونه دی چه (په) داسم نه مخکے آو (کښے) داسم نه وروسته راځی کله یو آو کله دواړه استعمالېږی مثلاً : په کور ده ی ، په گیږی لاړ ، کونے کښے ناست ده ی ، هفتے کښے یو ځله ورځی ، په کور کښے ده ی . په کال کښے دوه وارے راځی .

دغلته په لمړ و دو مثالو کښے یو اځے (په) په دوه یمو مثالو کښے یو اځے (کښے)

په درے یمو دوو مثالو کښے (په) آو (کښے) دواړه استعمال شوی.

دغه ادا تو نه حقیقتاً لیا حکماً د حکم ظرفیت بیانوی، په دغه حال کښے ظرف د (حقیقی ظرف) لیا (حکمی) لیا (مجازی) په برخو بېلېږی. لکه مکتب کښے مے ولوست. هفتے کښے دوه ځلے ځم، چه هر یو زمان لیا مکان ده ی نو ځکه حقیقتاً ظرف ده ی. لکن که دوېیل شو چه (په علم کښے بېل شرف ده ی) په دغه کښے علم نه زمان ده ی آو نه مکان ده ی، په دغه مناسبت چه د ظرف ادات ته مقرون آو بنږدے ده ی حکماً ظرف ده ی یعنے د ظرف حکم ورته کېږی.

کله کله (په) آو (کښے) یو اځے لیا دواړه حذفېږی. مثلاً: کور ده ی، کور ناست ده ی، گئیز ویښېږم، چه لمړی مثال کښے (په) آو په دوه یم مثال کښے (کښے) آو په درے یم مثال کښے دواړه حذف شوی.

د زمان د ظرف ادات کله کله حذفېږی آو کله کله نه حذفېږی دغه حذف آو اثبات د ژبے شیوه تعینوی. مثلاً نن غمجن یم، په دغه ځای کښے (په نن غمجن یم)، لیا نن کښے غم جن یم، لیا په نن کښے غم جن یم) نه وېیل کېږی. اما که ووېیل شی چه

(په دغه سے ورځو کښے فرصت له لاسه ورکول ښه نه ده ی) په دغه ځای کښے
د ظرف ادات حذف سره جائز نه ده ی . په دغه ځای کښے د ژبے د شیوے سره
د یر موافق ده ی .

په پښتو کښے د (کښے) لفظ هر کله چه مصادر و سره و نښلی لکه چه ظرفیت
بیانوی همدغه سے د استمرار معنا هم افاده کوی مثلاً : لیکلو آو لوستلو کښے
د یرے گڼے دی .

مفعول منه لیا مفعول عنه — هغه لفظ ده ی چه د فعل ابتدا ښئی چه سر کښے ئے
(د) لیا (له) لیا په وروسته کښے (نه) لیا (ځینے) لیا (څخه) لیا په سر کښے ئے
دلمړی دوونه یو آو په وروسته کښے ئے د وروستی درونه یو راوړل کیږی .
مثلاً : (د کاله راغلم) لیا خود (له کاله راغلم) لیا (کاله نه راغلم) لیا (کاله ځینے راغلم)
لیا (کاله څخه راغلم) لیا (د کاله نه راغلم) لیا (د کاله څخه راغلم) لیا (د کاله ځینے راغلم) .
چه په دغو جملو کښے (د کاله ، له کاله ، کاله نه ، کاله ځینے ، کاله څخه ، د کاله نه ، د کاله
ځینے ، د کاله څخه ، له کاله نه ، له کاله ځینے ، له کاله څخه) مفعول منه دی .

هر کله چه مفعول ذکر نه شی دفعل نه مخکے د (تنے) لیا (ترے) لیا (ځینے) ادات راوړل کیږی. لکه: تنے وائے خله، ترے بوئے ځه، ځینے پرے ئے که.

مفعول له — هغه لفظ ده ی چه دفعل سبب آو علت ښئی آو په وروسته کښے ئے (دپاره) راوړل کیږی مثلاً: دغه کتاب مے هالکانو دپاره واخیست.

په دے جملے کښے (هالکانو دپاره) مفعول له ده ی.

په پښتو کښے (لره) هم دمفعول له ادات ده ی: هالکانو لره مے خوږه واخیسته، داستعمال دکثرت له لامله ځینے خلک (لره) د (له) په دول مخفف استعمالوی اما د قاعدے سره هیندہ آو د فصاحت مخل ده ی.

د دغه دپاره چه و پیژاندل شی چه یوه کلمه مفعول له ده که نه؟ باید د (چادپاره، چالره، څه دپاره، څه لره، څه شی دپاره، څه شی لره) پښتنے وشی که کلمه د دغو پښتنو ځواب شوه مفعول له ده که نه، نه ده.

مفعول معه — هغه لفظ ده ی چه دفعل اجراا ښئی چه چا سره لیا د څه شی سره اجرا شوه ی په وروسته کښے ئے (سره) راوړل کیږی مثلاً قلم سره مے ولیکه، وتک سره

وگرځېدم ، په دغو جملو کښې (قلم سره ، وتک سره) هر یو مفعول معه ده ی .

دسره لفظ د مقارنت ، مصاحبت ، استعانت ، معنا بیانوی .

که آلت آو وساطت وښئی یعنی که دیوه شی د پاره بل شه ی واسطه کی د استعانت

ادات کېږی لکه چه په پاسنو مثالو کښې ذکر شو .

که دیوه مجرد اسم په سر کښې (په) لیا په وروسته کښې ئے (باندے) راوړل

شی هغه هم (مفعول معه) کېدای شی (په چور کی مے غوځ کړ) لیا (چور کی باندے

مے غوځ کړ) کله کله دواړه استعمالېږی : په چور کی باندے مے غوځ کړ .

حال

حال هغه لفظ ده ی چه د فاعل آو مفعول حال آو هیئت د فعل د اجرا په وخت

کښې ښئی چه هغه فاعل آو مفعول لره چه حال آو شان ئے بیانېږی (ذی الحال)

وېل کېږی .

په پښتو کښې د حال خدمت د (په) لفظ اجرا کوی چه د اسم لیا ځینو افعالو نه

مخکے راځی لکه : په خندا راغی ، په خند الاړ ، په تېښتے کښې مے ولید ، په لوبو کښې وه

چه ځه ورغلم .

کله کله په حال کښې استمرار مدعاوی اسم تکرار یږی لکه: په خند اخند الار .

کله کله د استمرار د پاره اسم آو فعل یو ځای شی لکه: په ژړا ژاړی .

کله کله د حال ادات حذف یږی لکه سپور راغلم ، پله ی لارم ، غم جن راغه ی ، خوښ لار .

تمیز

هغه اسم له تمیز ویل کیږی چه دیوه مبهم شی ابهامیت لرے آو دیوه حکم لوره ی بیان کی .

تمیز لیا د نسبت لیا د مقدار وی .

که تمیز د نسبت وی د تمیز د تشکیل د پاره د اسم لیا صفت لیا مصدر نه مخکے (په)[1] راوړل کیږی . آخک په توره کښے پر ټولو ملګرو باندے ده ی ، وتک په عمر کشر ده ی مومند په لوستلو کښے غښتله ی ده ی .

---

(۱) (په) د حال آو (مفعول فیه) ادات هم ده ی د دغه د پاره چه د پیژاندل شی چه د حال لیا مفعول فیه ادات ده ی که د تمیز ادات باید په عوض ئے (په سبب ، لیا په واسطه د) و ویل شی که معنا تغیر مینده نکره د تمیز ادات ده ی آو که معنا تغیر مینده کړ ، نه ده ی .

کله کله د اسم لیا د مصدر نه وروسته (سره) راورل کیږی لکه: آخک دوتک نه په عمر کشر، اما په عقل سره مشر ده ی، مومند په توره سره پر ټولو ملګرو باندے ده ی، یو ملت په علم سره لوړیږی.

اصلیه جمله — فرعیه جمله

هغه جملے چه په بشپړ ترکیب کښے ذکر شوی د کیفیت په اعتبار دوے برخے کیږی چه یوے ته (اصلیه جمله) آو بلے ته (فرعیه جمله) وییل کیږی.

اصلیه جمله

پر مرام آو مقصود شامله جمله ده چه د (ابتدائیه، جزائیه) په نامه په دوو برخو بیلیږی.

ابتدائیه جمله — هغه جمله ده چه د لفظ لیا د معنا د مخے وروستنی ټوکی (جزا) سره ارتباط ونه لری چه د اجمله تل د کلام په سر کښے وی: علم یو جوهر ده ی چه قیمت ئے څوک تعینولای نه شی.

جزائیه جمله — هغه جمله ده چه د مضمون وقوع ئے د بلے جملے د مضمون په وقوع مشروط وی چه هغے جملے له دوغے جملے د مضمون وقوع پرے مشروطیږی (شرطیه جمله) وییله

کیږی .

په دغے جملے کښے چه (که سعی و کښے مطلب ته رسیږے)، (که سعی و کښے) شرطیه جمله آو (مطلب ته رسیږے) جزائیه جمله ده آو د مطلب د رسیدلو د پاره سعیه شرط شوے .

جزائیے جملے د شرطیو جملو سره پر له پسے راځی آو د شرطیے جملے شرط دغه ده ی چه د شرط ادات په کښے وی . د شرط ادات په صرف کښے بیان شوه ی .

فرعیه جمله

فرعیه جمله هغه جمله ده چه خپله معنی اصلیے جملے اجزا آو ارکانو پورے مشروطه آو مقیده کی چه دغه هم د شرطیے جملے سره په شپږو برخو بیلیږی (وصفیه ، استینافیه ، تفصیلیه ، تمثیلیه ، معترضه) آو تل د ربط دادا تو واسطه د اصلیے جملے سره مربوطے وی .

وصفیه جمله — هغه جمله ده چه د اصلیے جملے له ارکانو لیا اجزا ئو څخه یو توصیفوی آو د صفت پر ځای استعمالیږی :

یو سره ی چه رښتیا وائی په دوارو نړیو کښے نجات مومی لمړی جمله یعنے

(یو سره ی چه ښتیا وائی) وصفیه جمله آو وروستی جمله اصلیه ده.

استینافیه جمله — هغه جمله ده چه د مخکینی جمله نه متولد مقدر سوال له جواب وی.

مثلاً: (حضرت پیغمبرؐ فرمائی د ځانګو نه تر لحده پورے علم وغواړی). (هر څوک چه علم ادب آو حیا ونه لری هر چا څخه ذلیل کیږی، ولے چه د سړی شرف په علم آو ادب آو هنر آو حیا سره ده ی) په اوله فقره کښے وویل شو چه (حضرت پیغمبرؐ فرمائی) د غلته سوال وارد یږی چه (څه فرمائی) نو دوه یمه جمله چه (د ځانګو نه . . . . الخ) د هغه ځواب ده ی، هم د غه سے په دوه یمه فقره کښے د غه پښتنه وارد یږی آو دلیل غوښته کیږی چه (ولے ذلیل یږی) نو د غلته هم (ولے چه شرف . . . . الخ) د هغه سوال جواب آو استدلال د پاره راوړل شوه ی.

تفصیلیه جمله — هغه جمله ده چه د اصلیے جملے له ارکانو آو اجزائو څخه یو تفصیلوی مثلاً: دلمر تو دوښه هر چیرته یو شان نه وی ځکه چه هر څو مره سره ی استوا لیکے خواته لاړ شی تو دوښه د هر یږی آو هر څو مره چه استوا لیکے نه لرے شی لږ یږی.

تمثیلیه جمله — هغه جمله ده چه د اصلیے جملے له ارکانو آو اجزائو څخه یو د تمثیل آو تشبیه

په دول ایضاح وی. مثلاً: انسانان دوغه له لامله چه د عقل آو تدبیر خاوندان دی د دیرو لویو چارو د عهدے څخه وتله ی شی. مثلاً: دیوے میاشتے مسافه د طیارے د ایجاد و په واسطه په یوه ورځ قطع کوی آو د څو میاشتینی لارے څخه په څو ثانیو کښے خبرے آوری.

معترضه جمله — هغه ده چه دیوے جملے د اجزائو لیاد دو جملو په منځ کښے راځی په که لرے کره شی د جملو ارتباط ته خلل نه رسیږی. مثلاً: وزیر اکبر خان - چه د غازیتو ب عنوان لری - په بلخ کښے وفات شوه ی آو هما غلته خښ ده ی.

معترضه جمله لیاد دوو لیندکو په منځ کښے ( ) لیاد دوو کیرښکو په منځ کښے -- ښودل کیږی.

مطلقه جمله - مقیده جمله

جملے د معنا په اعتبار هم دوه رازه دی یوے ته (مطلقه جمله) بلے ته (مقیده جمله) وېیله کیږی.

مطلقه جمله — هغه جمله ده چه یو اځے په خپلو اصلی ارکانو سره مرام آو مقصد افاده کوی. لکه: د بره کلگه ده، ته عالم ئے، آخک راغه ی.

مقیده جمله — هغه جمله ده چه پر اصلی ارکانو دځینو (۱) قیدونو په علاوه کولو مدعا افاده کوی، لکه: دولار سیند او به ترخے دی، کتاب مے دا حمد نه واخیست.

دریمه برخه

مصادر

(۱) دجملے متممات آو قیود اضافیه، وصفیه، کمیه، ظرفیه غونډے.

دریمه برخه

مصادر

پښتو مصادر: مخصوص لازمی (ل) والا

شماره	مستعمل مصادر	غیر مستعمل مصادر چه د مستعمل مصدر متمم دی			داشتقاق تفصیلات
۱	آوسېلل	.	.		
۲	پرچل	.	.	.	
۳	جرل	.	.	.	
۴	دانګل	.	.	.	
۵	درومل	.	.	.	
۶	خندل	.	.	.	
۷	رنځل	.	.	.	
۸	ژرل	.	.	.	
۹	غپل	.	.	.	
۱۰	لامبل	.	.	.	

پښتو مصادر: مخصوص لازمی (ل) والا

شماره	مستعمل مصادر	غیر مستعمل مصادر چه مستعمل مصدر متمم دی			داشتقاق تفصیلات
۱۱	لورل	.	.	.	
۱۲	نڅل	.	.	.	
۱۳	نینګل	.	.	.	
۱۴	هنګولل	.	.	.	
	غیر مخصوص لازمی (ل) والا مصادر				
۱۵	آلوتل	آلوزل	.	.	دوغه غیر مستعمل مصدر نه پرته د ماضی نورے ټولے صیغے اشتقاقیږی.
۱۶	پورے وتل	پورے وځل	.	.	" " "
۱۷	پرے وتل	پرېوځل	.	.	" " "
۱۸	ترپلودل	ترپلل	.	.	" " "
۱۹	تلل	لاړل	ځل		د (لاړل) نه مطلق ماضی، استقبال، التزامی فعل، او معهود امر، د (ځل) نه حال، اجباری، نهی، غیر معهود امر، او د (تلل) پاتے صیغے اشتقاقیږی.

پښتو مصادر: غیر مخصوص لازمی (ل) والا

شماره	مستعمل مصادر	غیر مستعمل مصادر چه د مستعمل مصدر متمم دی			داشتقاق تفصیلات
٢٠	څملاستل	څملل	.	.	دوغه غیر مستعمل مصدر نه، پرته د ماضی نورے ټولے صیغے اشتقاقیږی.
٢١	ځغاستل	ځغلل	.	.	" " "
٢٣	ختل	خیخل	.	.	" " "
٢٤	رغښل	رغرل	.	.	" " "
٢٥	کښېوتل	کښېوزل	.	.	" " "
٢٦	کیناستل	کینل	.	.	" " "
٢٧	نښتل	نښلل	.	.	" " "
٢٨	وتل	وځل	.	.	" " "
٢٩	آوښتل	آورل	.	.	" " "

پښتو مصادر : متعدی (ل) والا

شماره	مستعمل مصادر	غیر مستعمل مصادر چه و مستعمل مصدر متمم وی			داشتقاق تفصیلات
	متعدی (ل) والا				
۳۰	آخښل	.	.	.	
۳۱	آخیستل	آخلل	.	.	دوغه غیر مستعمل مصدر نه پرته د ماضی نورے ټولے صیغے اشتقاقیږی .
۳۲	آزمایل	.	.	.	
۳۳	آزمېیل	.	.	.	
۳۳	آغږل		.	.	
۳۵	آغوستل	آغوندل	.	.	" " "
۳۶	اودل	اوېل	.	.	" " "
۳۷	اودل	.	.	.	
۳۹۸	بلل	.	.	.	

پښتو مصادر : متعدی (ل) لا

شماره	مستعمل مصادر	غیر مستعمل مصادر چه د مستعمل مصدر متمم دی			د اشتقاق تفصیلات
۴۰	بولل	.	.	.	
۴۱	بیول	بوتل	بیایل	بوځل	د (بیول) پرته د مطلق ماضی نورے ټولے صیغے د (بوتل) نه آوو (بوځل) نه استقبال التزامی، معهود امر، اشتقاقیږی. یواځے مطلق ماضی د (بیایل) نه حال اجباری، غیر معهود امر، نهی.
۴۲	پالل	.	.	.	
۴۳	پرانیتل	پرانیځل	.	.	د دغه غیر مستعمل مصدر نه پرته د ماضی نورے ټولے صیغے اشتقاقیږی.
۴۴	پریبل	.	.	.	
۴۵	پرېښودل	پرېږدل	.	.	" " "
۴۶	پرے مینځل	.	.	.	
۴۷	پښتل	.	.	.	
۴۸	پلټل	.	.	.	
۴۹	*	.	.	.	

پښتو مصادر : متعدی (ل) والا

شماره	مستعمل مصادر	غیر مستعمل مصادر چه متمم و مستعمل مصدر وی			داشتقاق تفصیلات
۵۰	پلورل	.	.	.	
۵۱	پورے ویستل	پورے ایل			دوغه غیر مستعمل مصدر نه پرته د ماضی نورے ټولے صیغے اشتقاقیږی .
۵۲	پورے وهل	.	.	.	
۵۳	پوږل	.	.	.	
۵۴	پوول	پیل	.	.	دوغه غیر مستعمل مصدر نه پرته د ماضی نورے ټولے صیغے جوړیږی .
۵۵	پېرل	.	.	.	
۵۶	پېژاندل	پېژنل	.	.	دوغه غیر مستعمل مصدر نه پرته د ماضی نورے ټولے صیغے اشتقاقیږی .
۵۷	پېیل	.	.	.	
۵۸	پوکل	.	.	.	
۵۹	تبل	.	.	.	

پښتو مصادر : متعدی (ل) والا

شمېره	مستعمل مصادر	غیر مستعمل مصادر چه متمم د مستعمل مصدر وی			داشتقاق تفصیلات
٦٠	تپل	.	.	.	
٦١	ترنل	.	.	.	
٦٢	ترل	.	.	.	
٦٣	تلل	.	.	.	
٦٤	توبزل	.	.	.	
٦٥	تبیل	.	.	.	
٦٦	ټاپل	.	.	.	
٦٧	ټاکل	.	.	.	
٦٨	ټوکل	.	.	.	
٦٩	ټوکرېیل	.	.	.	

پښتو مصادر : متعدی (ل) والا

شماره	مستعمل مصادر	غیر مستعمل مصادر چه متمم و مستعمل مصدر وی			داشتقاق تفصیلات
۷۰	ٹومبل	.	.	.	
۷۱	ٹونگرېیل	.	.	.	
۷۲	چاودل	.	.	.	دوغه مصدر نه یواځے د ماضی صیغے اشتقاقېږی نورے ٹولے صیغے د (چول) نه « «
۷۳	چول	.	.	.	
۷۴	چنرل	.	.	.	
۷۵	چیچل	.	.	.	
۷۶	څٹل	.	.	.	
۷۷	څکل	.	.	.	
۷۸	څندل	.	.	.	
۷۹	څوکرېیل	.	.	.	

پښتو مصادر: متعدی (ل) والا

شماره	مستعمل مصادر	غیر مستعمل مصادر چه متمم و مستعمل مصدر وی			داشتقاق تفصیلات
۸۰	څیرل	.	.	.	
۸۱	څېرل	.	.	.	
۸۲	ځانګل	.	.	.	
۸۳	ځبل	.	.	.	
۸۴	ځبېښل	.	.	.	
۸۵	ځغمل	.	.	.	
۸۶	ځیځېرل	.	.	.	
۸۷	خپنځل	.	.	.	
۸۸	خرل	.	.	.	
۸۹	خرېیل	.	.	.	

پښتو مصادر : متعدی (ل) والا

شماره	مستعمل مصادر	غیر مستعمل مصادر چه مستعمل مصدر متمم دی			داشتقاق تفصیلات
۹۰	خورل	.	.	.	
۹۱	راښکل	راکاږل	.	.	دوغه غیر مستعمل مصدر نه پرته د ماضی نورے ټولے صیغے اشتقاقیږی .
۹۲	راورل	.	.	.	
۹۳	راوستل	راولل	.	.	دوغه غیر مستعمل مصدر نه پرته د ماضی نورے ټولے صیغے اشتقاقیږی .
۹۴	رنل	.	.	.	
۹۵	رودل	.	.	.	
۹۶	روزل	.	.	.	
۹۷	رېبل	.	.	.	
۹۸	زبل	.	.	.	
۹۹	زدویل	.	.	.	

پښتو مصادر: متعدی (ل) والا

شماره	مستعمل مصادر	غیر مستعمل مصادر چه د مستعمل مصدر متمم دی			د اشتقاق تفصیلات
۱۰۰	زوړل	.	.	.	
۱۰۱	ژغوړل	.	.	.	
۱۰۲	ساتل	.	.	.	
۱۰۳	سپاړل	.	.	.	
۱۰۴	سپېړل	.	.	.	
۱۰۵	ستایل	.	.	.	
۱۰۶	سکنړل	.	.	.	
۱۰۷	سیزل	.	.	.	
۱۰۸	سوزل	.	.	.	
۱۰۹	سهل	.	.	.	

پښتو مصادر : متعدی (ل) والا

شمېره	مصدر	غیر مستعمل مصادر چه د مستعمل مصادر دی			د اشتقاق تفصیلات
۱۱۰	سیل	۰	۰	۰	
۱۱۱	سیخل	۰	۰	۰	
۱۱۲	شاربل	۰	۰	۰	
۱۱۳	شپیلل	۰	۰	۰	
۱۱۴	شرل	۰	۰	۰	
۱۱۵	شمېرل	۰	۰	۰	
۱۱۶	شنل	۰	۰	۰	
۱۱۷	شومل	۰	۰	۰	
۱۱۸	شیندل	۰	۰	۰	
۱۱۹	ښکل	کاږل	۰	۰	دوغه غیر مستعمل مصدر نه پرته د ماضی نورے ټولے صیغے اشتقاقیږی .

پښتو مصادر : متعدی (ل) والا

شمارہ	مستعمل مصادر	غیر مستعمل مصادر چه و مستعمل مصادر متمم دی			داشتقاق تفصیلات
۱۲۰	ښودل	ښیل	.	.	دوغه غیر مستعمل مصدر نه پرته د ماضی نورے ټولے صیغے اشتقاقیږی .
۱۲۱	ښکنځل	.	.	.	
۱۲۲	ښندل	.	.	.	
۱۲۳	ښهل	.	.	.	
۱۲۴	غوول	غیل			دوغه غیر مستعمل مصدر نه پرته د ماضی نورے ټولے صیغے اشتقاقیږی .
۱۲۵	غرل	.	.	.	
۱۲۶	غوښتل	غواړل	.	.	دوغه غیر مستعمل مصدر نه پرته د ماضی نورے ټولے صیغے اشتقاقیږی .
۱۲۷	کتل	گورل	.	.	" " " "
۱۲۸	کښل	کاږل	.	.	" " " "
۱۲۹	کښېکښل	کښېکاږل	.	.	" " " "

پښتو مصادر : متعدی (ل) والا

شماره	مستعمل مصادر	غیر مستعمل مصادر چه و مستعمل مصدر متمم وی			داشتقاق تفصیلات
۱۳۰	کښېوتل	کښېوزل	.	.	دوغه غیر مستعمل مصدر نه پرته د ماضی نورے ټولے صیغے اشتقاقیږی .
۱۳۱	کېٛیل	.	.	.	
۱۳۲	کرل	.	.	.	
۱۳۳	کړل	.	.	.	
۱۳۴	کږل	.	.	.	
۱۳۵	کنځل	.	.	.	
۱۳۶	کنل	.	.	.	
۱۳۷	کوٹل	.	.	.	
۱۳۸	کۓ اېستل	کۓ باسل	.	.	دوغه غیر مستعمل مصدر نه پرته د ماضی نورے ټولے صیغے اشتقاقیږی .
۱۳۹	کښے اېستل	کښے باسل	.	.	" " " "

پښتو مصادر: متعدی (ل) والا

شماره	مستعمل مصادر	غیر مستعمل مصادر چه د مستعمل مصدر متمم وی.			داشتقاق تفصیلات
۱۴۰	کېښودل	کېږول	ږول		د (کېښودل) نه ماضی صیغے د (کېږول) نه التزامی فعل استقبال، معهود امر، آود (ږول) نه حال، اجباری
۱۴۱	کېمندل	.	.	.	دل، غیر معهود امر، نهی، اشتقاقیږی.
۱۴۲	کېوتل	کېوږل	.	.	دوغه غیر مستعمل مصدر نه پرته د ماضی نورے نولے صیغے اشتقاقیږی.
۱۴۳	گالل	.	.	.	
۱۴۴	گټل	.	.	.	
۱۴۵	گربل	.	.	.	
۱۴۶	گرږل	.	.	.	
۱۴۷	گرمل	.	.	.	
۱۴۸	گندل	.	.	.	
۱۴۹	گنړل	.	.	.	

پښتو مصادر : متعدی (ل) والا

نمبر	مصدر	غیر مستعمل مصادر چه د مستعمل مصدر متمم دی			داشتقاق تفصیلات
۱۵۰	لنل	.	.	.	
۱۵۱	لرل	.	.	.	
۱۵۲	لرل	.	.	.	
۱۵۳	لوستل	لوس	.	.	دوغه غیر مستعمل مصدر نه پرته د ماضی نورے ټولے صیغے اشتقاقیږی.
۱۵۴	لیدل	ویس	.	.	" " " "
۱۵۵	لوشل	.	.	.	
۱۵۶	لوغل	.	.	.	
۱۵۷	لیږل	.	.	.	
۱۵۸	لیګل	.	.	.	
۱۵۹	مروړل	.	.	.	

پښتو مصادر : مُتعدی (ل) والا

شماره	مصدر	غیر مستعمل مصادر چه و مستعمل مصدر متمم وی			داشتقاق تفصیلات
١٦٠	ملل	.	.	.	
١٦١	مندل	.	.	.	
١٦٢	منـل	.	.	.	
١٦٣	مورل	.	.	.	
١٦٤	موښل	.	.	.	
١٦٥	موږل	.	.	.	
١٦٦	مومل	.	.	.	
١٦٧	موندل	.	.	.	
١٦٨	مینځل	.	.	.	
١٦٩	نښېتزل	.	.	.	

پښتو مصادر : متعدی (ل) والا

شماره	مستعمل مصادر	غیر مستعمل مصادر چه دل مستعمل مصدر متمم دی			داشتقاق تفصیلات
۱۷۰	نغارل	.	.	.	
۱۷۱	نغرل	.	.	.	
۱۷۲	ویل	.	.	.	
۱۷۳	وجل	وجنل	.	.	دوغه غیر مستعمل مصدر نه پرته د ماضی نورے ټولے صیغے اشتقاقیږی .
۱۷۴	ورزل	.	.	.	
۱۷۵	نیول	نیسل	.	.	دوغه غیر مستعمل مصدر نه پرته د ماضی آو اقتداری فعل نورے ټولے صیغے اشتقاقیږی .
۱۷۶	ورل	.	.	.	
۱۷۷	ورل	یوسل	.	.	دوغه غیر مستعمل مصدر نه التزامی فعل استقبال آو معهود امر . اشتقاقیږی
۱۷۸	وژل	وژنل	.	.	دوغه غیر مستعمل مصدر نه پرته د ماضی نورے ټولے صیغے اشتقاقیږی
۱۷۹	ووبدل	.	.	.	" " " "

پښتو مصادر : متعدی (ل) والا

شماره	مستعمل مصادر	غیر مستعمل مصادر چه د مستعمل مصدر متمم وی			داشتقاق تفصیلات
۱۸۰	وهل	.	.	.	
۱۸۱	وېستل	باسل	.	.	ددغه غیر مستعمل مصدر نه پرته د ماضی نورے ټولے صیغے اشتقاقیږی
۱۸۲	وېشل	.	.	.	
۱۸۳	ویشتل	.	.	.	
۱۸۴	وینځل	.	.	.	
۱۸۵	وېیل	.	.	.	
	(ول) والا مصادر: هغه دول چه د فعل ماده ئے صفت لیا مخفف د مفعول اسم لیا منسوب اسم و ی				
۱۸۶	آخېرول	.	.	.	
۱۸۷	آغزنول	.	.	.	

پښتو مصادر: (ول) والا مصادر ښه د ول چه د فعل ماده ئے صفت لیا مخفف د مفعول اسم لیا منسوب اسم وی .

شماره	مستعمل مصادر	غیر مستعمل مصادر چه د مستعمل مصدر متمم وی			داشتقاق تفصیلات
۱۸۸	آسانول	.	.	.	
۱۸۹	آغېرول	.	.	.	
۱۹۰	اجوتول	.	.	.	
۱۹۱	ارزانول	.	.	.	
۱۹۲	انگارول	.	.	.	
۱۹۳	استادول	.	.	.	
۱۹۴	اوبرنول	.	.	.	
۱۹۵	اوچتول	.	.	.	
۱۹۶	اوزگارول	.	.	.	
۱۹۷	اوږدول	.	.	.	

پښتو مصادر: (ول) والا

شماره	مستعمل مصادر	غیر مستعمل مصادر چه د مستعمل مصدرم دی			داشتقاق تفصیلات
۱۹۸	ایسارول	.	.	.	
۱۹۹	ابلول	.	.	.	
۲۰۰	بدورول	.	.	.	
۲۰۱	برېندول	.	.	.	
۲۰۲	برسېرول	.	.	.	
۲۰۳	برګول	.	.	.	
۲۰۴	بشپړول	.	.	.	
۲۰۵	بلول	.	.	.	
۲۰۶	بلمنګول	.	.	.	
۲۰۷	بوبول	.	.	.	

پښتو مصادر : (ول) والا

شماره	مستعمل مصادر	غیر مستعمل مصادر چه و مستعمل مصدر متمم دی			داشتقاق تفصیلات
۲۰۸	بختول	.	.	.	
۲۰۹	پښول	.	.	.	
۲۱۰	پڅول	.	.	.	
۲۱۱	پخول	.	.	.	
۲۱۲	پرېږول	.	.	.	
۲۱۳	پستول	.	.	.	
۲۱۴	پښېمانول	.	.	.	
۲۰۵	پندول	.	.	.	
۲۰۶	پوخول	.	.	.	
۲۰۷	پوستول	.	.	.	

پښتو مصادر : (ول) والا

شماره	مستعمل مصادر	غیر مستعمل مصادر چه د مستعمل مصدر متمم دی			داشتقاق تفصیلات
۲۰۸	په څنګول	.	.	.	
۲۰۹	په رنګول	.	.	.	
۲۱۰	په یادول	.	.	.	
۲۱۱	تاوول	.	.	.	
۲۱۲	ترورول	.	.	.	
۲۱۳	تریخول	.	.	.	
۲۱۴	تریوول	.	.	.	
۲۱۵	تودول	.	.	.	
۲۱۶	تورول	.	.	.	
۲۱۷	تولول	.	.	.	

پښتو مصادر: (ول) والا

شماره	مستعمل مصادر	غیر مستعمل مصادر چه د مستعمل مصدر متمم دی			داشتقاق تفصیلات
۲۱۸	تویول	.	.	.	
۲۱۹	تېرول	.	.	.	
۲۲۰	ټکورول	.	.	.	
۲۲۱	ټولول	.	.	.	
۲۲۲	ټیټول	.	.	.	
۲۲۳	ټینګول	.	.	.	
۲۲۴	جارول	.	.	.	
۲۲۵	جختول	.	.	.	
۲۲۶	جګول	.	.	.	
۲۲۷	جوتول	.	.	.	

پښتو مصادر: (ول) والا

شماره	مستعمل مصادر	غیر مستعمل مصادر چه د مستعمل مصدر متمم دی			داشتقاق تفصیلات
۲۲۸	جورول	.	.	.	
۲۲۹	چاپېرول	.	.	.	
۲۳۰	چاودول	.	.	.	
۲۳۱	چپول	.	.	.	
۲۳۲	چنلول	.	.	.	
۲۳۳	چخپیتول	.	.	.	
۲۳۴	چیتول	.	.	.	
۲۳۵	چیختارول	.	.	.	
۲۳۶	چنکول	.	.	.	
۲۳۷	څرگندول	.	.	.	

پښتو مصادر: (ول) والا

شماره	مستعمل مصادر	غیر مستعمل مصادر چه د مستعمل مصدر اوی			داشتقاق تفصیلات
۲۳۸	خورول	.	.	.	
۲۳۹	خورندول	.	.	.	
۲۴۰	خانول	.	.	.	
۲۴۱	خپلول	.	.	.	
۲۴۲	خپورول	.	.	.	
۲۴۳	خرڅول	.	.	.	
۲۴۴	خروبول	.	.	.	
۲۴۵	خرول	.	.	.	
۲۴۶	خښول	.	.	.	
۲۴۷	خورول	.	.	.	

پښتو مصادر : (ول) والا

شماره	مستعمل مصادر	غیر مستعمل مصادر چه د مستعمل متمم مصدر دی			داشتقاق تفصیلات
۲۴۸	خورینول	.	.	.	
۲۴۹	خوږول	.	.	.	
۲۵۰	خوږول	.	.	.	
۲۵۱	خوښول	.	.	.	
۲۵۲	خیرنول	.	.	.	
۲۵۳	خیشتول	.	.	.	
۲۵۴	خینګول	.	.	.	
۲۵۵	ددول	.	.	.	
۲۵۶	دروندول	.	.	.	
۲۵۷	دندول	.	.	.	

پښتو مصادر: (ول) والا

شماره	مستعمل مصادر	غیر مستعمل مصادر چه و مستعمل متمم مصدر دی			داشتقاق تفصیلات
٢٥٨	دکول	.	.	.	
٢٥٩	دوبول	.	.	.	
٢٦٠	دېرول	.	.	.	
٢٦١	رانولول	.	.	.	
٢٦٢	راستونول	.	.	.	
٢٦٣	روږدول	.	.	.	
٢٦٤	روغول	.	.	.	
٢٦٥	رونرول	.	.	.	
٢٦٦	زرغونول	.	.	.	
٢٦٧	زورول	.	.	.	

پښتو مصادر : (ول) والا

شماره	مستعمل مصادر	غیر مستعمل مصادر چه د مستعمل مصدر متمم دی			داشتقاق تفصیلات
۲۶۸	زهیرول	.	.	.	
۲۶۹	زېرول	.	.	.	
۲۷۰	زېږول	.	.	.	
۲۷۱	رنګول	.	.	.	
۲۷۲	روندول	.	.	.	
۲۷۳	ژوبلول	.	.	.	
۲۷۴	سازول	.	.	.	
۲۷۵	سپکول	.	.	.	
۲۷۶	سپورول	.	.	.	
۲۷۷	سپینول	.	.	.	

پښتو مصادر: (ول) والا

شماره	مستعمل مصادر	غیر مستعمل مصادر چه و مستعمل مصدر متمم وی			داشتقاق تفصیلات
۲۷۸	ستومانول	.	.	.	
۲۷۹	ستونول	.	.	.	
۲۸۰	سنول	.	.	.	
۲۸۱	سختارول	.	.	.	
۲۸۲	سمبالول	.	.	.	
۲۸۳	سمول	.	.	.	
۲۸۴	سورول	.	.	.	
۲۸۵	سورول	.	.	.	
۲۸۶	سینگارول	.	.	.	
۲۸۷	ښکارول	.	.	.	

پښتو مصادر : (ول) والا

شمېره	مستعمل مصادر	غیر مستعمل مصادر چه دول مستعمل مصدر متمم دی			داشتقاق تفصیلات
۲۸۸	ښویول	.	.	.	
۲۸۹	غبرګول	.	.	.	
۲۹۰	غوبلول	.	.	.	
۲۹۱	غورول	.	.	.	
۲۹۲	غوندول	.	.	.	
۲۹۳	کرغېړول	.	.	.	
۲۹۴	کرکندول	.	.	.	
۲۹۵	کړول	.	.	.	
۲۹۶	کروېول	.	.	.	
۲۹۷	کږول	.	.	.	

پښتو مصادر : (ول) والا

شماره	مستعمل مصادر	غیر مستعمل مصادر چه و مستعمل متمم مصدر وی			داشتقاق تفصیلات
۲۹۸	ککرول	.	.	.	
۲۹۹	کلپول	.	.	.	
۳۰۰	کندوول	.	.	.	
۳۰۱	کونرول	.	.	.	
۳۰۲	گامول	.	.	.	
۳۰۳	گدول	.	.	.	
۳۰۴	گرانول	.	.	.	
۳۰۵	گرمول	.	.	.	
۳۰۶	گرول	.	.	.	
۳۰۷	گودول	.	.	.	

پښتو مصادر: (ول) والا

شماره	مستعمل مصادر	غیر مستعمل مصادر چه د مستعمل متمم مصدر دی			داشتقاق تفصیلات
۳۰۸	گوگول	.	.	.	
۳۰۹	لالهاندول	.	.	.	
۳۱۰	لتارول	.	.	.	
۳۱۱	لږول	.	.	.	
۳۱۲	لغرول	.	.	.	
۳۱۳	لندول	.	.	.	
۳۱۴	لندول	.	.	.	
۳۱۵	لورول	.	.	.	
۳۱۶	لویول	.	.	.	
۳۱۷	ماتول	.	.	.	

پښتو مصادر: (ول) والا

شماره	مستعمل مصادر	مستعمل مصادر چه د مستعمل مصدر روی			داشتقاق تفصیلات
۳۱۸	مالگنول	.	.	.	
۳۱۹	مخامخول	.	.	.	
۳۲۰	مرول	.	.	.	
۳۲۱	مسکول	.	.	.	
۳۲۲	مورول	.	.	.	
۳۲۳	نابودول	.	.	.	
۳۲۴	نسکورول	.	.	.	
۳۲۵	وچول	.	.	.	
۳۲۶	ودانول	.	.	.	
۳۲۷	ورانول	.	.	.	

پښتو مصادر: (ول) والا

پسکړه	مستعمل مصادر	غیر مستعمل مصادر چه دمستعمل مصدر متمم دی			داشتقاق تفصیلات
۳۲۸	ورپیادول	.	.	.	
۳۲۹	ورکول	.	.	.	
۳۳۰	ورکول	.	.	.	
۳۳۱	وروستول	.	.	.	
۳۳۲	وریتول	.	.	.	
۳۳۳	ولاړول	.	.	.	
۳۳۴	وورول	.	.	.	
۳۳۵	ویجاړول	.	.	.	
۳۳۶	وینبول	.	.	.	
۳۳۷	هارتول	.	.	.	

پښتو مصادر: (ول) والا

شمېره	مستعمل مصادر	غیر مستعمل مصادر چې د مستعمل مصدر تتمې دی			داشتقاق تفصیلات
۳۳۸	هسکول	.	.	.	
۳۳۹	هېرول	.	.	.	
۳۴۰	یادول	.	.	.	
	(ول) والا: هغه دول چې د فعل مادهٔ ئے صفت الیا مخفف د مفعول اسم لیا منسوب اسم نه وی				
۳۴۱	آرتول	.	.	.	
۳۴۲	آرول	.	.	.	
۳۴۳	آستول	.	.	.	
۳۴۴	آلوزول	.	.	.	
۳۴۵	آرول	.	.	.	

پښتو مصادر: (ول) والا ښه د ول چه د فعل ماده ئے صفت لیا مخفف و مفعول اسم لیا منسوب اسم نه وی

شماره	مستعمل مصادر	غیر مستعمل مصادر چه د مستعمل مصدر متمم وی			داشتقاق تفصیلات
٣٤٦	اوبول	.	.	.	
٣٤٧	اچول	.	.	.	
٣٤٨	بائول	.	.	.	
٣٤٩	برېښول	.	.	.	
٣٥٠	برچول	.	.	.	
٣٥١	بغول	.	.	.	
٣٥٢	بمول	.	.	.	
٣٥٣	بنګول	.	.	.	
٣٥٤	بنزول	.	.	.	
٣٥٥	بهول	.	.	.	

پښتو مصادر: (ول) والا

شماره	مستعمل مصادر	غیر مستعمل مصادر چه دمستعمل مصدر متمم دی			داشتقاق تفصیلات
٣٥٦	پاڅول	.	.	.	
٣٥٧	پارول	.	.	.	
٣٥٨	پرخول	.	.	.	
٣٥٩	پرزول	.	.	.	
٣٦٠	پرسول	.	.	.	
٣٦١	پزول	.	.	.	
٣٦٢	پسولول	.	.	.	
٣٦٣	پشول	.	.	.	
٣٦٤	پسرول	.	.	.	
٣٦٥	پوښول	.	.	.	

پښتو مصادر : (ول) والا

شماره	مستعمل مصادر	غیر مستعمل مصادر چه و مستعمل مصدر متمم وی			د اشتقاق تفصیلات
